مناظري

وېناوال

پښتون فردوسي

مير حيدر کندهاری

مناظري

ويناوال

پښتون فردوسي

ميرحيدر کندهاری

PROPERTY OF ACKU
12883

د چاپ حقوق د خپرندويي ټولني سره خوندي دي

د کتاب پېژندنه

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

د کتاب نوم	:: مناظرې
ويناوال	:: پښتون فردوسي ميرحيدر کندهاری
لومړی چاپ	:: ۱۳۸۳ لمريز کال
خپرندوی	:: د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رياست
کمپوز/ډيزاين	:: رشاد کمپيوټر اداره
کمپوزر	:: مطيع الله روهيال
چاپشمېر	:: (۱۰۰۰) ټوکه
د خپرونو لړ	:: (۱)
چاپچاري	:: صحاف نشراتي مؤسسه

بسم الله الرحمن الرحیم

دالی

ټولو
هغو ته چې
د دې کتاب په
غونډېدنه، کتنه، سمونه، اوډنه،
لیکنه او د چاپ لپاره په لاربښوونه او برخه
اخیستنه کښې یې زیار ایستلی او په مینه مینه
یې په دې لار کښې ستړیاوې ګاللې
او خولې یې توې
کړې دي

محمدعیسی "صاحبزاده"

یادونه او مننه

د اروانباد

میر حیدر کندهاري

د ادبي مناظرو همدا ټولګه چي

د پښتو ادب د ځلاندو پاڼو په لړ کښي د

ځانګړي ارزښت لرونکې ده، د کندهار د

اطلاعاتو او کلتور ریاست د سپـــــارښت پر

بنسټ د کندهار ولایت د مقام لـــــخوا په

ورکړه سوي لګښت سره خپره او ستاسو درنو

لوستونکو لاسونو ته د رسېدو جوګه سوه

چي په ډېر درښت ترې مننه کیږي

او د کنندهار ولایت مقام دغه

فرهنګي چوپړ د ستاینې

او قدرونې وړ ګڼم

په درښت

عبدالمجید بابی

د اطلاعاتو او کلتور رئیس

پښتون فردوسي میرحیدر کندهاری

F

فهرست

شمیر	سرلیک	مخ
۱.	د اطلاعاتو او کلتور ریاست یادښت	الف
۲.	د مناظرو په باب یو څو خبري	ب
۳.	د میر حیدر صاحبزاده پېژندنه	ه
۴.	د بیرغ او خېمې مناظره	۱
۵.	د پتنگ او شمعي مناظره	۳
٦.	د شرق او غرب مناظره	۴
۷.	د منشي او سپاه سالار مناظره	۳۳
۸.	د شپې او ورځي مناظره	۳٦
۹.	د غره او دښت مناظره	۴۲
۱۰.	د غنا او فقر مناظره	۴٦
۱۱.	د گلاب او نرگس مناظره	۵۳
۱۲.	د طبیب او منجم مناظره	۷۸
۱۳.	ویی ښود	۱۲۷
۱۴.	د محمدعیسی صاحبزاده څرگندوني	۱۳۱

د اطلاعاتو او کلتور ریاست یادښت

د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست ویاړي چې د خپل فرهنګي چوپړ په لړ کښې په دې توانېدلی شو د کتابي خپرونو په پيل کښې د دې سیمې د یوه وتلي او منلي پاړکیوال اروابناد میرحیدر کندهاري د دوی د مناظرو د ارزښتناکه پانو څخه د کلونو کلونو لوېدلي خاوري وڅنډي او د زیاتي زیار ایستني وروسته یې په چاپ لاس پوري کړي.

اروابناد میرحیدر کندهاری هغه هېر سوی لوی پاړکیوال دی چې خپلو خلکو او د ادب مینانو ته یې په پراخه کچه پاړکی ویلي او پرې اېښي دي چې په کړوالی کښې د دوی د مړیني څو کاله وروسته د هغوی د سپین ږیري زوی محمدعیسی صاحبزاده د ځانګړي لېوالتیا پر بنسټ د اطلاعاتو او کلتور ریاست د هغوی له منځه د څو پانو مناظرو، کتني، سموني او اوډني ته ملا وتړل او د دوو کلونو او شپږو میاشتو پرله پسې هڅو وروسته یې د پښتو ویی پانو سره یو ځای تاسو ته په چاپي توګه وړاندي کوي.

د اطلاعاتو او کلتور ریاست په پښتو ادب کښې د دغو ادبي مناظرو زیاتونه په زړه پوري ګڼي، او هیله لري چې د هغو په وړاندي کېدو او د درنو لوستونکو لاسونو ته په رسېدو سره به د پښتو ژبي د ادبي ځلښت په برخه کښې یو ګټور او پر ځای پل اخیستنه سوی وي.

د اطلاعاتو او کلتور ریاست به تر خپله وسه په همدې سپېڅلې لاره خپل یون نه دروي او په دې لاره کښې به پراته خنډونه په فرهنګي زغم سره په ورو ورو لیري کوي او بیا به د فرهنګیانو او فرهنګپالو په مرسته همداسي بل اوچت زیار ته ملا تړي. څو د همدې بري غوندي یې نور بریالیتوبونه هم په برخه وي.

په درناوي

د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست

د مناظرو په باب څو خبري

د دوو تنو يا دوو ډلو يا دوو شيانو تر منځ د يو او بل د اقناع يا الزام لپاره پر يوې ټاکلي او ځانګړي موضوع باندي بحث کول مناظره بولي. مناظره د ادب يو صنف دی. په مناظره کي زيار ايستل کيږي بحث د منطقي جدل تر خند (دائرې) ونه وزي په مناظره کي داسي هم پېښېږي چي د مناظرې يو يا دواړه پلوه داسي څوک وي چي د خبرو کولو توان او استعداد ونه لري خو شاعر يا ناثر د محاکات په توګه د حريفو مناظرينو له خولو څه وايي او يو پر بل باندي د هغو د فضيلت او لوړوالي دليلونه وړاندي کوي، په مناظرو کي دود دا دی چي يوه مناظره د يوه حريف په ګټه تماميږي.

مناظرې زياتره په نظم وي خو په نثر هم ځيني مناظرې سته، لکه: د جوهر الفرد، منيه اللبيب (۱) رساله الباديه، د عقل و عشق، د عقل و جنون او شمس سحاب مناظرې.

مناظره په ختيځ کي زړې ريښې لري، ويل کيږي "د درخت آسوريک مناظره" (د ونې او بزې مناظره) په اشکاني پهلوي ژبه ويلې سوې وه، بيا په ساساني پهلوي راواړوله سوه ـ په ايران کي د ساسانيانو پاچهي تر ۶۵۳ ع (۳۲ هجري قمري) پوري پايښدلې ده.

په عربي ادب کي د جرير او فرزدق مناظرې زړې مناظرې بللي کيږي، د عربي ژبي دا دواړه نامتو شاعران په ۱۱۰ هجري قمري کال مړه دي.

ويل کيږي چي پارسي مناظرې اسدي طوسي (۴۶۵ هجري قمري مړ) پيل کړي دي، د اسد طوسي مناظرې دا دي:

۱. مناظره شب و روز ـ دغه مناظره خوشحال خان (۱۰۲۲ ـ ۱۱۰۰ هـ ق) پښتو کړېده.
۲. مناظره مُغ و مسلم.
۳. مناظره نیزه و کمان
۴. مناظره آسمان و زمین
۵. مناظره عرب و عجم

په ترکي ادب کي هم مناظرې په پنځمه هجري سدۍ کي پيل سوي دي، وايي : د ديوان لغات الترک (د ۴۶۶ هجري قمري تاليف) مؤلف محمود الکاشغري د دوبي (اوړي) او ژمي مناظره لري، د دغي مناظرې ترکي نوم "ياز قېش مناظره سی" دی.

په پښتو ادب کي د مناظرو او مناظره ډولو شعرونو څرک تر څلور سوو کالو پخوا موږ ته معلوم دی. د پښتو ژبي لومړی معلوم دېوان لرونکی شاعر ارزاني خويشکی (۱۰۲۸ هجري قمري مړ) په دېوان کي د همج او بورا تر عنوان لاندي يو مناظره ډوله شعر ليکلی دی (۲)دغه مناظره په ۲۵ رباعۍ ګانو کي ځای سوې ده او د مضمون تسلسل پکښي خوندي دی. لومړۍ رباعي يې دا ده :

هر وجود يو صحرا دی
که فقير، که اُمرا دی (۳)
د هر چا يو وجود وينه
يو همج دی، بل بورا دی

د خوشحالۍ خبره ده چي د پښتو مناظرو لړۍ څلور سوه کاله پس د اروابښاد ميرحيدر صاحبزاده کندهاري (۱۴۰۷ هجري قمري مړ) د مناظرو په چاپ تر موږ رارسيږي ـ په دغه مجموعه کي د اروابښاد مير حيدر صاحبزاده نهه منظومي مناظرې چاپ سوي دي په دې ترتيب :

۱.	د بيرغ او خېمې مناظره	۱۸ بيته
۲.	د پتنګ او شمع مناظره	۱۳ بيته
۳.	د ختيځ او لوېديځ مناظره	۴۰۶ بيته

ad ج

۴. د منشي او سپه سالار مناظره ۳۳ بيته
۵. د شپې او ورځې مناظره ۷۲ بيته
۶. د غره او دښت مناظره ۵۱ بيته
۷. د غنا او فقر مناظره ۹۱ بيته
۸. د گلاب او نرگس مناظره ۳۵۲ بيته
۹. د طبيب او منجم مناظره ۶۹۶ بيته

د دغو نهو مناظرو د بيتو شمېر (۱۷۳۲) دی.

زه د دغي مجموعې له سره په کتنه، سمون، اوډنه او همدا رنگه چاپولو کي د کندهار د اطلاعاتو او کلتور د رئيس ښاغلي عبدالمجيد بابي ډېره توجه او د ښاغلي مطيع الله روهيال زيار د ستايني وړ بولم او د پښتو ژبي او ادب د زيات خدمت توفيق ورته غواړم.

اکاډيميسن پوهاند رشاد
۱ د حمل ۱۳۸۳ لمريز

پای ليکونه :

۱. وگ : نفحه اليمين باب الثانی.
۲. همج = گونگټه، دغه خزدکه له خُوشيو او گنگيو مرغتهاني جوړوي.
۳. د ارزاني په وختو کي اُمرا کلمه چي جمع ده، د مفرد په معنا (امير) کارېدله.

د میرحیدر صاحبزاده پېژندنه

ارغنداو د کندهار ولایت یوه لویه او سمسوره ناوه ده، چې د ارغنداو رود د دې سیمې د منځ څخه تېرېږي، او د خپل سخي پنځ پر بنسټ یې دا سیمه د زیاتي مودې راپدېخوا شین کړوم گرځولې ده. د دې رود په لوېدیځ پلو کښې په یوې ایستل سوي ویالې باندې چې د جوی لاهور په نامه یادیږي یو لوی کلی ودان دی. په دې کلي کښې د پخوا څخه د نورو میشتو پښتنو تر څنگ یوه لویه پښتنه کورنۍ میشت ده، چې د دې ځای په اوسېدونکو کښې په ستانه پښتنو سره پېژندل سوېده، د دې خلکو په اړخ کښې یو سپېره کلی د ژوندو د هدیرې کلی دی، چې پر ټوله غولې یې د بولان د لوی او مشهوره کارېز د کوثري اوبو منگولي ښخي دي، د دې کارېز څښتن د کندهار د مشرانو او سپین روبو وتلی مشر او سپین ږیری خدای بخښلی عبدالله بابی دی چې د لوړ درشل شهید حبیب الله د واکمنۍ په مهال کښې یې د ارواښاد میر حیدر صاحبزاده کندهاري د تره ارواښاد عبدالکریم صاحبزاده سره د کړي ژمني پر بنسټ د همدغه واکمن څخه د ځانگړي غوښتني له مخي د جوی لاهور د ویالې د ایستلو او پر هغه یې د دغو پښتني کورنیو او دې سیمه کښې د نورو خلکو د پراخ مېشتېدو او استېدو په لاره کښې د دوی سره د پاملرني وړ پېرزویني کړي دي.

نوموړی عبدالکریم صاحبزاده د خپل مهال ډېر تکړه عالم تېر سوی دی چې د اولس د بېلابېلو پرگنو په منځ کښې د درنښت څښتن و.

لکه خپله چې میرحیدر صاحبزاده وایي :

زما تره د وخت عالم او باوقار و
سکونت د ده په ښار د کندهار و

خدای بخښلی میرحیدر صاحبزاده کندهاری د عبدالکریم صاحبزاده په اړه خپله وینا په شعر باندې داسې زیاتوي :

ده امـــــــیر حبیب الله ته وه ویلي
دا زما قوم او خپلوان دي ډېر نتـــلي
ده منشي د خپل حضور وو ته نظر کی
جوی لاهور د کندهار یې ورله ورکـــی

د جوی لاهور پر ویاله د همدې میشتي کورنۍ په وروستیو نوموتو او وتلو سړیو کښې یو هم پښتون فردوسي میر حیدر صاحبزاده کندهاری دی چې د کندهار ــ هیواد او سیمي د لویو شاعرانو څخه بلل کیږي.

اروابناد میر حیدر صاحبزاده د خپل ځان د پېژندني په اړه ویلي :

تخلص مي حیدري نوم حیـــــدرشاه دی
په ناظم سره شهرت زما شاوخـــــوا دی
تالیفات که مي پوښتې یو [یوه] شاهنامه ده
د پښتو ژبي یو [یوه] ستره کـــــارنامه ده
چې مي وکی دې تالیف ته یو وار عـــــزم
اویا زره بیته ما کړه سره نـــــــــظم
چې مي مخ یو وار په خوا د دې میـــدان کړ
د پنځو زرو کلو حال مي بیــــــــان کړ
د طوسي احـــــوال او نور چې وو څه پاته
ما بیان کـــــــــړه نه سو ټکی راڅه پاته

اروابناد میر حیدر صاحبزاده کندهاری د خپل ژوناته په بهیر کښې په لسونو زره بیتونه په پښتو ژبه د همدې ژبي د ادبي بډاینې لپاره وړاندي کړي او ویلي دي. نومړی د خپلي وینا له مخي د نن څخه یو سل او اووه کاله دمخه په ۱۳۱۸ لېږدیز سپوږمیز کال د شوال المکرم د میاشتي پر څوارلسمه د شنبې په روغ زېږېدلی دی. دا مهال پر هیواد باندي د عبدالرحمن خان د واکمنۍ سیوری خپور ؤ.

لکه صاحبزاده میر حیدر کندهاری چي وایي :

زر درې سوه اتلسم کال د هـــــجرت ؤ
ورځ شنبه وه د ظهرې دغه ســـاعت ؤ
زه پیدا وم څوارلســـــمه میاشت شوال ؤ
د امیر عبدالرحمن خان پر ملک حکومت ؤ

hs lala

د پورته شعر څخه څرګندېږي چې مير حيدر حيدري د لوړ درشل عبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال په کټواز کښې زېږېدلی دی.

د دغه لوی شاعر او ستانه پښتون پلار خدای بخښلی فيض الله صاحبزاده نومېدی او همدغه فيض الله صاحبزاده بيا د يوه بل لوی او ستانه پښتون زوی ؤ چې مهتر موسی صاحبزاده نومېده چې زيارت او ډورې يې د مقر د ولسوالۍ په لو چوله کښې ده او خلک يې و سپېڅلي زيارت ته اوس هم ډلې ډلې ورځي او د ولی ښتن ﷻ څخه د ده د سپېڅلتيا او بزرګۍ له مخې ښېلا ښېګې غوښتني کوي.

ارواښاد حيدري د ژوندانه په يوولس کلنۍ کښې د خپل پلار د پلرنۍ مينې او تودې غېږې څخه بې برخې سوی دی، لکه چې وايي :

زر درې سوه نهه ويشتم کال د هجرت ؤ
زما د پلار مرحوم جنت لره رحـــلت ؤ

هو ! مير حيدر صاحبزاده د پلار تر مړيني وروسته بيا د سفرونو څپو را په مخه کړی او د دې سفرونو په لړ کښې يې لومړی ځل تنۍ د شاه جوی د سيمي د سريزو په کلي کښې پرانستی دي په دې اړه خپله ميرحيدر کندهاری داسي وايي :

چې تر دوولسو کلو زه رسېـــــــدمه
لا په دغه کټواز کې اوسېـــــــدمه
بيا پنځه کاله شاه جوی زما وطـــــن ؤ
په قريه د سريزو کښې مې مسکـــــن ؤ
سريزي دي د جعفرو څه يو کـــــــلی
د دې غره ټټر دوی ځانته دی تــــاکلی
چې خوښ کړی ما دا ځای په سکونت ؤ
په دې ځای زما د نيکه مرحوم زيارت ؤ

همدا ډول د مورنۍ خپلوۍ په اړه ميرحيدر حيدري وايي چې زما د مور پلار شېرعلي اخوندزاده نومېده چې هغوی د همدغه سريزو په کلي کښې امامت درلود او د هغه تر مړيني وروسته د ده ماما د همدې کلي امامت پر غاړه اخيستی دی، دا چې د ده د مور پلار او ماما په دې خلکو کښې ډېر درنښت درلود نو يې ده ته هم په درنه سترګه کتل او د مير حيدر يې ډېر خيال سانه، لکه چې وايي :

زما نیکه د دغو خلکو مــــــــــقتدا ؤ
د دې کلي امــــــــــامت زما د ماما ؤ
ماتې هم په ډېره ښه ســــــــــترگه کاته وه
په عزت مې له دې ځــــــــــایه راواته وه

اروانښاد میر حیدر تر پنځو کلونو پوري د سربزو په کلي کښې استېدلی دی وروسته نوموړی د خپل ژوندانه په غوړېدلي پړاو یانی اتلس کلنۍ کښې د همدې سیمې ځخه کوچېدلی او د لوی کندهار و لویې غېږې ته یې د تللو لپاره شاعرانه سپېڅلی زړه په درزا سوی دی، و کندهار ته د راتگ سره سم یې د ارغنداو په ولسوالۍ کې دجوی لاهور پر وياله د خپلو مشرانو پر مېنه واړوله، او د خپلو شعرونو زباته برخه یې هم د کندهار د دغه سمسوري او غوړېدلي ناوې په همدې سیمه کې ویلې ده، نوموړی وایي :

اتلسم کال ؤ د سن زما راغــــــــــلی
بیا دم خوا د کندهار ته ځني تــــــــللی
میشت سوم زه د ارغنداو په جوی لاهور کې
ښه باغونه ښه وياله لرم په کـــــــور کې

یا لکه میرحیدر حیدري چې د خپل کور او کلي په اړه دا ډول ویلي دي :

کور او قوم وا که یې نوم ستا په کار دی
ځای یې ښه ترا معلوم چې کندهــــار دی
سید آباد چې مشهور په جوی لاهور دی
د داغه کلي په منځ کي د ده کـــــور دی

د میر حیدر کندهاري د لويي کورنۍ نور سړي د ډېر دمځه ځخه لا پر همدې جوی لاهور .... وه خو د کورنۍ نور ښاخونه یې آن تر اسمعیل خان دېرې پوري رسېدلي دي دا ځکه چې د دې کورنۍ پخوانیو نیکه گانو په لري او بري پښتونخوا کښې کوچیانی تگ او راتگ درلود. میر حیدر صاحبزاده دلته د خپل راتگ ځخه ډېر خوښ او خپله دغه مېنه او تاڼوبی ښکلی او د ستاینې وړ گڼي. هغه د خپلو دوستانو او خپلوانو ځخه منه کوي چې د ده چارچاپېر کښې یې و هغه ته هر مهال د پت او قدر په سترگه کتلي دي، هغه وایي :

عزیزان خپلوان په ما گرد ورد پراته دي
په عزت د لوی او کــــم راته کاته دي

هو ! د میر حیدر صاحبزاده د خپلوانو او د دوی تر منځ د اړیکو دا تودوالی د غوایي د کودتا په رامنځ ته کېدو سره د منځه تللی او د اروانباد میرحیدر صاحبزاده کله د خپلو میلونونو خلکو غوندي د گران هیواد د درنې غیږي څخه لیري سوی او د کړوالتوب سختتو شپو ورځو یې د ژوندانه خوښۍ او د خپلوانو د مجلسونو گرمۍ یې تر هغه مهاله له ستوني نیول سوي چي دې لوی او نومیالي شاعر د هیواد څخه دباندي د پخواني افغانستان د کوټي د سیمي په لورلای کښي د نن څخه ۱۳ کاله دمخه په ۱۳۷۰ لمریز کال کښي د ۹۳ کلونو په عمر په پردېسۍ او کړوالتوب کښي سا ورکړه. (انا لله و انا الیه راجعون) اروا دې ښاده وي (آمین)

لکه مخکي چي مي وویل اروانباد میرحیدر حیدري کندهاری په زرگونو زرگونو بیتونه ویلي چي هغه په بېلابېلو برخو او ډول ډول مسایلو په اړه دي.

د دې بیتو لویه برخه یې تاریخ جوړوي چي یوازي یې احمدشاهي تاریخ لسونو زرو بیتونو ته رسیږي، چي د هیواد د تکړه لیکوال، لوی پوه، مؤرخ، څېړونکي او ژبپوه پوهاند علامه عبدالشکور رشاد لخوا د زباني مودې زیار وروسته د سمون تر پولي رسول سوی او د دوی په وینا همهلته خوندی دی، د میر حیدر حیدري په لسونو زره نور بیتونه د بېلا بېلو موضوعاتو په اړه په لاندي ډول وېشل سوي دي :

۱. د عربو تاریخ : (د همهغه پیل څخه د صفاري یعقوب تر مهاله، د بیتونو شمېر یې (۶۰۰۰) دی، د لیکلو ځای او نېټه یې کندهار، ۱۳۴۰ لمریز کال.)

۲. انساني ښېگڼي او ناخوالي : (د بیتونو شمېر یې (۱۵۰۰)، د لیکلو ځای او نېټه یې کندهار، ۱۳۴۵ لمریز کال.)

۳. فقه : (د بیتونو شمېر یې (۷۰۰)، د لیکلو ځای او نېټه یې کندهار، ۱۳۲۰ لمریز کال.)

۴. د انسان د پېري (بدن) په اړه څرگندوني : (د بیتونو شمېر یې (۱۵۰۰)، د لیکلو ځای او نېټه کندهار، ۱۳۲۳ لمریز کال.)

۵. د بېلا بېلو مسايلو په اړه : (بيتونه (۱۵۰۰۰) [چي اوس يې يوازي ۶۵۰۰ بيته پاته دي] د ليکلو ځای او نېټه کندهار، ۱۳۴۵ لمريز کال.)

همدارنګه اروابناد صاحبزاده مير حيدر حيدري په شاعرانه نوښت سره په سوونو سوونو بيتونه د مناظرو په ډول ويلي دي چي د دوی مناظرې په لاندي توګه يادوم :

۱۰. د بيرغ او خېمې مناظره	۱۸ بيته
۱۱. د پتنګ او شمع مناظره	۱۳ بيته
۱۲. د ختيځ او لوېديځ مناظره	۴۰۶ بيته
۱۳. د منشي او سپه سالار مناظره	۳۳ بيته
۱۴. د شپې او ورځې مناظره	۷۲ بيته
۱۵. د غره او دښت مناظره	۵۱ بيته
۱۶. د غنا او فقر مناظره	۹۱ بيته
۱۷. د ګلاب او نرګس مناظره	۳۵۲ بيته
۱۸. د طبيب او منجم مناظره	۶۹۶ بيته

د دې شاعرانه او منظومو مناظرو د ويلو او ليکلو مهال يې هم ۱۳۴۶ کال او د هغه څخه څه مخکي او څه وروسته کلونه ښودل سوي دي. اروابناد مير حيدر حيدري د ده د لوړي او لوبي شاعرۍ پر بنسټ د هغه مهال د واکمنو له لوري وخت په وخت ستايل سوي او وياړل سوی دی. چي دغه پېرزويني په لاندي توګه يادوم :

(۱) په ۱۳۳۳ لمريز کال کښي د مير حيدر ته د واکمنو له لوري ورکړي :

(الف) : يوه ټوټه بګړۍ د لوړ درشل محمد ظاهرشاه له لوري.

(ب) : يوه کره کُړۍ (ساعت) د لوړ درشل محمدظاهر شاه له لوري.

(ج) : يوه دانه قلم د لوړ درشل محمدظاهر شاه له لوري.

(۲) په ۱۳۳۶ لمريز کال کي :

(الف) : يوه ټوټه چپنه : د لوړ درشل محمدظاهر شاه له لوري.

(ب) : اتلس زره ۱۸۰۰۰ افغانۍ د لوړ درشل محمد ظاهرشاه له لوري.

سربېره پر پورته څېزونو او د واکمنو له لوري د هغه د لوبي شاعرۍ څخه د ستايني په دود ورته يوه اندازه مځکه هم په لاندي ډول ورکړه سوې ده :

(۱) ۱۳ جریبه او څو بسوې د کښت لومړۍ درجه مځکه ورکول، د کندهار د صوف په سیمه کښې د لومړي وزیر شهید سردار محمد داود خان له لوري (۱۳۳۳ لمریز کال)

(۲) ۳۶ جریبه او څو بسوې د کښت لومړۍ درجه مځکه ورکول د کندهار په نهر روضه کښې د لومړي وزیر شهید محمدداود خان له لوري (۱۳۳۳ لمریز کال)

د ارواښاد میر حیدر حیدري پر مېنه اوس د ده زوی محمدعیسی اخوندزاده اوسي چې د پلار د حُجرې څراغ یې بل ساتلی دی.

ښاغلي محمدعیسي اخوندزاده که څه هم زیات ناتوانه او عمر یې د اتیا کلونو څخه لا هم تېر دی د (۲) تېرو کلونو را پدېخوا د اطلاعاتو او کلتور ریاست ته که هر ورځ نه وي د اونۍ زیاتي ورځي راغلی او د خپل پلار د ویل سوو شعرونو، منظومو، متلونو او همدغو مناظرو اوډن پر مهال چې چاري یې ما (عبدالمجید بابي) مخته وړي د هغو د ویلو په برخه کښې ډېره لویه مرسته کړې ده.

او دا د دوی لېوالتیا او سترېا وه چې د خپل ارواښاد پلار د شعرونو دغه برخه یې د چاپ تر درشله ورسول. زه د دوی دې لوړي لېوالتیا او پراخ زغم څخه مننه کوم او هم ورته د لا اوږده او روغ ژوندانه دوعا کوم، او ور ګڼم چې په دې ځای کښې د قلمي نسخې څخه د دغو شعرونو د بیا لیکنې په برخه کښې د ښاغلو مطیع الله خان روهیال او عبدالقیوم خان مینه وال زیار ایستني او سترېاوي وستایم او ورته کوروداني ووایم. نور به درانه لوستونکي د ارواښاد میر حیدر صاحبزاده کندهاري د مناظرو و لوستلو ته رابولم. او د دوی په دغه وینا سره به :

که دا ستا په رحمت زما خوا ته نظر سي
د ګناه دفتر به پاک د میر حیدر سي

د دوی د پېژندني پاني پای ته ورسوم او په ګډه به یې د لویه خدایه ﷻ د سپېڅلي اروا د لا خوښوني غوښتنه وکړو.

عبدالمجید بابی
د کندهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس

متن

١

د بیرغ او خیمې مناظره

یوه ورځ زما په ځان کې چورت او خیال ؤ
د بیرغ او د خیمې سره جنجال ؤ
د بیرغ داسي خیمې له خطاب ؤ
دا خطاب یې په کاوړ او په عتاب ؤ
زه او ته یو د ټولواک غلامان دواړه
ته سوکه، زما له ستړیا وي وچه ناړه
له گرزو د لاري، رنځه له رکابه
اوس قشله زما د جند گرزي خرابه
د توپک ، توپو، گولیو زه نښان یم
له درزا له غُره هاري زه پرېشان یم
نور عالم وي ټول تر ما وروسته او غلي
غلیمان صورت زما په گولو ولي
مخامخ وي د غلیم توپک توپونه
له اسمانه طیارې کوي وارونه
په هر وخت کښې غم زما خواته موجود وي
مداماً مي په گرزو سپیره وجود وي
تا نه رنځ لیدلی دي نه دي وارونه
نه د غشو په ځگر هم گناهونه
چي قدم زما دتا تر خدمت تېر وي
راحت ولي دتا زما تر راحت ډېر وي
وي په غېږ ستا کي خوبان پري رخساره
د وصال مجلس ډېوې وې تر سهاره

ستا پـه غـېـږکي غوړيـدلي سـرې غالـىٰ وي
زمـا پـر جنـد سـره پرهارونـه دګولـىٰ وي
خـوري پـه تـا کـې ورجـي غـوښي کبابونـه
پـر مـا بانـدي وي د سـرو لمبـو وارونـه
اشـنايان پراتـه پـه تـا کښـي غـېـږ پـه غېـږ وي
پرمـا بانـدي د غلـيم د ګولـو غرېـږ وي
ستـا پـه غېـږ کښـي مشـعلونه پـه شـپه بـل وي
پـر مـا بانـدي د غلـيم اورونـه بـل وي
خيمـه وايـي دغـه سـتاله خودبينـىٰ وي
زمـا سـر پـر پـاى دري دکمينـىٰ وي
مالـه خپلـي کمينـىٰ ده فايـده وړې
ستـا لـويي ده دخـوارىٰ برخـه درکـړې
بېهـوده چـي سـړى غـاړه لوړوينـه
افتونـه بـه راتـګ ورتـه کوينـه

❁❁❁

۳

د پتنګ او شمعي مناظره

يوه ورځ مي چرت و خيال بند په خپل ځان وو
د پتنګ شمعي ته دا ډول ګريان وو
زه عاشق يمه که سوځم خو روا ده
ستا له څه حيثه مدام سون او ژړ اده
په ټټر زما کښي بل تل د عشق اور وي
ارام نه لرم مدام مي شر و شور وي
ټول عالم در څخه خوښ د زړه له کومي
ا ودا سرې اوښکي پر سپين مخ دتا درومي
په ځواب کښي شمع وايي اى دلداره !
اى زما شيرينه ياره وفاداره
زه يې وينم جوړ وجود ته زما غم سي
شيرين يار زما انګبين د هغه کم سي
دغه شات چي له وجوده زما بهيږي
د فرهاد غوندي مي اور په صورت بليږي
ورکوي دغه جواب وه ريږديدلې
پر سپين مخ باندي يې اوښکي اوريدلې
په دې حال کښي يې پتنګ لره خطاب ؤ
دا ويل يې په کاوړ او په عتاب ؤ
اى د عشق مدعي ستا څرنګه کار وي
نه کړې صبر نه دي زما په څنګ کرار وي

۴

ته یوې شغلې د اور یې تښتولی
ما تر پایه وي تن سره اور ته نیولی
ستا به اور د عشق در سوی یو وزر وي
زما بل مدام داغه سور اور پر سر وي
ستا کوثر نه وي ټول سوی بېله ړوی
زه له سره تر پښو ټوله ویلې سوی

❁❁❁

د شرق او غرب مناظره

خاطـــــرو شـــخه مــــــي دا ډول بيـــان دی
يـــو وخـــت شـرق د غـرب پـه خـــوا بـاندي روان دی
پـه دې تـګ كـښې د شــــرق دا طـــــور كـــار و
ورســـــره خپـــل لـــوی هـــمـــت زاړه آثـــــار و
تـر ښـارو تيـــر ســو د ښتونـــې وه پـــرې كـــړي
تـر غـــرو واوښـــت ډيـــر يخونـــه يـــې تير كـــړي
پـــه ســـړو، خـــړو اوبـــــو ګـــــډ د رودو وو
وړی لـــوی زحمـــت د غـــــرب د رسېدو وو
ســره يـــوځـای چـی ســوه دغــــه تـوتــې كـښلـي
لــــه ســلام پـــس وه دا دواړه كښېنــســـتلي
شـــرق پـــه ډيـــر شـبابت، او وريــن تنـدې بــــاندي
خپـل اخـلاص، مـحبـت د غـرب مـخ تـه كـی وړانـدي
او هغــــه آثـــار اسنـاد ډيـر كـــه قـلـــيـــل وه
چـی ددې شــــرق پـــه رفـعـت بـانـدي دليــــل وه
دا اسـناد يـــې وه پـــه خپـل مـخ كـښـی نيـــولـــي
دايـــې هـم وه د غـــرب مـــخ تـــه بـــرېښـــولـــــي
بيـــا لاهـــم غـــرب وو يـــــو داســی كـــبـــر وړی
فقـــط هســـــي يـــې جـــواب وو بيــــــا ور كـــړی
نــــور يـــې نــــه كـــړئ روغبــــړ او محبـــت وو
كـــــه وُ هـــم خـــــاص د بڼـــو پــــه اشـــارت وو
دا مېلمـــــه معــــزز درونــــد پرلګيـــــدلی
نـــه يـــې وو پـــه هـــيـــڅ درنـــه ســترګه كتلـــی

کښېښـــولی یـــې دا درونـــد مېلمـــه پـــر مځکـــه
هـــیڅ تکـــریم او احتـــرام د مېلمـــه نـــه کـــه
نـــه یـــې خیـــال وکـــی د دې شـــرق پـــه هیبـــت کښـــې
نـــه یـــې چـــرت ســـو د اســـنادو پـــه رفعـــت کښـــې
نـــه وایـــي چـــې دا مېلمـــه یـــو عالیشـــان دی
او لـــه ډېـــره لیـــری ماتـــه را روان دی
نـــه یـــې کـــړی لـــه دې شـــرقه هـــیڅ بـــاز خواســـت وو
پټـــه خولـــه پـــه کبـــر بانـــدی ورتـــه ناســـت وو
پـــه تعظـــیم او پـــه تکـــریم ددې مېلمـــه کښـــې
نـــه څـــه وایـــي نـــه یـــې وو پـــه اندېښـــنه کښـــې
شـــرق چـــې ورو ورو د دې غـــرب احـــوال تـــه گـــوري
پـــه دې پـــوه ســـو پـــه نـــه ســـترگه راتـــه گـــوري
پـــوه ســـو شـــرق کـــه تـــه ونـــه پـــوښتې نومـــوړی
نـــه بـــه وی غـــرب پـــه کلـــو لـــه تاســـوال کـــړی
نـــو شـــرق دا وه پـــه کـــاوړ بانـــدی ویلـــی
مازحمـــات ډېـــر دی ددې ســـفر لیـــدلی
ســـوم پـــه دې ســـفر کـــې ډېـــر ســـتړی ســـتومانه
او اوس ســـوم پـــه دې راتـــگ بانـــدی پښېمانـــه
او مـــوږ خیـــال پـــه دې ســـفر ؤ داســـی کـــړی
د مشـــقت عـــوض بـــې مـــوږ تـــه وی راکـــړی
نـــه مـــی ولیـــدی عـــوض کـــې مـــی پـــرې کـــړې
لاس تنهـــاکی مـــخ ســـپیره چـــاودې پکښـــې کـــړې
د دې ملـــک آســـمان تیـــاره ســـخت یـــې بادونـــه
د اولـــس پـــه زړو یـــې دې پراتـــه گردونـــه
چـــې مـــې ولیـــد رابنکـــاره ســـو خـــام یـــې کـــاک دی
هـــیڅ شـــک نســـته ددې لانـــدی بیـــت مصـــداق دی
لکـــه ډول هســـې آواز لـــوړ او عـــالی وو
چـــې مـــې ولیـــد میـــان، تښـــر دده خـــالی وو
نـــو کـــه کـــړی مـــا ړومبـــی دا فکـــر پـــاس وای
لـــه زحمـــت څخـــه ددې ســـفر بـــه خـــلاص وای

٧

مگر دغه لوی سفر ډک له زحمته
خالي نه بولم هیڅ وخت بې اهمیته
دلته پورته سوه له مخه حجابونه
وربښکاره سوه ځني ځني پټ حالونه
وي ویل هر څو که زه ستړی پدې سوم
ځینو ځینو اسرارونو باندې پوه سوم
او د غرب لباس د طلسم زما جانه
دادی ما په دې راتگ وایست له میانه
په دې وخت یواری غرب ؤلټېدلی
اما بیرته ؤ په خپل ځای کښینستلی
له خبرو د دې شرقه داسې وړ سو
ریږد اخیستی مخ یې تک سور په کاوړ سو
نسوای هیڅکله غرب دغه کار زغملی
وه یې دا طور مېلمه لره ویلی
د مسافرو خو به خوی عادت دا شان وو
د گټور خوی او عادت به ښښتنان وو
له ادبه څه به نه وي هیڅ وخت لېري
ته کوې ولې بې ځایه دا خبري
ولې داسې له کاوړه قهره پُر یې
ځان ته خیال کوه په څه داسې مغرور یې
امتحان مخته په څه د جنگ اورونه
بلوې ، ورکوې سیال ته پېغورونه
ته نو کوم عظمت، همت په ځان کښې وینې
چې کوې داسې خبري تکې سپیني
او پیدا کړی د عظمت حق تا له کومه
غرور مه کړه ستا پیړی ده را معلومه
له عظمته دې د تن متن مارا دی
ایښې خوشي تا په ځان نوم غمبارا دی
که دې هر څو صورت تر ما لوی یو په دو دی
خو خالي دي د اوړو څخه کندو دی

چې جوال دچا خالي وي له خر پته
هغه نکړي د غرور خبره غته
چې ته نه لري د اړخ تغر کمبله
لوی په کوم دلیل ته ځان بولې له بله
شرق ویل ته دي پخپل ځای کښې کښېنه ګله
بدلوه مه د دنیا مکان هیڅکله
ما چې ویل د مناظرې به کوو سیل
خو تا وکئ په ښکنځاوو ماته پیل
ته به نه لرې روښي سترګي په سر کښې
فضائل دی همګی زما په ځګر کښې
دا خبره چې مشهوره په جهان ده
چې ایشیا د فضائلو فضل کان ده
سترګي وخورې زه بیخي ښکلې لیلا یم
د ړومبو او دورو ستو مرجع ملجا یم
زه د ټوله دنیا غوره یم او ښکلې
د آدم نزول په ما کښې دی راغلې
زما ټوټې وتلی دی په دې دنیا کښې
سماوی ادیان وارد دی ټول په ما کښې
چي زما له غیرې زیږي هغه شهر دی
زما ادب مشهور او خیر می ډیر دی
زه په دې کومه فخر او مسرور یم
چې په ښو خویو ادابو لا مشهور یم
اهالي به زما مدام دغه رقم وه
خاوندان به د سخا او د کرم وه
له غلیمه بې میدان و هر وخت وړی
قول وعهد یې خلاف هیڅ وخت نه وٌ کړی
همیشه به وې په بریښ کښې زما توري
تل به وی د غلیم میندي له ما بوري
زما له توری به مدام مات دښمنان وه
په اثر ددې د پراخ ملک څښتنان وه

تجاوز که چا زمونږ پر حیات کړی
ځما عسکر به وو دستی هغه مات کړی
دی بې مات کښې مال کالي بې غنیمت کړه
د عسکر رعیت په میان کې بې قسمت کړه
که به ؤ تقدیر پر مونږ باندي لوړ کړی
زما عسکرو به ځان مرگ ته وو ورکړی
زما پخوا اهالی زښته شجاعان وه
توریالي، چابک د لوی زړه خاوندان وه
د خوړلي غرب به څنگه سترگي تاسي
له عدمه زما کوښښ علم را باسي
څنگه ژر دي بیا له تا څخه هیر سوي
علما لوړ لوړ په ما کښې دی تېر سوي
زما لوی جند واړه جهان ته تماشه وه
ما روزلي ډیر لوی لوی فلاسفه وه
په اوراقو د تاریخ کښې رقم دا دي
ړندې سترگي ځما له فضله څه بینا دي
دا خبره لواړ جهان لره ښکاره ده
وړاندی هر خیر په لاس زما پوره ده
باید دا دي تا په زړه باندی لیکلې
لار د علم ما ده تاته درښوولې
په توتي ستا کښې نه علم نه حکمت وو
زما لخوا دی لارښوونه هدایت وو
زما له اوره دی پیلوځی دی ایستلی
ځکه ته یې لوړ مقام ته رسېدلی
زه د علم فضل یم کوټه معموره
علماء فلاسفه مې دي مشهوره
ولی نن ورځ ده له تاڅخه خبر ورکه
د نهال ستا ده له ما څخه مندکه
نن چې علم دی په تا کښې برېښېدلی
پرورښت د علم ؤ له ما موندلی

تـــا دئ نـــن ورځ لـــه تيـــارې ســـر را لـــوړ كـــړی
گنـــه دا علـــم دی تـــا لـــه مـــا زده كـــړی
زه پـــه دې غربـــه لـــه تاځـــه خپـــه گـــف يـــم
اوس كـــوې دعـــوه چـــې زه عـــالم عـــارف يـــم
او هغـــه چـــې دې پـــه تـــا كښـــې لـــه دې بابـــه
ايســـې ماتـــه گـــواكې يـــو غـــوړپ لـــه دريابـــه
زه دريـــاب يـــم تـــه يوجـــام يـــې زمـــا لـــه نهـــره
ايســـې ماتـــه يـــو ملـــت لـــه ټولـــه دهـــره
تـــه گـــرم نـــه يـــې فقيـــر وې داســـې نتلـــی
لـــږ شـــې وې پـــه تعجـــب كښـــې اچـــولی
تعجـــب زه يمـــه دې بـــاب كښـــې تاتـــه وړی
د تســـلط قصـــد تـــا ځنگـــه تـــا دی ماتـــه كـــړی
تـــه يـــې لويشـــت زه ميـــل لا بـــه كمـــه ستا تنـــه وي
تـــا بـــه كـــړې پـــه مـــا ځنگـــه احاطـــه وي
كـــه دا ســـتا كمكـــې وجـــود وي درگـــې درگـــې
ســـې ســـور مـــرچ تـــريخ بـــه نـــه كـــړي زمـــا ستـرگې
كـــه ســـې مـــرچ او ســـترگو زمـــا تـــه يـــې لويـــدلی
ســـترگو زمـــا بـــه پـــر تـــا رپ نـــه وي وهلـــی
كـــه دا ســـتا تنـــه ســـې ټولـــه رانجـــه وروره
لابـــه نـــه كـــړې زمـــا يـــوه ســـترگه را تـــوره
كـــه دتـــا تـــريخ وجـــود ټـــول وي ســـره سوســـتی
لابـــې هـــم ماتـــه نيـــږی نـــه وي راوســـتی
مـــه كـــوه زيـــاتې خبـــرې خوشـــې ډيـــرې
ســـتا مشـــهور آثـــار بهتـــر اعمـــال دې چيـــرې
او كـــه تـــه كـــړې دا گومـــان چـــې زه د بخـــت يـــم
يـــو لـــه لويـــو علمـــاؤ څـــه د وخـــت يـــم
خوشـــې تـــه پـــه بناگـــانو د خپـــل غـــولې
ځـــان لـــه لويـــو منديســـانو څخـــه بـــولې
دا دتـــا وخـــت ټولـــه ماتـــه دی معلومـــه
مكـــارم اخـــلاق نشـــه خـــوې دا ســـتا لـــه كومـــه

نـــه دی ســـتا طبـــي عـــرق هيچـــا ليـــدلی
نـــه پـــه خپـــل عهـــد يـــې تـــه هـــيڅ ځـــای دربـــدلی
کـــوم قريـــب تـــه ور پـــرې يبنـــې تـــا دانـــه ده
تـــا کـــوم اړ لـــره ورکـــړې اعانـــه ده
کـــوم ميلمـــه تـــه تـــا ورکـــړی هـــر کلـــی دی
کـــوم ســـترخوان کـــوم دی کاســـه کـــوم دی نغـــری دی
کـــوم خـــوار ســـتا پـــه کـــور کوتـــه کـــی دی مـــوړ ســـوی
ســـتا پـــه مـــال بانـــدی دی کـــوم قريـــب خـــلاص ســـوی
نـــو تـــه وواپـــه ســـتا کـــوم علـــي همـــت دی
چيـــری ســـتا د شـــرق پـــه شـــاني شـــهامت دی
چـــې ســـايه نـــافع پـــه تـــا کـــې وی معدومـــه
نـــو بـــه وي علـــم عمـــل دتـــا لـــه کومـــه
مـــا کـــړه پـــوه چيـــری دتـــا شـــرف رفيـــع دی
او پـــه څـــه شـــي وروره دا ســـتا عـــزت منبـــع دی
خبـــر نـــه يـــم چيـــري ســـتا بحـــث شـــديد وو
او پـــه کـــوم ځـــای کـــي دي خيـــال فکـــر ســـديد وو
کـــوې هســـي تـــه خبـــري تـــر ځـــان تيـــري
شـــرايع عادلانـــه دا ســـتا دي چيـــري
پـــه مظلـــوم بانـــدی تـــه چيـــري ژړيـــدلی
پـــه شـــاکی بانـــدی تـــه چيـــري کړيـــدلی
کلـــه ســـتا پـــه ملـــک کبنـــی عـــدل د عمـــر وو
کلـــه ســـتا د نـــو شـــېروان غونـــدي نفـــر وو
چيـــري ده دا ســـتا ډلـــی د عالمـــانو
کلـــه تـــا کـــاوه تـــوپير د مشـــرانو
ســـتا عســـکر د شـــجاعت وو چـــا ليـــدلي
لـــه تـــا کـــوم غليـــم پـــه شـــا بانـــدی وه تللـــی
اوس پـــه مـــا کـــوې لـــويي وا عاليشـــان يـــم
بـــولې مـــا مځکـــه تـــه وايـــې زه آســـمان يـــم
اغوســـتو ددې جـــامو نـــوو کـــړې داســـي
ورځ پـــر ورځ بانـــدې غـــرور کبـــر را باســـي

ته چې زما زړې خيرني جامې وينې
په اوبو کښې سي خوله راته د ننې
خو چې ستا زما له خوا درانه بانه دي
که کالي څيري هډونه مې درانه دي
ته کوې خيال زما په سپين تبر او نسل
خوار به يم د فصل نه يم خوار د اصل
موږ ليدلي دي دا ستا ډېر فسادونه
هم راباسې ملک کښې راز راز بد خويونه
طبيبان دي وي عاجزه له علاجه
له تازيږي امراض داسې بې رواجه
په شرابودي عالم دئ اخته کړي
په عقلو کښې دې خلل دئ پيدا کړي
متکبرين دي پيدا کړي داسې شان دي
اوس منکره له وجوده د سبحان دي
چې تا کړي په اسراف بې باکې زور وي
دتا په ملک باندې پلو د افلاس خپور وي
ليداى نسواى هيڅوک خير ستا په باغ کښې
غورځوې وسواس د خلګو په دماغ کښې
چې ورځې يو ملک ته تاوي هغه کړي
دوى دې وى په کږو لارو امر کړي
څوک دې مور څوک دې ميرې کړي شاوخواته
په نفاق باندې قوه کړې د قام ماته
ته نه ګورې د انصاف او عدل لور ته
رذيلان کړې په اشرافو باندې پورته
په هيواد کښې کړې رواج بد بد خويونه
ورته ورکړې د شرابو بوتلونه
آموخته په دې شرابو کړې وګړي
نور دي هم وى بد خويونه رواج کړي
چې هر ارخ باندې ما يې اړولى
نه دى خوى احسن په تا کښې ماليدلى

له بدې جوړ یې نیکي څخه پر شایې
ته په کمه ژبه ماته جواب وایې
درښوولې چې مې تاته دا ښه ده
ستا له بدو یوه دغه نمونه ده
پټهوای نسې دا بد دي درګي
او که ستا خیال وی چې شرق نه لري سترګي
دا د شرق قوه د عقل تر تا لو ده
ستا په پټهو او ښکاره بدیو پوه ده
نو که اوس ګټهې دا زما لوړی اشدي
زما خبری په واضح بیان که ردي
غږه وه مه له جوابه څخه غاړه
دعوه تل وي په برهان دلیل ولاړه
دلته شرق وه په هټ هټ باندی خندلي
په غرب باندی دواړه لاس وه ټکولي
څرخیدلي په یوه پښه باندی ښاغلي
وې ویل ما په غرب رفعت خپل دی منلي
شرق کړی تیر دا لوړ بیان له دې رقمه
غرب و ناست بې اضطرابه او بې غمه
سوکه ناست و نې ښکنځل او نې کاوړ ؤ
فکر خیال یې په جواب د غلیم اړ ؤ
چې څو شرق تیر کړی دا بیان وحال و
په غرب باندی یې راغلی داسی خیال و
په قوی دلیل زه سومه لکه ستوری
درولی مې په غرب دی د تګ لوری
غرب کوي جواب د ده دا طور جانه
ای د ډېر کبر خاونده او مهمانه
ته په خپله پخواني لویي خطا یې
نن وتلی له هغه وړاندي عطا یې
چې سپیره ځای ستا له تندي څخه خلاص سو
بضاعت دولت بدل ستا په افلاس سو

که ته وای خبر د خپل قوت له هډه
بیا به نه کولای تا خبره ډډه
که دا ستا پر خپل سرتور سر باندي خیال وای
لڅو پښو یا څیری ګیدي ته دي خیال وای
چي په ځان کښي تا خیال کړی وای لته
بیا به نکړای تا خبر د کبر غته
که تا یو وار دا خپل جیب وای تش لیدلی
تا به سر د خجالت وای ځړولی
دا چي تا دي دا اعوان را رهي کړي
یا زاړه اسناد تا ماته دي راوړي
چي لیدلی تا دا زما نن ورځ حالت وي
دا به ستا له پاره ډیر لوی خجالت وي
که روند نه وای او لیدای تا حال نوموړی
نه به وای دا مشقت تا پر ځان وړی
دغه ستا باطل حجت ته چي زه ګورم
د جواب له درکېدو څه دي ځان ژغورم
چي ته یې داسي جاهل له هره بابه
نه به داوي چي دي کښېنم له جوابه
که په جند ستا کښي د عقل څه اثر وای
یا دا نور اعوان دا ستا په حال خبر وای
چي دوی زما دا تلسم قرن لیدلای
تفاخر به یې په ما څنګه کولای
او که ستا خیال، ګمان تللی شاوخوا دی
زما د قام تېر لا پخوا دا دی
ګوله ته پوري کوي په زړه زومنه
نن خو نه لري د خپلو شېدو تومنه
وایي زما د آس پخوا توپ داسي شان دی
راسه وروره دغه ګز دغه میدان دی
دغه ستا ډیره لویي همداسي شی ده
خلګ وایي لوی یې مه بوله سپي سپی ده

مه کوه شرقه تېری تر حد یا حول
راسه واوره د شاعر دا لاندي قول
انسان زوی دی د هغه دم پکښې وی
د پرون ورځي ویل به بې فایدې وي
په زړو هډوکو فخر کوې ولي؟
او هم وینې د کمال زما لمبې بلي
لټوې له قبرو ولي مړه پلروته؟
ښه کوې په اوبو تللي خوشي زړونه
رښتیا فخر د هغه چي د کتن وي
چي په خپله څوک د لوی کمال څښتن وي
بولم زه هغه ویل عبث او پرته
چي څوک نسي د خپل پلاړ کمال تر گوته
زه اوس څرنگه تا پوه کړمه زوی مړې
د تجار آله ده چا در ښکاره کړې؟
ته خبر یې چي اوگوټ چا دی جوړ کړی؟
په اوبو د دریاب چا دی رهی کړی؟
بیا خبر نه یې ددغه کار له سره
چا رهی کړ په دریاب کښي بې خطره
چا میخ کړی د سپیرې مځکې چکر دی
په چوکو کښي د گاډی د چا سفر دی
ته خو یو واري نظر پخپل ځان وکه
چا کش کړیدی سړک په سپیره مځکه
کښلي چا په دې سړک باندي خواری دي؟
رهي کړې چا پر ده موټر لاری دي؟
چا بگی ده ستا لپاره جوړه کړې؟
چا موټر لاری ده تا لره درکړې؟
چا پر مځکه دي مېخونه لوی وهلي؟
چا په دوی باندې تارونه غوړولي؟
ته خبر نه وې له خپله کوره وروره
منا خبر کړی په دې تار له هره لوره

هر هوښيار ماته په دې خبر تسليم دی
را ايستلی ما دنيا ته تار بی سيم دی
زما سپېره مخکه رونه، آسمان می صاف ده
مطبعه جوړه په کور کښې زما د چاپ ده
چې ما دا کمال دی لاس ته راوستلی
ټول جهان مې د زحمته دی ايستلی
ناخبره شرقه ته په ځان او کور يې
ځما له لوري د مرغه پر کوثر سپور يې
چې کښېنلی ما په دې طياره زيار دی
يو په لس يې تر مرغه چټک رفتار دی
دا دی وينې يې بدخواه ځما اوښکومی
په هوا د آسمان مخکی تر ميان درومی
ستا د خونی جوړيدن ته کلمې پرې وي
ځما يوه يوه بنګله سل طبقې وي
له پنبه وځه ته پټ نکړی خپل غړي
له وښو يې ما وريښمين کالی رغ کړي
څه به وو ايی چې ځما دا جواب کسي
يو دليل به د ښکنځاوو پر ما نيسي
ته کوسی له وړو نسې رغولی
ما له منه وړيو شپږ تا نه اوبدلی
ستا چرت بند په دې خپلو ګوډو ماتو
پټو ي سترګي له دې نوو آلاتو
زه د نوو کتابو يمه لوستونکی
او د دې نوو آلاتو جوړونکی
څوک چی زما له پټه حاله څخه حالی وي
زما له خپلو شتو او ملک څخه کالي وي
دا زما زړه هسې بيدار سترګي رونې دي
زما په جيب کښې پرتې هر وخت سپينې سرې دي
د همت رسی دا ستا ګنه شليدلې
دتا جيب نده يو وخت پيسه ليدلې

را معلوم به ستا د کار پوره درک وي
ستا قومونه مداماً تیت او پرک وي
زما زړه سواندو خلکو تا شفقت کړی
ستا له جنده څخه دوی مشقت کړی
ؤ په تا کښي لوی لوی غرونه او ډبري
په دې غرو کښي نه وې لاري لر و بري
تا درلود رودونه لوی خو بې ولو وه
ستا خورک به د ګازرو او جوارو وه
ستا د ملک و فقط لوی ډاګونه خاوري
نې درلودې په هیواد کښي پراخي لاري
ما چي و همت دا ستا ملک ته در وړی
دغه وران ملک مي دا ستا دی آباد کړی
د رودو ملاوي دي ما کړې په کار خمي
لوی بیلې دي پر ډاګو کړې ما ورسمي
کوتلان د لویو غرو دي ما در پیت کړه
سړکان مي په دښتو او غرو کې تیت کړه
عاقلان په دې خبر باندي خبر دي
له دې تورو غرو دي ما ایستلي زر دي
بنایان چي زما د ملکه در وتلي
لوی قصرونه یې دي تاته در وهلي
چي یو واري مي لاس پوري ستا په ښه کړ
د عمران او تمدن کار مي در زده کړ
ما جدید علوم دي تا له ره در وړي
ستا په خلګو یې جبراً دی تول زده کړي
ستا اولادو ته مي وکړی خدمت داسي
دروازې د مدرسو مي کړې ور خلاصي
تعلیمونه د پوهانو ما دي کړي
بې عوضه مي زامن ستا مهذب کړي
ستا احتیاج ما په هر وخت دی رفع کړی
په سختي کي مي کومک وي تل درکړی

په سختي کښې زه در وړونکې د غلو یم
بیا چې مور سې بیا دې زه ځای د ګیلو یم
شرقه! هسې ورک دا ستا څخه درک دی
ما درکړی په مال څو ځله کومک دی
څو څو واري مې مور کړی په غلو یې
ما ډېر واري ته ساتلی په سرو یې
که مې هر څو وي پوځی کومک درکړی
څپلې ګنډ مې هم له تا څه نه وي وړی
او ته هم په دې خبره پوه یې لته
چې زه یم دا ستا لپاره خیر وګته
نسته شک زه د نجات ځای یا خېمه یم
واوره دا زه د اصلاح منبع چینه یم
او ته غواړې چې را مړه زما اعمال کړې
چې له دې کاره اصلاح زما انکار کړې
ولې وي دې خوا بدې ته اول میل
بیا دې وکړ په ښکنځا او کاوړ پیل
راسه زما په ورورګلوي باندې لاس کښېږده
د جګړې او د جفا خویونه پرېږده
زه دا ستا صمیمي ورور او په زړه سم یم
په یاري او ورورګلوي ولاړ محکم یم
ورته تیري چې کړې دا خبري کلکې
غرب په دې وخت په لاسو وکړې چکچکې
ده چې ویل وې نښتې په دغه ناړې
باندې وې وهلې دلته کلکې تاړې
شرق چې و دا وروستي تکې اورېدلې
په غرب باندې وه په پرک باندې خندلې
ولې شرق په داسې ډول لرو بر وو
د باطن په پټو حالو یې خبر وو
نو یې و ویل غربه ته یې یو زوی مړی
حلاوت د ژبې تا ته دی درکړی

۱۹

چمبازي ده ستا لا زياته تر ګيدړي
په کار تښته ده دا ستا له ژبي غوړي
د مقصد په وخت کښي ستا دغسي څواک وي
ملايمه ژبه نرمه د اخلاق وي
او چي بيا پېښ ستا په دې دوست مصيبت وي
ستا له ليوري بيا په ده باندي شدت وي
د فرصت په وخت کښي تا وي حلم وستی
انتقام دي وي له دې دوسته اخيستی
چي تنګي او يا ذلت دي سړی کسي
په دې وخت بيا آشنايان تر ستونی نيسي
خوی خاصيت به ستا په مثل د لړم وي
در نژدې چي سي هغه درڅه کړم وي
نو دوستي خپلوي دا ستا ده بې باوره
عاقل نکړی اعتماد په تا له سره
يې دښمن صورت دي د دوست وي را ايستلی
زموږ په منځ کښي دي نفاق وي اچولی
ناپوهان هر ځای دي ستا دوستی نتلي
څو څو واره تا له يو غاره چيچيلي
په اول کښي دي خواستونه او هيلې وي
په روستاړ کښي دي وهلي زموږ پلې وي
د رښتونی دوست په نوم کوې تل داسي
غدر چم فتنې مدام موږ ته راباسي
او په هر وخت چي وي تا چوله موندلې
تا ضيقت، تنګي په موږ ده راوستلې
تا د مار په شان اغوستی پوست نری وي
په دې ښه رنګ دي وهلی بيا سړی وي
ای د لويي تواضع، خضوع ښتنه
کوې هيله ته تر څو زما له وطنه
بولم زه دا هيله ستا زياتي بې ځايه
چي وا خورم به يې پدې غدر تر پايه

تـه پـه مـوږ کـوې هغـه چـې دي وس وسـي
لکـه وايـي چـې کـوږ نسـته بيـا يـې نيسـي
يـار پـه داسـي غـدر ځـان را لانـدي باسـې
چـې سـم تـږى پـه سـراب مـې خطـا باسـې
او تـه بـه يـې مـوږ تـه خپـل احسـان وافـره
غـواړې دا چـې تـه کـړې مـوږ د ځـان شـاکره
نـه يـې زمـوږ ملـک تـه راغلـى مگـر دا کـړې
چـې زمـوږ هسـتي نيسـتي را ځخـه غـلا کـړې
غـواړې دغـه چـې زمـوږ مالونـه جلـب کـړې
او علـوم فنـون زمـوږ را ځخـه سـلب کـړې
دغـه سـتا سـودا گـري مـوږ تـه بـلا ده
نـه يـې بـولم تجـارت گـواکي دا غـلا ده
زه پوهېږم تـه پـه دغـه کـار کښـې دا کـړې
غـواړې دا چـې زمـوږ هسـتى متلاشـا کـړې
تـه کـوې د خپلـي گټـې پـه حيـث داسـې
تجـارت زمـوږ لـه منځـه ځخـه باسـې
ولـى سـتا خـو ده پـه مـوږ گټـه ناپايـه
شـکرانه دي وي پـه مـزد بانـدي دوه گرايـه
خـوراى نسـي ځـوک دا سـتا دوډۍ يـا پاسـتي
ولـي تـه خـو درنـوې تـر تبـر لاسـتي
تـا پـه دغـه نامـه خپـل کـار دى پـراخ کـړى
ربـا سـود دي وي پـه ملـک زمـا کـې ويـر کـړى
دا چـې تـه د سـود پـه نـوم بـولې دا زيـان دى
زمـا ملـک تـه مصيبت او لـوى نقصـان دى
د بـداى اركـان دي دې سـود نـړولي
حجـابونې د حيـا دي ور خيرلـي
چـې سـړى گـوري دې سـود تـه پـه دې نحـوه
غريبـان او مسـکينان دي تولـه محـوه
ممـالکو اركـان دوى دي نـړولي
پـه تنگدسـتي کښـې دي ملکونـه اچـولي

زه دا ستا تر راتګ وړاندي داسي شان وم
له دې وارو حاسدانو په امان وم
زما خاطر له قيل وقاله ؤ بېغمه
داسي نه ؤ چي هستي وه زما کمه
پيسه ډېره وه د ژوند اسباب کامل وه
برکت او خير زما خوا ته شامل وه
زما اولاد ټول متفق و يو له بله
بې اتفاقي يې پخپل ژوند نه پيژندله
خوی عادت زما د اولاد په کښت کيدن وه
په کرلي بې غنم جوار يا اوړدن وه
نه وه ستا په شان له کبر و لويي غرقه
وه غنم او جوار په دوی باندي بې فرقه
دوی پنبه په خپله مځکه وه کرلې
جامو خپلو ته بې سويې را ايستلې
بيديده په داسي شان زما دلبره
سر تې ښووه د بالښت پر ځای ډېره
کين حسد نه و د زړو سره ګډون وو
په خوشحاله خوشحالي باندي ژوندون وو
کشر مشر ته کتوونکی په عزت وو
د لويانو په کمکو بيا شفقت وو
ايښې ټولو وه د خدای طاعت ته غاړه
په طاعت او عبادت لګيا وه واړه
راتګ ستا مورې ته په شان د مېړيتون وو
نه دي ټک نه دي خرپ نه دي کوټون وو
که هرڅو دي سيمه زمونږ او ورشو پوده
وسوسه مو ستا له خوا څه نه درلوده
خو چي بيا زمونږ د ملک په کارو بار سوې
بيا هغه ميريتون نه وې ښيا ښا مار سوې
هو تا کړې مدرسو لره اقدام دی
نه دی دا مکتب دغه دي لومه دام دی

تــا چــي دغــه مکتبونــه دي جــوړ کــړي
زمــوږ مفيــد درســونه تــا دي پــر بنــد کــړي
زمــوږ گټــورو کتــابو تــه دي جــوړ چــل کــې
پــه جيولــوژي ســيولوژي دي رابــدل کــې
تــا کــړه دا رنگــه نومونــه مــوږ تــه وړانــدي
چــي د خــداى لخــوا هــيڅ دليــل نســته وربانــدي
دغــه ســتا جديــد علــوم چــي ســړي کســي
د هيچــا پــه ثمــر بانــدي بــه ورنــه ســي!
چــي د زړونــو يــو د بلــه څــه پريکــون دي
نــو دا څنگــه علــوم څنگــه تمــدن دي
زوړ محکــم کــالي اوس تاســي دي تــرک کــړي
لبــاس نــوى مــو دى ځــان تــه غــوره کــړى
تيــل ســوه پاتــه پخــواني څــراغ تــه مــو شــاه کــړه
پــه بريښنــا بــرق مــو کوټــه خپلــه رڼــا کــړه
چــي پيــدا دي زمــوږ ټــوټي لــره خپــل وار کــې
زمــوږ پــه ميــان کښــي دي نفــاق شــقاق غوغــار کــې
پــه نفــاق کښــي دي غوغــار کــړه زمــوږ وگــړي
ښــه اخــلاق دي دي زمــوږ را فاســد کــړي
پســله هغــه دي زمــوږ کورونــه چــور کــړه
خورجينــان دي پــه طــلاؤ روپــو پُــر کــړه
نــه ســوې عــذر تــه د دې کــار لــه گټونــه
بيــا دى ليــري يــو لــه بلــه کــړه زمــوږ زړونــه
خيــر يــوو ړتــا لــه مــوږ ځانتــه دي کښيښــود
شــر ضــرر دي پــه بــدل کښــي راتــه پريښــود
چــي پــر وکــول شــرق دا پورتــه وارونــه
بانــدي ټــک يــې وهــل دلتــه غبــرگ لاســونه
ده ول ســو خبــر لــه خپلــه رازه دلتــه
بيــا بــه نــه کــړي ســر راهســک لــه خجالتــه
پــه دې وخــت کښــي نــرم ســوى د غــرب رړغ ؤ
لــه دې لــوړ حالــه د شــرقه څخــه ســتوغ ؤ

ورته وې ويل اې زما ښايسته دوسته
نه دې وينم د سر ماغزه له پوسته
زما احسان دې همگي واړه ترشا کې
په فصاحت سره دې خپل مقصد اداء کې
ما چې ويل ته مې زيارت لره راغلې
خو تا ؤ مقصد جگړې ته نښلولې
که زه پوه لومړی ستا په دغه کام وای
ستا جواب به موافق ستا د مقام وای!
ستا د قهر او کاوړ په کليماتو
په ترخو او په شديدو عباراتو
ته په دې چم باندې ژر غالب مغلوب کې
طريقه او صورت د بحث ورمقلوب کې
تا ويل هرڅه چې دې غرب ما لره راوړي
هغه واړه سياست دې د نوموړي
په دې گاى باندې دې راکړه ماته
نور نو هيڅ حاجت جواب ته نسو پاته
چې په دې احسان هم ستا وي سينه تنگه
زه له تا سره احسان وکوم څنگه
ما وې مال له ملکه ستا لره دروړی
ته، وا زما دې دی ثروت را څخه وړی
جوړه کړې چې ما تاته مدرسه وي
ته وايي همه غمونه بې ميوه وی!
ما اسباب وي د راحت تاته راوړي
ته وا، دا دې دی دوږخ راښکاره کړی
که در وړې ما ستا ملک ته کارخانه وي
ته وا، دا به وطن زما لره فتنه وي
که زه وايم زه ستا دوست يمه په غم کښې
ته وا، ته يې زما سره په چم کښې
که زه در وړم باسيکل ستا تر غولي
ته هغه د شيطانکی په نام بولي

PROPERTY OF ACKU 12883

اې مغروره! تـه پـه دې کـار کلـه شـک یـې
یـو پـه شـر او دښمنـي کښـې شـرقه کلـک یـې
زه دې یـم لـه سـپین سـترګی څـه نـړولی
او زمـا نـه ؤ ګمـان پـر تـا راغلـی
زیـاتی زه تاتـه هیڅکلـه طغیـه نـه کـړم
سـتا جـواب بـه پـه معقـول خبـره وکـړم
هغـه تـه چـې بانـدې فخـر کـوې ویـاړې
هغـه دې زرې جـامې خیـري رېـاړې
تـا تېـر کـړی عمـر تولـه پـه شـبخون وو
جـامې خیـري لـڅ لپـړ تـنګ دې ژونـدون وو
سـتا اولاد د ډېـر کـم علـم ښښتنـان وو
پـه غـارو او پـه نغمـو کښـې یـې ګـذران وو
مـا لـه صـورته څـه سـتا وکښلـې ګـدلي
دا زرې مـې کـړې پـه نـوو در بـدلي
سـتا د ښڅـو پـه جـامو مـې اداء وس کـی
تـور قمـیص یـې مـا بـدل پـه سـره اتلـس کـی
د وړو خولـی بـه وړانـدې سـتا د سـر وي
اوس سـتا دپـاره فـاج او یـا تیسـر وي
وړانـدې سـتا اولاد چـاروغي کښـاوې کـړې
ور پـه پښـو مـا ښـه بوټونـه او مـوزې کـړې
درڅـه وکښـې مـا دا زرې ګـدلي
سـتا تنګـی مـې پـه پراخـی کـړې دربـدلي
چـې مـا در وړه هیـواد سـتا تـه علـوم نـوي
خاونـدان د ذهـن سـتا دې پیـدا سـوي
اوس نـه ګـورې سـتا زاړه حـال تـه لـه خیالـه
خبـردار سـو د املاکـو لـه احوالـه
مـا تـل سـتا پـه اولادو شـفقت تـام کـی
د لغـاتو معرفـت مـې پکښـې عـام کـی
مـا لغـات ډېـر دې پـه دوی بانـدی زده کـړې
د انسـانیت پـه لـوی سـړک مـې دې سـم کـړې

دوی ویشتي پخوا پخپل لسان ډبري
اوس په هره ژبه باندي کړي خبري
اوس نو ته خیال په دې خپل تېر کي وکه
د پخوا سره خپل حال مقایسه که
په اکثرو ژبو پوه په داسي کار سوه
د دنیا له سیاسته خبردار سوه
د تدبیر په لار کښي دوی دي دربېدلي
پخپل خیر او ضرر دوی دي پوهېدلي
له پخواني جهله بدعته دي وتلي
په قاعده د تمدن دي پوهیدلي
آیا دغه زما احسان به د دې وړ وي
چي ستا لخوا په ما باندی کاوړ وي
آیا دغه لوړ جمیل صفت زما ښکلی
باعث ستا د دې وینا وي گرځېدلی؟
آیا دا په تا واجب نه وه زما لاله
چي د زړه له کومي وای له ما خوشحاله
چي زاړه سړي دي واړه شو په شو دي
زامن نوي دي ځښتن د ښو خویو دي
خبر سوي په احوال د ټول جهان دي
په ښه لار په ښه رگی باندي روان دي
شرقه! ده ستا څه لار د احسان ورکه
کړې د جهل و د کاوړ خبري ځکه
ته د کوم خرق العادت امر ځښتن یې
او که ته خاوند د ښه اباد وطن یې
ما خو نه ولیدی ستا له خوا هیڅ فیض
په څه باندی دي زیاتیږی ماته غیظ
چي زه در ورم کمیني ستا و لور ته
دتا نفس سي فالحاله ماته پور ته
زیاتي ته هغه جگړه او جدال پرېږده
راسه پل په لار د عدل باندي کښېږده

که زه پرېږدم ستا دوستي خبر کم لواړه
بیا به ستا د ژوند کارونه وي ویجاړه
زه نه غواړم چې وي تا ازار لیدلی
او نه ما دي په تاله ستا درتللی
او چې ما ډیر خیر په تا وي لورولی
ځکه زه وم هیواد ستا ته درغلی
دا هم وایمه که ته پوره انسان وای
نو به ستا له خوا یا شکر یا احسان وای
په عوض کښې ته ښکنځل او یا ګیلې کړې
زه دي پلار ژاړم ته زما د خولې پېښې کړې
ټکولی یې عبث شرقه په سر یې
ګڼه زه ستا بادار ته مې نوکر یې
شرق چې دا لفظ له ده و اورېدلی
له کاوړه یې مخ سور و ګرځېدلی
ورته وویله شرق چې ای بوقلمونه
ته لرې خاص د شیطان غوندې چمونه
تا څو واري اړخ شدید را ګرځولی
زه دي یم په کوړم د غم کښې غورځولی
ته وا وروره زه وام دا ګای بې رښتیا وي
راته کښلي دي تر پښو لاندې یو څا وي
راښکاره کړې شفقت په لومړي سر کښې
د بدۍ خیال دي وهلی وي ځګر کښې
چې زه ګورم ستا کارو ته بېله پدره
خالي نه دي یو کار هم ستا بیله غدره
تا ویل چې زه درځمه ستا ولور ته
زه در وړم نفع او خیر ستا وکور ته
داسې نه چې دا یو نفع زه لرمه
شر ضرر به ستا له کوره دفع کړمه
تا ویل زما په درتګ کښې دی دا حسر
یو تعمیم د علم بل د علم نشر

در کومـــه د اخلاقـــو تهـــذیب وروره
باسـم زه شـقاق نفـاق دا سـتا لـه کـوره
وايـم تاتـه اې محبـه د احسـانه
اې پـه ټـول عـالم د ژبـی مهربانـه
زه لـه تـا يـم پـه دې خبـره ګيفـه
وي سـتا ژبـه خـو لـه قولـه مخالفـه
پـه خولـه تـا ماتـه جوړ کړی يو شين بـاغ دی
زه چې ګـورم ټولـه ګـای دا سـتا درواغ دی
چـا راغـوښتی يې زمـوږ ملـک تـه ای شريره
چې دا زوږ عـادت زمـوږ کـړی را تغيـره
څـه واجـب او څـه دا سـتا پـه ځـان و
چـی لـه مـا سره تـا کـړی دا احسـان و
مـوږ پوهيـږو پـه تـا بانـدي اې غـداره
نـه دی کـړی تـا يـو کـار د خـدای لپـاره
سـتا راتـګ لـه وسيلې څخـه جـلا ده
مـدعا سـتا زمـوږ لـه ملکـه څخـه غـلا ده
سـتا د هغـه اسـيوان پـه شـان کانـه وي
چې پـه مـزد بانـدې دوه ګرايـه شـکرانه وي
تـه اول مـوږ تـه خـادم او يـا نـوکر سـې
بيـا د لـوړې علاقـې لـوی خوټـور سـې
پـه اول کـې پـرې کـوې لـه ننګـه متـی
وروسـته سـې سـنيرلی د روی وکـړې خـوټې
بيـا نـو واړوې خپـل حـال او سـپاره پلنـه
لکـه سـوی کـوې پـه هـر کـال نـوې کونـه
او راباسـې هـره ورځ نـوی غمونـه
بانـدی ږدې پـه هـر يـوه ګـوښی نومونـه
تـه دعـوه کـوې چې زه دغسـې شـان يـم
زه مـين پـه منـافع واو عمـران يـم
مـا چې هرڅـه دي سـتا کـار لـره کتلـي
نـه مـې دی بې کذبـه هيـڅ درکښـی ليدلي

خیـــر هغـــه چـــي تـــا مـــوږ تـــه وي راوړي
تـــا زمـــوږ پـــه دښمنـــی کښـــی دی صـرف کـــړي
تـــا چـــي ۇ تعلـــیم د ژبـــي مـــوږ تـــه کـــړی
زمـــا زامنـــو نـــه دی هـــیڅ هغـــه زده کـــړی
فقـــــط زده یـــــي قلبلـــــه او جلبلـــــه ده
بـــل یـــي وړي لـــه تـــا څـــه استفاده ده؟
پخوانـــی ژبـــه د دوی تـــا پـــه هیـــره کـــړې
نـــوې ژبـــه یـــي هـــم هـــیڅ نـــه ده زده کـــړې
چـــی تـــه راغلـــي زمـــوږ ملـــک لـــره لـــه واره
هنگامـــــه د حریـــــت دي کـــــړه غوغـــــاره
وربنکـــاره خوشـــي مخلـــوق تـــه تـــا عنـــوان کـــی
پـــه دې غـــدر دي حـــر وینـــم تـــا غـــلام کـــی
کـــه دی ۇ همـــت یـــو چـــا لـــره وروړی
لکـــه مـــار بیـــا دي هغـــه ملـــک وي تبـــر کـــړی
تـــه لـــرې پـــه خپلـــوی کښـــي دغـــه عـــزم
چـــی مالونـــه د خپلوانـــو کـــړې پـــر هضـــم
پـــه چـــم غـــدر کښـــي زمـــا وروره هـــره خـــوا کـــړې
یـــي زرگـــر چـــی دي گـــینې د لـــوره غـــلا کـــړې
چـــی وروړی هـــر هیـــواد تـــه تشـــریف تـــا وي
اهـــالی د ملـــک پـــه لـــوږه مبـــتلا وي
ولـــي تـــه د تمـــدن ویـــل پختـــه کـــړې
اهـــالی ژر پـــه اصـــرافو آموختـــه کـــړې
کمـــال نـــه وي چـــی پـــر پتـــه کـــړې تـــه ختـــه
وې باســـي لـــه آلومـــړي رواج او رتـــه
دا ســـتا کـــوم شـــفقت تـــا کـــړی پـــر مـــا ده
او شـــړلې تـــا لـــه مـــا کومـــه بـــلا ده
ژر لـــه مـــا څخـــه تـــر لاســـه تـــه خپـــل کـــام کـــړې
د بگـــړی او چـــادری دي احتـــرام کـــړې
غـــوړی ژبـــي وي دا ســـتا هیـــواد نتلـــی
تـــر تـــاثیر لانـــدي دي ملـــک وي راوســـتلی

کم ته تا وی او د کبر اور بل کړی
د لوی نور دي وي د فکر ور مړ کړی
د نفاق تخم دی کړی را کښې پړېمانه
اتفاق، الفت دی وایست زموږ له میانه
ته وایې چې در څه وکښې ما گدلي
ستا زړې مې کړې په نوو دربدلي
وزي زموږ هغو زړو جامو ته وانې
ولې وې زړې جامې زموږ د میراني
په زړو جامو کښې زموږ کرم سخا وه
په وعده او قول باندي منو وفا وه
که څه هم ستا په جامو کښې زیب زینت دی
خو په میان کښې یې سستي او کسالت دی
چې په دې نوي جامو دي آموخته کړو
په گناه او مصائبو دي اخته کړو
آموخته چې دې په دغه لوبلا کړو
په تنگي او په بلا دي مبتلاء کړو
لنډه دا چې موږ دي کړو بیده غافله
سلطه دي کړه وځان له ره حاصله
دلته تا د حرص وخواته هڅه کړې
زموږ هستي دي تولـه وه په خوله چخلې
تیره وله چې دي دغه گوله غوړه
موږ دي کړو اخته د خپل کور په جگړه
که ما هغه احسانات چې ما دي کړي
په حضور ستا کښې یواری ما خپور کړي
خجالت به زړ وخوري د دې خبري
که دي هر څو وي زړه تور سخت له ډبري
دغه علم دی موږ تا لره درکړی
زما له اوره دي پیلو ځی دی بل کړی
ته دي پوه یې په لومړی سر یا له واره
په ضنایع علومو ما کړې خبر داره

تـا تـول کـړی بیـا لـه دې شـی ضـروری ده
بانـدی کښلـې بیـا دا سـتا اولاد خـواري ده
زه استـاد تـه مـی شـاگرد سـوې پـه دې کـار کښې
تـر مانـه یـې لومـړی تللـی پـه دې لار کښې
چـی بـه لـوړی هجـوم تاتـه و دروړی
مـا و ډیـر ځلـه کومـک درسـره کـړی
پـه قحـط لـوړه کښـی بـه سـتا داسـي حیـات و
دا سـتا ژونـد بـه مـداماً زمـا پـه خیـرات و
ولـی نـه یـې خبـر تـه لـه دغـه کـاره
اسـتادان وي پـه شـاگرد بانـدي حقـداره
تـه دعـوه کـوې چـی زه در عـدن یـم
د اختـراع او علومـو زه ښنبـتن یـم
او دعـوه کـوې چـی زه د اصـلاح کـان یـم
د فـلاح او د خلاصـوالي زه دوکـان یـم
او زه شـرق پـه ښـو خویـو بانـدي مسـرور یـم
او پـه ښـه عـادت د لـواړی دنیـا دُر یـم
سـایه سـیوری مـی نـافع دی ډیـر مـی خیـر
نـه لـرم پـه زړه کښـی چاتـه کـین او غیـر
نـه دی زمـا امیـد د هیچـا مـال تـه کـړی
نـه ضـرر او شـر لـه مـا دی سـړي وړی
نـه ډدم مـخ او شـا د چـا تـه دام تلکـه
بنـدوم نـه دوسـت دښمـن پـه لومـه کلکـه
نـه پریـږدم پـه ځـان د چـا پـړه ملامتـه
نـه مـي لاس نیـولی دی لـه ننگـه سـته
ماسـوا لـه ښـو خویـو چـي زې لرمـه
د بـل شـي دپـاره سـعی نـه کومـه
کـه سـتا خوښـه وي زیـاتی جگـړه مکـړه
د ښـه خـوی موافقـه راسـره وکـړه
لـه نفاقـه څخـه زړه ژبـه خـالی کـه
خپـل اولاد دي پـه رگـی سـمهٔ رهـي کـه

د هـر چـا پـه ژبـان او خیـر بانـدي پـوه سـه
پـه امـورو کـي حـاکم پـه انصـاف اوسـه
حسـد بغـض چـي لـرې ژبـاتي يـې پريـږده
پـه لـويي کبـر سـربيره قـدم کښيـږده
د بـل مـال تـه مـه کـوه طمـع او هيلـه
رسـوه خيـر مخلـوق تـه بـې تعطيلـه
بيلـه ښـو خويـو کـوه مـه نـور کارونـه
خپـل اولاد تـه وربنيـه ښـه عـادتونـه
کـړه ښـه کـړه چـي دي هرڅـو لـه لاسـه کيـږي
انسـان هـر ځـاى لـه احسـانه تـابع کيـږي
غربـه زمـا وتاتـه دغـه نصـيحت دی
زيـاتي ځـم وخـت مـي راغلـی د رخصـت دی
تـر مـا وړانـدی چـي دي کـړی کـار دا واړه
د هغـه عمـل گنـاه ده سـتا پـه غـاړه
غـرب ول مـوږ پـه دې جگـړه کښـي يـو نتلـي
دواړه يـو پـه لار د وهـم بانـدي تللـي
پيښـه سـوه دغـه جگـړه خوشـی بـې پامـه
خبـر نـه وُ د يـوه بـل لـه مرامـه
لـه فايـدو سـتا زمـا کلـه انکـار وو
ښـه عـادت او ښـه خويونـه خـو سـتا کـار وو
زه اوس سـتا پـه ورور گلـوي يـم پوهـېدلی
اوس مـو حـق ښکـاره پـه ځـای دی درېـدلی
نصـيحت او عـظ سـتا د ورور گلـوۍ دی
سـتا کـاوړ ماتـه سـبب د خوشـحالۍ دی
بيـا بـه خيـال کـوم پـه کـار کښـي زه هـر گـوره
نيسـه مـا مـه پـه ړومبـو گنـاهو وروره
ولـي خيـال کـه د انسـان هـر څـو عـالي وي
هـم لـه سـهوي او خطـاء کلـه خـالي وي
نـو شـرق و ويـل کـه ولاړ تـه پـه اخـلاص يـې
نـو لـه وړانـدي ملامتـه څخـه خـلاص يـې

زیاتي زمـا او سـتا پـه میـان کښـي قرابـت دی
وروړ ګلـوي زمـا و سـتا ده صـداقت دی
صـمیمي دوسـتي بـه وي زمـوږ تـر پایـه
بیـا بـه نـه کـړو مـوږ جګـړه او جـنګ بـې ځایـه
ټینګـوي دوی وروړ ګلـوی او دوسـتي داسـي
اعتـزال ګوښـه ګلـوي لـه میانـه باسـي
چـي پـه میـان کـي یـې وضـعیت اطمیـاني ده
دلتـه کـړې غـرب بـې سـاري مهمـاني ده
نـه سـو پاتـه نـور حاجـت جـنګ او فـتن تـه
لـه ملګـرو سـره شـرق ولاړ خپـل وطـن تـه

پای

د منشي او سپاه سالار مناظره

نــــاقلان کـــوي دا لانـــــدي کيســــه غـــوړه
د جنــــرال منشـــي پــــه دې کـــار وه جگـــړه
جنـرال ځـي پـه څنگ د شـا کـي خپـل ځـاي کسـي
منشــــي دا جنــــرال دشـــا تـــرلمن نيســـي
ورتــــه وايـــي تيــرى مــه کـــوه نېکبختــه
تــر تـــا زه لـــوي يـــم ورځـــم د پاچـــا مختــه
ســپين ســترگي ســتا کــړه اوږده د جلـــو وياســته
بايــد ســتا وي زمــا تـــر لاس د لانــدي ناســته
جنــرال وايـــي زه يــم ډيــر تولـــواک تــه وړانـــدي
نــه کـــوم ناســته ســتا تـــرلاس زه لانـــدي
ســتا خـــدمت خـــو دئ قلـــم او زمـــا دا تـــوره
د پاچـــا د غلـــيم مـــور وي لــــه مـــا بـــوره
چـــي ليـــدلې چـــا روښـــا زمـــا د کـــريچ وي
ســر کښـان ناســت پــه کــورو کښــي غلــي گــيچ وي
بـــاغي مـــا وي پـــه ميـــدان د جـــنگ مـــات کــړى
امنيـــت پـــه هيـــواد زمـــا کـــريچ وي جـــوړ کــړى
ولــــي نيســــې تنــدى تريـــو او پـــزه بوکـــه
څـــه کـــولاي ســـي دا ســـتا د قلـــم څوکـــه
پـــه جـــواب کښـــي منشـــي وايـــي د زړه ســـره
پــــه څلـــور شـــيه ترتـــا هـــم زه بهتـــره
د جنــــرال او د منشـــي دغـــه جنجـــال ؤ
چـــا ور وړى لـــوى پاچـــا تـــه دا احـــوال ؤ

پا چا دواړه وه حضور ته ور بللي
داسي شاني يې منشي ته وه ويلي
چي اصحاب د کريچ مدام داسي رقم وي
لوړ او پورته د اصحابو د قلم وي
او ثښتن د قلم تل دغسي شان وي
د کريچ، توري د خاوند خدمتگاران وي
بولم تېر په ځای کښي تا له سره
چي ته ځان تر دې جنرال بولې بهتره
د خاوند د کريچ تعظيم دا دئ سلطان که
اوس نو ته خپل فضايل راته بيان که
منشي وويل ستا قربان سمه باداره
هيڅ وخت مه لويږه له دغه اعتباره
اوس کوي بيان دغه منشي نوموړی
فضيلت يې داسي شان ؤ بيان کړی
ول : کې هرڅو مخلوق توري ته تسليم وي
نه وي دی د دوست دپاره دغليم وي
په قلم راځي تل نفع د دوستانو
بل ضرر رفع کوي دغليمانو
او دوهم دجنرالانو داسي کار وي
چي خروج او بغيي مخ کې دبادار وي
د دې توري، کريچ غرور وي ښويولی
دغه کريچ يې وي بادار ته ورځکولی
او دريم خاوند د توري شو په شو وي
هم په کار د جنگ جگړې باندي دی پوه وي
په جنگ پوه وي خيال صائب نه لري داسي
په زور، دی دښمن جگړې لره ورباسي
اوپه عقل خو مدام سي جگړه رفع
تر زور ډير وار په تدبير سي غليم دفع
ثلرم ميرزايان دي له کار دارانو
خزانه او دخل يې وي د پاچهانو

او افسر محل د خرڅ وي اې مخدومه !
چې جمع نه وي خرڅ کوي سړی له کومه ؟
نو باید محل د دخل زما دلبره
تر محل د خرڅ وي لس کوټې بهتره
ما پیسه ساتلې ځای ته د درک وي
دافسر ولې په نس باندي خورک وي
چې زما جمع ټول دده په نس خرڅیږي
نو په څه تر ما لومړی شاه ته تیریږي
باید پرې کړي دغرور او کبر ویاسته
چې مدام کوي ترما دی لاندي ناسته
چې دلیل یې ؤ بادشاه ته بربښېدلی
پر منشي ؤ آفرین ټولواک ویلی
ټولواک تیر دشفقت لاس پر افسر کئ
لاس د ده او د منشي یې سره ور کئ
پای !

د شپې او ورځې مناظره

ورځ وایي :

روژه، حج او اخترونه دي په ما کښې
عاشوره، جمعه، لمونځونه وي په ما کښې
له عدمه را ایستلی ما جهان دئ
وي به حشر هم په ما کښې دا عیان دئ
بم خفاش او پیری هم په تا کښې خوښ وي
غلو جوړ کړی په تیارو دتا کښې کښ وي
ستا د میاشتي مخ تک سپین لکه روپۍ وي
زما د لمر مخ ژړ په شان د اشرفۍ وي
که عرب کړي دتا د میاشتې څه حساب
عجم ټول کړي بیا حساب زما په آفتاب
چي زه مخ کړم راښکاره د دنیا لور ته
تیاره کړمه د صحنې د دنیا پورته
لوکُره د مځکي زه ټوله روښه کړم
ور بدله یې فوراً زړه ښه کړم
لمر لا نه وي را لوړ سوي تر غره غټه
لکه غل ستوري سپوږمۍ سي دستي پټه
لا زما تجلي نه وي رسېدلې
له ورهمه وي دتا زهره چولې
دا خبره نه کوم پټه او غلې
دنیا ما ده ترقۍ ته رسولې
نه لرمه آرزو بله بیله کاره
د غفلت له خوبه کړم خلک بیداره

پـــه اثـــر ددې راتـــګ مـــې پيښـــه دا وي
د تيـــارې او د غفلـــت کـــډه پـــه شـــا وي
دستـــي شـــوق پيـــدا پـــه زړو کښـــې د عـــالم کـــړم
هـــر ســـړي پـــه لار دکســـب او کـــار ســـم کـــړم
يـــاري دوي پـــه شـــوق دکـــار زه راولمـــه
بيـــا ســـامان دکـــار پـــه لاس زه ورکومـــه
ورکومـــه آرزوګـــاني بيلـــې بيلـــې
پـــه چـــا ختـــې کـــړم پـــه چـــا پيايمـــه غيلـــې
ګډومـــه يـــې پـــه زړو د لـــوړې روې
يـــا کومـــه پـــه چـــا پـــولې پـــه چـــا يـــوې
يـــو ولاړ محکـــم اوبـــو تـــه د ګلرېـــز وي
بـــل تـــړلې مـــلا جـــوو تـــه د پـــالېز وي
يـــو اختـــه زه د تـــانو پـــه خريـــد او فروخـــت کـــړم
بـــل تـــه زه ورزده د نـــوو کـــالو دوخـــت کـــړم
پـــه يـــوه جـــوړوم زه توپـــک توپونـــه
جـــوړوي بـــل د اټـــم غونـــدي بمونـــه
يـــو مـــې وي ســـر و ديـــوال تـــه ورلـــوړ کـــړي
بـــل مـــې وي څـــا د کـــارېز تـــه ورځـــوړ کـــړي
شـــوق ورکـــړی مـــا يـــوه تـــه د ربـــاب وي
بـــل اخيســـتی مدرســـې لـــره کتـــاب وي
و يـــوه تـــه زه تيشـــه او اره تـــراش کـــړم
پـــه بـــل بـــوټي راوړم لـــوی وځ ور پـــه شـــا کـــړم
کـــار نيـــولی چـــا د ميـــز چوکـــۍ محکـــم وي
تمـــام عمـــر يـــې پـــه ګوتـــو کښې قلـــم وي
چـــا اخيســـتی پـــه غويـــو پســـې لـــوړ وي
څـــوک پـــه کـــار د خرکـــارۍ او پونګـــۍ اړ وي
چـــا پـــه خونـــو، بنګلـــو کښـــې کښلـــی زيـــار وي
چـــا خـــوښ کـــړی لـــوی زحمـــت دکـــوچ و بـــار وي
کـــم او لـــوی چـــې زه خـــدمت تـــه لټومـــه
غـــرض دا دئ د ژونـــدو خـــدمت کومـــه

کـــه مخلـــوق مـــا پـــه راتـــگ دي ســـتړی کـــړئ
اجـــر ډیـــر مـــي دســـتریاوو بیـــا ورکـــړئ
ډیـــر ســـتومانه تـــه مـــي ډیـــره مـــزدوري وي
او تنخـــوا د لـــټ پـــه قـــدر د خـــواري وي
د هـــر چـــا کـــار تـــه نیـــولي وي مـــا کســـي
اجـــوره نـــه ورکـــوم بیکـــاره خوســـي
لـــټ بـــډاي لـــره زمـــا څخـــه ذلـــت وي
خـــوار زیـــارکښ تـــه مـــي ورکـــړي لـــوی دولـــت وي
غزیـــدلي پښـــي زه هـــیڅ نـــه خوښومـــه
د ذلـــت پـــه تازیانـــه بانـــدي یـــې وهمـــه
چـــي پـــه مـــا کښـــي کـــار تـــه نـــه وي لتـــېدلی
مـــا یـــي هـــم وي تـــر بگـــړی ســـر ور ایســـتلی
د هغـــه چـــي کـــار کـــېدن تـــه کُلمـــې پـــرې وي
تمـــام عمـــر بـــه هـــم دی لـــوځي پښـــې وي
دا خبـــره ښکـــاره نـــن روځ و هرچـــا تـــه
رســـولي ترقـــی تـــه مـــا دنیـــا ده
زمـــا ســـتړیا ســـړي مړتیـــا تـــه رســـوینه
هوســـایي ســـتا یـــي خـــواری تـــه کشـــوینه
لـــه ســـتړیا یـــې زمـــا عیـــال لـــره مړتیـــا وي
لـــه خوبـــو ســـتا یـــې د خپـــل صـــورت بربنډتیـــا وي
کـــه څـــه زه کـــار پـــه خـــولې بانـــدي کومـــه
بیـــا عیـــال د ده پـــه غوبنـــو مړومـــه
کـــه یـــي مـــلا مـــا کښـــي تمامـــه روځ کـــړه وي
پـــه مابنـــام کښـــې د عیـــال ډوډی لنـــده وي
کـــه څـــه زه پـــه لاس تنهـــاکي جوړومـــه
پـــه غـــوړو خپلـــو یـــې بیـــا ور غوړومـــه
پـــه هـــر کـــار کښـــي ســـتا کـــار زمـــا ترکـــار خـــام دي
ســـتا مـــخ کفـــراو زمـــا دا د اســـلام دي

د شپې څواب :

شپه په دې طور جواب ورکوي دې ته
په وجود زما کښې ستوري پلوشې که
په مخلوق باندې چې زه هجوم راوړمه
د خداي صنعه قدرتونه ښکاروم
پوه ناپوه ته له دې دیده ښکاره حال وي
هر یو ستوري د خالق په قدرت دال وي
زه ترتا یمه لومړی پیدا او مختته
په تعظیم گوره هر مشر ته نیکبخته
وگوره ته په قران د کردگار کښې
نوم د شپې مخته وي روځ وي په روستاړ کې
مناجات ته ؤ موسی په ما کې تللی
لوط له قومه ؤ په توره شپه وتلی
زموږ نبي چې د نبیانو ؤ وتلی
په شپه باندې ؤ معراج ته خداي بللی
ځان خبر که په دې کار باندې تر پایه
آنحضرت سپوږمی په شپه کښې کړه دوه ځایه
شپه به توبښه د هر عیش و عشرت وي
د انسان حیوان په دې کښې اسرحت [استراحت] وي
زما حرمت به ترتا ډیر زیات په تاله وي
د عاشق معشوق په ما کښې تل خواله وي
په لمن زما کښې پراته دوي غیږ په غیږ وي
او په تاکښې د رقیب تل ورته غریږ وي
گوره دغه زما څومره لوي کمال وي
چې د روځې کار فرقت زما وصال وي
جوړه چپه چپایي په سیاست کړم
بیا نو ځینو ته دا رنگه رغبت ورکړم
اهل الله کړم د طاعت لپاره پورته
خفت په عجز عبادت وي د رب لور ته

غوټ عـالم بـه پـه دې حـال بانـدي حـالي وي
عبـادت زمـا د ریـښتنا څخـه خـالي وي
کـه څـه هـم کیـږي پـه روځ بانـدي کارونـه
پـه شـپه بانـدني عـاقلان وهـي فکرونـه
پـه مابنـام کښـي مـا یـو کـار وي سنجولی
سـهار تـاوي هغـه کـار پایتـه رسـولی
کـه پـه مـا کښـي سـړي کـار نـه سنجولای
تابـه چیـري لاس پـه کـار پـوري کـولای
مـا مهـار دکـار پـه لاس کښـي وي ورکـړی
پسـله هغـه وي تـا دا قطـار کـش کـړی
کـه هـر څـو وي سـتا زړګـئ پـه کـار کښـي سستی
خـو بـې مـا دي پـه مـخ ګـام نـه دی اخیستی
تمـام عمـر راکـي بـل وي څراغونـه
پکښـي ګـوري ملایـان ډیـر کتابونـه
لـه رڼـا څـه سـتا مخلـوق پـه سـتوماني وي
زمـا پـه غیـږ کښـي دي د سـترو هوسـایي وي
چـي لیـدلې وي لـه تـا سـتوماني ډیـره
ګـوري لمرتـه کـه دا روځ کـړه خـالق تیـره
تـه سـتړیا ورکـوې مـا دي هوسـا کـړي
و هوسـا خـدمت تـه مـا دي بیـا درکـړي
چـي لیـدلې تولـه ورځ لـه تـا سـتړیا وي
هرمابنـام تـه یـې پـه مـا کـي مېلمستیا وي
تـا خـولې وي بانـدي کـړي لـه سـتمه
زه خـولې د دغـو سـترو وچومـه
د خوارانـو مـلا لـه تـا څخـه وي خمـي
زه چـي راسـم زه یـې کـړم دسـتي ورسـمي
سـتا پـه کـور کښـي یـې تنهـاکي لاس او پښـې وي
زمـا پـه غیـږ کښـي غوړېـدن طبعـاً د دې وي
وي تمامـه روځ پـه تـا کښـي وړي تـږي
زه یـې نـس مـوړ کـړم ور سـم یـې کړمـه پـږي

داسـي نـه چـي يـي وي كـار پاتـه پـه مـا كښي
اسـكندر آب حيـات تـه ځـي پـه مـا كښي
ولـي سـتا خيـال وي زمـا خواتـه د غـدر
د وجـوده زمـا يـو جـز د شـب قـدر
كـه څـه هـم سـتا مـخ سـپين او زمـا خـنگ دئ
بيـا زمـا د يـارَ د زلفـو پـه شـان رنـگ دئ

❁❁❁

د غره او دښت مناظره

يــوه ښــه شــنه ودان دښــت او يــا هــواري
وې ويــل غــرهتــه پــه كــاوړ دا دوه درې واري
ســتا وجــود خــو خوشــي تښــر او پړســېدلي
منفعــت نــه دئ لــه تانــه چــا ليــدلي
ايســي غــټ او تــس ســتا خوشــي نــاوړه
بــل شــي نــه لــري يــا زرلكــه يــا كــروړه
د بــاران او يــخ څپــو چــي يــې وهلــي
دا پنــډ صــورت دي دئ لــه ژونــده اوس وتلــي
بــې فايــدې هســي لــوړ ســوى پــه دې وړه يــې
كــه نــه نــور خــو پــه مثــال ســره د مــړه يــې
پــه دې پنــډ صورت چــي لــه نفعي څــه خالي يــې
غورځــولي خلكــو تــه لا وبــالي يــې
ماتــه وګــوره چــي لــه دې خــاوري پمنــي
پــه تټــر راباســم، څرنګــه شــني ونــي
چــي پــه جــوش بانــدي پــه وخــت د بهــار راسم
لــه چيــنې څــه ســره او ژړ ګــلان راباســم
دغــه ژړ او ســره ګــلان چــي زه راســركړم
د مخلــوق د خــداى دمــاغ ور معطــر كــړم
پــه ميــوو مــي د وګــړو خــولې خــوږې وي
پــه بلګــو مــي د هيــواد ميــږي څــربې وي
ســاړه ســيوري تــه زمــا خلــك پراتــه وي
شــنو بلګــو او شــنو طوطيــانو تــې كاتــه وي

که د چا وسي زما وخواته فکر
بلبل کړي راکښي سازونه قمري ذکر
را ایستلي مي په دښت باندي بیلې دي
پرې ابادي د هیواد لویي محلې دي
دې پیغور یي وه رګونه ښورولي
یو ساعت پس یې له قهره هوښ وهلي
زښته ډیر نا امیدۍ وُ غر اخیستی
ستا به خیال وُ اوس به زړه وي پکښي سستی
وې ول غره که زه هرڅویمه ناوړه
خو ژوندون ستا لري زما په صورت اړه
دغه غټ او تس زما چي برملا دئ
ستا د ژوند په غمو باندي مبتلا دئ
که هر څو اوږد او پلن یم خدای جوړ کړی
په کلو کلو مي ستا جند در سوړ کړی
ستا دې ګایي زما ګولونه او پلې وسوي
چي تر اوسه زما په نفع ته پوه نه سوي
چي په دوبي سور اور ستا په وجود بل وي
او ګلان او نهالان دي پرکښبل وي
ګرمۍ کار باندي جوړ کړی دا رقم وي
سر یې مځکي لره درومي په ملا خم وي
پر راوکاږم سره ساه له تېره
زما سره ساه یي ملا کړي برابره
سره ساه چي وي زما در رسېدلې
په نهال دتا کښي ساه وي چلېدلې
زما باد وي د دریاب اوبه شربلي
اوریځ خره یې له اوبو وي را ایستلې
یو وار جوړه دا وریځ په دې رقم کړم
بیانو دا وریځ په سر د صورت تم کړم
سپیني واوري زما په جند وي اورولي
ما په غیږ کښي واوري تاته وي ساتلي

لــه دې يخــه خپـل ځيگــر پــاره پـاره كــړم
دا كـــرل او واوره تاتــــه زه خيـــره كـــړم
راســره چــي ســتا د شـنه جند غـم خـوري وي
ډكـي كـړي مــي شـيلې كنـدي تنگــي وي
كــوم داســي پــه روزنــه ســتاكي متــه
يــخ او واوره كــړم پــه غيــږ كــي تاتــه كوتــه
لنــدوم چــي زه دا ســتا د پلــن ډاگ خــاوري
درپربړدمـــــه اوبــــه ورو- ورو دوه درې واري
راســره چــي ســتا دكښت كرونـدې غـم وي
تــر رگــو مــي را ايســتلى د زړه نــم وي
كــه زمــا تــى ســتا لــه خـولې څـه وي وتلــى
كښــت دتــا بــه وي لــه تنــدي الــوتلى
كــه و نــه ســاتمه تاتــه بــاران واوره
نــه بــه ســي لنــده پــه ټولــه كــال ستا خــاوره
دتــا ډاگونــه وي مــا هــر وخــت پړسـولي
دتــا لــه لــوري مــا هــم هــيڅ نــه وي ليــدلي
مــه مــي واى ليــدلى شــى خــو فســاد دا ده
لا دتــا زمــا پــه جنــد پــوري خنــدا ده
زوي د پــلار تــر شــا تلــئ يــو وار ؤ خنـدېـدلى
زه بــه خنگــه يــم لــه دې څــه زېړېــدلى
شــرم نســته كــه د ســر پــه ســترگو ړونــد يــې
تــه خــو تــل زمــا د زړه پــه وينــو لونــد يــې
داســي نــه چــي نــوره نــه لرمــه نفــع
ســي زمــا پــه جنــد دا هــره خــواري دفــع
تــا د ســر ســترگي خــوړلي دي زمــا جانــه
دنيــا ده زمــا پــه ســرو ســپينو ودانــه
پــه دې تــور جنــد چــي مــي كــړي لمــر وړانگـې وي
د ســرو ســپينو زرو لښتــي راكښــي شــنې وي
چــي لمــر وي تيــز تيــز زمــا جنــد تــه كتلــى
د زړه وينــو مــي يــاقوت وي را ايســتلى

اخلـــي هــــر ســـړي كـــې وس دقيمـــت وســـي
پاچهـــان يـــې د خپـــل تـــاج پـــه ميـــان كښـــي نســـي
چـــي بـــل ځـــنگ مـــي زيـــړي لمـــر تـــه ور پـــه خـــوا ســـي
زمـــا لـــه جنـــده څـــه رونـــه المـــاس راباســـي
چـــي ډبـــري د وجـــود مـــي پـــه شـــينتيا وي
بيـــا نـــو كـــان د فيـــروژو راكـــي پيداســـي
زمـــا لـــه جنـــده د مخلـــوق جـــوړه گولـــه وي
راپكښـــي مالگـــه ســـور اور او يـــا كولـــه وي
ددې تـــور صـــورت مـــي دا ډول انجـــام وي
پـــه وجـــود كښـــي مـــي مرمـــر ښكلـــي رُخـــام وي
را ټـــول كـــړي يـــې يـــو زمـــا لـــه گوښـــو وي
پـــه قبـــرو دپاچهـــانو يـــې ايښـــو وي
هيڅـــوك نـــه باســـي د لاســـه زمـــا مټـــي
كيميـــا گـــر راپكښـــي غـــواړي كيميـــا بـــوټي
پـــه رودو، ويـــالو كښـــي زمـــا د رگـــو خـــولې وي
ځكـــه ســـتا پـــه جنـــد روانـــي شـــنې ويـــالې وي
كـــه لـــه خـــولې وتلـــئ ســـتا زمـــا تـــئ وي
نهـــالان ســـتا بـــه وچ ســـوي پـــئ پـــر پـــئ وي
چـــي دښـــت وه دا جوابونـــه اوريـــدلي
بيـــا يـــي نـــه وه دغـــره خـــوا لـــره كتلـــي

❁❁❁

د غنا او فقر مناظره

غنا وايي :

د غنا داسي ويل او داسي حال وي
د تمام مخلوق زما پرلوري خيال وي
وړو تړو ته له ما څخه مړتيا وي
په ورتګ زما مسکينانو ته لوړتيا وي
زه پخپله ښايسته ځواني دا شان يم
معشوقه د هر کافر او مسلمان يم
چي د هر چا خوبني زما د جند ټوټې دي
د کافر او مسلمان پرما غوټې دي
ما آدم ته کړه ښکاره د لوړي روې
لاس يې پوري کې دستي په کار ديوې
خوشي نه وه د ضحاک جمشيد جګړه
جګړه دوي وکړه زما په ګوله غوړه
د ضحاک چي بيا زما په باغ ګډون ؤ
په جګړه ورته راغلی فريدون ؤ
په هر چا زما محبت غالب او ډير وي
يو محب مي اور دوان بل اردشېر وي
اسکندر ته چي جند زما ؤ ځلېدلی
له يورپه ؤ اسيا ته راوتلی
چي دارا وکړه زما په صورت نتېه
سکندر ورسره وکړه جګړه غتېه
چي راستي د سکندر وه ما ليدلې
وم د غيرې د دارا څخه ور وتلې

"ستالن" چې زما وجود په غیږ کښې کښېښود
مسیحي روښانه دین یې په ما پرېښود
ورښکاره چې مې "هټلر" ته سپین بشر کړ
لوار جهان ته یې آور دجګړې ورکې
ور غوځار یې کړ ځان داسې ګوړ باهې ته
مرګ او ژوند یې معلوم نه سو هیڅ سړي ته
په محبت زما کښې وهي ټول جهان کوکې
څوک مې غواړي د قلم له تیرې څوکې
څوک مې غواړي له نیزې او څوک له توري
زما پیدا ته په عالم کښې مندي بوري
هوښیاران د باچهانو کوي داسې
زما روڼ مخ له سپېرو کانو راباسي
د ملا دعوه د دین هسې اهار وي
په محراب کښې له محبته زما ولاړ وي
چې زما شیرینه روغ یې وي لبدلې
چا کره او چا کلنګ ته ملا ترلې
زما حصول ته هر سړي وي په اخلاص کښې
دوکاندار نیولی ګز وي تینګ په لاس کښې
د هوښیارو زما په خوا او لوري زور وي
بنا ځکه په دیوال کوازه سپور وي
هر سړی راته ولاړ لاس په نامه وي
د خوارانو هم له ما ځخه ګیله وي
چې جنډړی سي د برمنډ له ما څه پټه
ځکه هر سړي کوي را پسې مټه
امیران که میرزایان که کار داران دي
په قدم په پله زما له شا روان دي
د عالم علم له ما مونده وي قدر
بې غنا یې ولاړ سي علم خوشې هدر
پوه عالم نه سي زما محبت غندلای
چې زه نه یم ملایي نه سي موندلای

زمیندارو ته ورکړی ما څه تاب وي
که زه نه یم سم پټی د ده خراب وي

چې دده له کوره چپ زما د تګ رو سي
وي هغه بزګر پټی یې دستي ګرو سي

د دهقانه څه چې لیري زما قدم سي
نې وي تخم لا پاشلی بیا سلم سي

د بډایو وي لوي عیب ما ور کم کړی
کمکی عیب مې د خوارنو وي لوي کړی

چې هر څوک چپ سي زما د کار له ریښه
په ګهیځ یې کمیس خیري سي په خښته

کې پینځه ورځې په کار وي سر ټیټ کړی
ما یې وي لوڅ او برینډ صورت پټ کړی

کې یو واري زحمت زما ورې په شا وي
بیا په کور دده ولاړه لنګه غوا وي

که چا اینسی پینځه شپې کار ته ځیګر وي
یو کال وروستې مشدی لُنګې په سر وي

کې زما په آرزو باندې وي کار کړی
په بدل کښې ما ماشین موټر ورکړی

زه رعیت او باچهانو ته لیلا یم
معشوقه زه د "چنګیز" او "اتیلا" یم

چې زه یم او همت نه باسي له لاسه
د جنت دروازه کړمه ورته خلاصه

خدای خوشحاله کړي په ورکړه دخوارانو
په پټیا او په مړتیا دیتیمانو

بډایانو ته په ښه سترګه کتن وي
له فقیرې په نفرت کښې تیریدن وي

په خدمت او په تعظیم کې خلک خفت وي
په شناخته او په ناشناخته یې عزت وي

رښتیا داده زه هر خوږ لره دوایم
ټول عالم په ما عاشق زه یې لیلا یم

چاتـــه وبـــرېښم دميـــرو پـــه وړی کښـــي
ســـرګردان راپســـي ګرځـــي پـــه نـــړی کښـــي
چاتـــه ځـــان کمـــه ښکـــاره د اوښ پـــه "کـــو" کښـــي
ځکـــه پـــرور راپســـي بـــار کـــړي پـــه ملـــو کښـــي
چاتـــه وبـــرېښم دخـــره يـــابو پـــه پښـــو کښـــي
وي لـــه شـــا د دوي روان پـــه غـــرو رغـــو کښـــي
زمينـــدار ولاړ وي تـــل زمـــا پـــه ســـراغ کښـــي
زې ليـــدلی يـــم پـــه پولـــه او پـــه بـــاغ کښـــي
زه مينـــه بيـــا پـــه هغـــه يـــم زمـــا يـــاره
چـــي لـــري مينـــه محبـــت ســـره لـــه کـــاره
ښـــه او بـــد پـــر مـــا بـــې فرقـــه دي دا واوره
ښـــه پرېـــږدم بـــد تـــه ورځـــم چـــي وي کـــار داره
د اســـلام کفـــر فـــرق نســـته زمـــا پـــه تلـــه
زه نـــه وزم دکـــارداره لـــه بغلـــه
او زمـــا دکـــار پـــه خونـــه کښـــي مســـکن وي
لـــه راستی او ســـمي خـــولي مـــي ډيرېـــدن وي

د فقر جواب :

د غنـــي کـــه د دنيـــا ســـره محبـــت وي
د فقيـــر يـــې د وجـــود څـــه نفـــرت وي
دښـــو خلکـــو پـــه نظـــر کښـــي وي بـــې قـــدره
اکثـــر کـــار وي ددنيـــا ســـره لـــه غـــدره
چـــي وهلـــی څـــوک ددې دکبـــر دود وي
ځنـــي جـــوړ دســـتي شـــداد او يـــا نمـــرود وي
ورســـره چـــي وی دتـــا د ملاتـــړ عـــون
خـــوي خاصـــيت يـــي ســـي فالحالـــه د فرعـــون
خـــوار غريـــب دده لـــه لاســـه ريـــز مريـــز وي
ولـــي هـــر ســـپي پـــه ورتـــګ دا ســـتا چنګيـــز وي
کـــوي دوي کارونـــه بـــد او نارواجـــه
ظلـــم زور يـــي عـــلاوه وي لـــه "حجاجـــه"

په گاونډ باندي يې زور ظلم شديد وي
علامې پکښې موجودي د "يزيد" وي
داسې نه چې بې خوړلي په ميلمه وي
د دوي هر يو به د خپل وخت "شمامه" وي
که اته جنته وي په يو اوربشه
وايي نه مې دی قيمت پوره له وسه
د فقير له رغه بد ترېو يې تندی وي
ورته گوري چې تر جوړ سير لی مندی وي
کې خوړلی خوار سوړسک روټه دځان وي
د بداي گاونډ په ده باندي احسان وي
په دعا کښې بې خالق ته دا زاري وي
يو ما موړ کړې نور دې ټول ملک په خواري وي
چې وجود يې خالي نه دئ له خطره
عاقلان وه ده ايستلې له نظره
پيژندلې عاقلانو دا دنيا ده
تجربې ته رسېدلې بې وفا ده
دوي په پوه، چې ده پوره خدی پليته
نيسي خوله په خندا هر سړي ته ويته
بودليان يې په خندا وي خطا سوي
دوي چې وايي زړه له محبته په موړ سولي
دوي خيال وکړي دا ده لاسته ده راغلې
دا گهيځ وي په سپېدو کښې ټنبتېدلې
هر سړي وي د دنيا خندا تير ايستی
له محبته يې زړگی وي پکښې سوستي
چې اصلاً د دې خوی نه دئ په اخلاص کښې
هر سړي ته ورکوي نه ځان په لاس کښې
په دروا غو د ياري کړي گوته اړه
خطاباسي يار په لم لکه گيدړه
که سي ور لاس ته دا شاني به يي كار وي
پنځه شپې وروسته يې بيا ځني رفتار وي

پنځـــه روځـــي وي لـــه تـــا ســـره دا پروتـــه
بيـــا لـــه تـــا ښخـــه ناڅاپـــه ځـــي تربـــورو تـــه
يـــوه روغ دا وتاتـــه هســـي كـــر و پـــر كـــړي
تـــه پـــه آس ســـپور بـــل ســـتا دلاس نـــوكر كـــړي
پنځـــه شـــپې دا آس ولاړ دتـــا پـــر كـــور وي
بيـــا يـــې تـــه مـــزدور، نـــوكر بـــل بانـــدي ســـپور وي
وريكښـــي د ښويېـــدلي علامـــې وي
خوابـــدي مرورتيـــا يـــې بـــې پلمـــې وي
وي نيســـتي هســـتي ددې بيلـــه بـــاوره
او وجـــود يـــې خـــالي نـــه وي لـــه خطـــره
غولـــولاي خاونـــدان د عقـــل نـــه ســـي
پـــه مړتيـــا د پنځـــو ورځـــو بـــې څـــه وســـي
او وجـــود د دنيـــا ډيـــر ځلـــه ســـي داســـي
لـــه طاعتـــه د خالقـــه ســـړی باســـي
چـــي شـــراب دعـــيش عشـــرت يـــې وي ښنبلـــي
لـــه طاعتـــه دخالقـــه وي وتلـــي
د خوارانـــو خـــوي خاصـــيت دكمينـــۍ وي
د غنيـــانو عـــادت كبـــر خودبينـــۍ وي
او لـــويي خـــو لـــه انســـانه شـــرف بيـــايي
لـــويي يـــو لـــه پـــاک خالقـــه ســـره ښـــايي
پـــه پنځـــه قرانـــه دوي ورک كـــړی حـــد وي
مـــور او پـــلار تـــه يـــې نيـــولی تنـــدی بـــد وي
مســـت ســـي يـــاري پريـــږدي خـــداي، دنيـــا معبـــود كـــړي
څـــوک خوبونـــه دشـــداد څـــوک د نمـــرود كـــړي
لـــه ســـړي كـــړي شـــرافت او عـــزت ليـــري
مـــداماً كـــوي دكبـــر لـــوي خبـــري
چـــي ســـړي ددې پليـــدي خـــوي تـــه كســـي
دهنـــدو مســـلمان فـــرق وربانـــدي نـــه ســـي
ښـــه پريـــږدي بـــد تـــه ورځـــي او پركړيـــږي
نـــې نفـــرت ســـي او نـــې خـــوا ځينـــي توريـــږي

نـــو دي مـــخ ســـي د دغســـي آشـــناي پرتـــه
چـــي ښـــه غورځـــوي او بـــد تيـــروي زړه تـــه
چـــي نـــې خـــوري او پـــه الفـت د دي کښـــي خفـت وي
لـــه هغـــه ســـره ددي مينـــه محبـــت وي
پـــه هســـتي کښـــي چـــي يـــي نـــه وکـــړي ځـــوک کبـــر
او نـــه وکـــړي پـــه مظلـــوم او پـــه خـــوار جبـــر
عنـــدالله دي وي دي کـــار تـــه لاس ور کـــړي
يـــا لـــوخ پـــټ کـــړي يـــا يـــې ورډي وي مـــوړ کـــړي
زې مـــنم بيـــا دنيـــا ښـــه ده لـــه هرځـــه
چـــي دا کـــړي دپـــاک مـــولا پـــه نامـــه خرځـــه
کـــه يـــي ورکـــي پـــه نامـــه دخـــداي دلبـــره
تـــر نيســـتي هســـتي ده لـــس کـــوتي بهتـــره

❁❁❁

د گلاب او نرگس مناظره

که هر څو ښکلی او زیړ د نرگس رنګ
په ښایست کې د ګلاب ورسره جنګ
تالیف دا مناظره د یوذکي ده
د علي بن محمد المارد‌ني ده
چې قلم دې لوی ادیب وریکښې کښېښود
د جواهرالفرد نوم یې باندې کښېښود
چې تالیف یې کړه داغه نسخه نوموړې
قاضي القضات شهاب الدین تې وه وروړې
په ادب کښې علامه دامتقي دی
نوم احمد او زوی د کشک دلوی قاضي دی
وایي وړ د حمد ثنا، هغه سبحان دی
چې جوړ کړی یې د ګل په شان انسان دی
په باغچو کې وې د ګل ورد ده شین کړی
د قد لوړ صورت یې نرګس ته دی ورکړی
ادیبانو تې ورکړی فصاحت دی
ورښوولې لار رګی د بلاغت دی
د ادیب د ژوندون دا رنګه حالت وي
له مخو پاکو روڼو یې حکایت وي
او له سترګو پاکو روڼو کړې خبري
ښې خوږې روڼې په شان د مرغلري
او داغسې په کروړو وایم درودونه
په نبي اهل او اصحابو سلامونه

تر هغو چې خو د ورد د مخ دنده وي
له ښو سترګو د نرګسه شرمنده وي
پس له حمده وایم دا طور یارانو
وو ګلاب، نرګس له ښو کښلیو ګلانو
کښلي دا ګلان په روی او رویت وه
خوښ دخلګو یو په بوی بل لطافت وه
نو سوه پېښه تر مابین د دوی جګړه
بهتري لري د دوی په دلیل اړه
ګورئ اوس فضل د کوم یوه کثیر وي
کوم یو کور د خوښي بزم ته حاضر وي
که څه هم هر یو له دوی کړي دعوه لوړه
خو لري یې فضیلت په دلیل اړه
نو ما دغه دوه ګلان پورته نوموړي
په رقم د غلیمانو دي راوړي
حال په ژبه ددوی وایمه حالونه
رامي وړه ددوی سوالونه ځوابونه
اول واورئ ګلاب کړی دا بیان دی
وی وړ د حمد ثنا هغه سبحان دی
چې راکړی یې قرآن غوندې نعمت دی
او په دې قرآن کښې کړی زما صفت دی

فاذا انشقت السماء فکانت ورده کالدهان ۝

معنی دا چې سوري سي دا اسمان شین رنګه
کښته پورته حال به وي ګلابي رنګه
نور تر دې لوی شایست نسته وکړی غور
چې وي کښته پورته تول زما په طور
په قرآن کښې چې زما د رنګ صفت [دی]
نو معلومه د نرګس برخه خفت [دی]
په آیات چې ثابت زما د رنګ کمال سو
د نرګس څکه زوالی د جمال سو
په مظبوطو دلایلو داسې شان یم
نور ګلان مې نوکران زه یې سلطان یم

باید ما شکر د هغه خدای (ج) وي کښلی
چې زې یمه په گلانو بالا کړی
که څه زه په اعتبار د زمان باندي
وروسته شنین سم په باغچو کښې لاندي باندي
بیا راوړونکی یم د داسې ښایسته گله
چې شایق یې نه لري طاقت هیڅکله
خوښ یم زه هر وخت د پیغلو د زلمیانو
ځرولی یم په غاړو عاشقانو
سور یم زه د خپل قوي صورت له حالته
نه یم زړ لکه نرگس د خجالته
زما محبت لري هر ځای ځوانان او نجونه
ځوان په سر پیغلې مې ږدي په اوربلونه
نو رشتیا چې باغ زما ملک او مقر دی
او چې هر چیري گل ویني زما نوکر دی
لوی او کم تپ د گلانو له صورته
هغه دي زما د نبزو له سلطنته
تر سینو چې یې ختلې زما نیزې وي
نو بې څرنگه له ما غاړي کړې وي
کړه خندا گل د گلاب په هغه آن کښې
په یوه پښه څرخیږي په میدان کښې

گلاب ته د نرگیس ځواب :

دا اقوال چې د گلاب و اورېدلي
د نرگیس د سترگو تور و لړزېدلي
له کاوره صورت و لړزېدلي
په لینگې د خپل صورت و درېدلي
ول قسم خورم په هغه ذات نوموړي
چې پخپل قرآن کې داسې دي راوړي

صفراء فاقع لونها تسر الناظرین

یعنی زیړ دي رنگ د دغې غوا ښوونکیه
خوشحالیږي یې په دید سیل کوونکیه
چې نیولي دي په سر لوړ د جنگ دی
ای جاهله خو زما دغه زیړ رنگ دی
له دې تیزي ژبې ورې تا فاینده ده
گنه کوم دی ستا ښایست څه دي جُسه ده
په دروغو دي ښکاره کړ خپل کمال
او صفت دي وکاوه د خپل جمال

او سـره لـه دې نقصـان دتـا ښکـاره دی
عيـب دي ليـري او نـږدې تـه اواره دی
اړوې پـه تکـی خپلـه بانـدې اور
چـې پـه ژړ مـخ راکـوې ماتـه پېغـور
خبـر نـه يـم کـوم دي سـتا اوږده او پسـور
چـې پـه زيـړ مـخ راکـوي ماتـه پېغـور
چـې د زيـړ رنـګ صـفت کـړی کردګـار دی
تـه سـې رونـد لـه زيـړه څنګـه سـتا انکـار دی
او حـال دا دی دغـه زيـړ رنـګ د طـلا دی
پـه رنګـو کـې خونـد لـذت د زيـړ جـلا دی
پـه سـره مـخ فخـر پـه مـا کـوې لځنـه
ای د سـره انـار د پوسـت پـه شـان خوړجنـه
د ادب خـاطر کـوه د بـل پـه ګـای کښـې
ګنـه يـې بـه شـرمنده د جنـګ پـه پـای کښـې
ولـې سـتا وي خيـال باطـل مـدام پـه بـل کښـې
نـه وهـې چـرت پـه زوال د عمـر خپـل کښـې
پـه لسـمه ورځ تويېـږي سـتا بلګونـه
مـه وايـه پـه بـل غيبـت او تهمتونـه
کـه سـم نـه سـوې او بيـا سـتا دا بـې بـاکي وي
درمـات کـړي بـه مـا سـتا تېـره اغـزي وي
پـوړ پـه پـوړ کـالي دا سـتا بـه اويـزان کـړم
در ښکـاره بـه پـه ورځ سـتوري د اسـمان کـړم

د ګلاب ځواب نرګس ته

دلتـه سـر ګـلاب را لـوړ کـی لـه ګرېـوا نـه
ورتـه وې ويـل پـه داسـې طـور جانـه
خـدای دي ورک کـې دتـا تـول بـوتې او درګـې
څنګـه دي سـپيني او شـوخي دتـا سـترګې
څـومره ډيـر تيـری دي وکـاوه کذابـه
بيـا لـرې نـه ډار د لـوی خـدای لـه عذابـه

زما تر مخ کړې سپین سترګي ته قیام څنګه
سموې له ما سره ته مقام څنګه
خطاباسې جهال څنګه په دې کار کښې
چي زه سم یم له ګلابه په وقار کښې
او ته یې ډېر ترما کښته د ګلانو
بلکي یې زما د میانه خدمتګارانو
دا چي زه ځښتن د لوی عزت وقار یم
ته ولاړ زه درته ناست لکه بادار یم
زه ناست ته راته ولاړ لکه نوکر یې
زما خدمت له ره کتونکی لر و بر یې
ناست په هر ځای کښې سردار او یا بادار وي
او ولاړ خو یا نوکر یا خدمتګار وي
په زیر مخ کښې به له کومه لوري نور وي
ښایسته بولي هغه چي رنګ یې سور وي
چي د ناست ولاړ فرق نه کړې لا نا پوه یې
جهل ړوند کړی د دوو سترګو په لېمو یې
مدام ستا د جاهلۍ په لوري زور وي
په لږ عمر دي مدام ماته پیغور وي
او نه وینې زما داسې طور کار وي
زه فاني یمه په ځای مې یادګار وي
تر راتګه زما په ځای بوټی ولاړ وي
او ستا بیا نه سپین مخ او نه دي نار وي
نو به خود زما له تا څه قدر لوړ وي
یادګار چي لري هغه کله مړ وي
صدقه زما د خلف په حیث جاري وي
له فنا پس ستا په مخه بیا خواري وي
بیا نو نه عاشق دا ستا له دیده ښاد سي
نه دي وي یادګار چي نوم دي باندي یاد سي
زما او ستا فرق به د مړه او د ژوندي وي
د مړه پت تل په ژوندي باندي خوندي وي

زیـــاتي لاس واخلـــه لـــه دې جگـــړي یخـــي
گنـــه کـــړم بـــه دي نیـــزې پـــه ســـترگو ښخـــي
ړونـــد بـــه تـــا د تـــورو ســـترگو پـــه لېمـــو کـــړم
او غلبېـــل غلبېـــل بـــه صـــورت ســـتا پـــه نېـــزو کـــړم
چـــي شـــغلې وي زمـــا د پـــاک مـــخ لتیـــدلي
ســـترگي وي مخلـــوق روڼـــي ورتـــه نیـــولي
لـــه سندســـه زرغـــوڼې زمـــا جـــامې وي
یـــا چـــاودلې پـــه لســـتوڼي کښـــي نـــافې وي
دئ پـــر مـــا بانـــدي بـــاران د مرغلـــرو
یـــا راوزي زمـــا پـــر ســـر دانـــې د زرو
دا چـــي واړه یـــې زمـــا پـــه ځـــان پاشـــلي
پـــه زرو زرو کســـانو دي لیـــدلي
گویـــا زه هغـــه محبـــوب چـــي دا یـــې داب وي
چـــي پراتـــه پـــه گـــردآورد دده شـــراب وي
او لـــرم څلـــور دیوالـــه نفـــع داده
بـــې ســـامانه لـــره دا ځـــای د فنـــا ده
نـــه بـــه کـــړي ولـــي زمـــا پـــه لـــوري متـــه
پـــه دیـــوال زمـــا یـــي لـــه ســـترگو کیـــږي پټـــه
نـــو چـــي زمـــا دا ډول حســـن حیثیـــت ســـو
لـــه حســـده کینـــه ســـتا برخـــه ذلـــت ســـو
نـــه دی عیـــب چـــي لنـــډ دی زمـــا د ژونـــدون عصـــر
تـــه عبـــث کـــوي پـــه خپـــل اوږده ژونـــد فخـــر
ولـــي عمـــر زمـــا تـــول د خوشـــالۍ وي
او همېـــش د خوشـــالۍ ورځـــي لنـــډې وي

د نرگس ځواب گلاب ته

نـــرگیس واوریـــدې خبـــري قهـــر اخیســـتی
لـــه کـــاوړه و زړگـــی وریکښـــي و سســـتی
لـــه خبـــرو د گـــلاب وُ ډېـــر بـــې تابـــه
ورتـــه وې ویـــل چـــي ای خانـــه خرابـــه

د فضیلت دلایل ځما درګي درګي
ته بارخو زه په مثال د یار د سترګي
ته بارخو یې د معشوق زه دي منمه
مشابه یم زه له سترګو د صنمه
پتا باندي فضیلت ځما یو په دو دی
ولي ډېر لوی فرق د سترګو د بارخو دی
ته عبث یې ستا د عمر څه فایده ده
ځما نیم کال ستا پنځه ورځي موده ده
په دې سره خوله به کېږم درکلکه څپېړه
کله سور رنګ سمېدای سي له رنګ زېړه
په جهان کښي زما کار یو نندارة ده
په وعده خپله راځم دغه ښکاره ده
په یاري کښي زما دا رنګه حالت [دی]
خلق هغه چي رابولم یې زیارت [دی]
آشنایي په دې رقم باندي پالمه
په لېمو د سترګو نخښه ورکومه
بیا نو ماته وایي هر آشنای وګړی
د مخلوق خوښي ته خدای یې پیدا کړی
وایي تینګ په تا ددې کار تار نري وي
په غلیم به خاماخا دا ستا بري وي
او ازغنه وي دا ستا داسي کارونه
ازغي ستا کوي په هغه چا وارونه
سور کوې ته خاماخا هغه وګړی
چي ستا ګل یې وي له خاورو پورته کړی
بل غلا کړی تا داغه رنګ د حبیب دی
نو د سره انګار عذاب ستا په نصیب دی
رنګ دي غلا کئ بیانو پټ سوې په بلګو کښي
ګنه حد و ستا د لاس په پرې کېدو کښي
چي لازم و دغه نوموړی حد په تاسي
په عوض کښي عرق ستا له رګو باسي

که محبوب وای نو یې ولې کېدای داسې
په کوټن عرق له صورته ستا وینه وباسې
او څه فخر ستا په دې سره مخ بلا دی
او ډېر لوی فرق د عقیق او د طلا دی
ملامت یې ژر به وخیژي ستا بُوټ
چې د بل تر زرو پاک بولې خپل کوټ
ډېر دی زیات تر تا زما د مخ عزت
او راکړی دی پر تا خالق سبقت
نو په میان کښې د میدان وځرخېدلي
دا آیات یې و په لوړ اواز ویلي

اسابقون السابقون اولیک هم المقربون
په آیات یې د مجلس پیدا کی میل
دلتې وکاوه د ځان په صفت پیل

د ځان په ښه والي کښې د نرګس وینا :

تر ګلاب یمه لومړی زه زېږېدلی
په وعده یم د آشنای ټینګ درېدلی
د غلیم خبره نه وي بې علته
ګنه نسته زما په ذات کښې ملالته
زه رابولم محبان خپل خوشالتیا ته
ښکاره ده زما د اخلاق وضعه هر چاته
پټوم آشنای په سترګو کښې دننه
ورکوم د ځان لیدو ته یې بلنه
زما همېش بندي په هغه ځای وي سترګي
چې یو یار وي د بل خوا ته لتېدلی
ولې نه ګورې زما دې خویو ښو ته
زه ستایمه راز د عشق و معشوقو ته
او چې غواړي څوک معشوق زه یې معاون یم
شپه او ورځ په دغه کار کښې ندیم یم

په نیم دید صورت مي تل دغسي کار وي
په اشارت د باڼوګانو مي رفتار وي
چي زما تشبیه له سترګو سره کیږي
نو په ګرد زما پسي هیڅ ګل نه رسیږي
پر ما وي محبان داسي څرخیږدلي
حجیان نه دي په کعبه زیات ګرځیدلي
هره ورځ له ورځو زما داسي رقم وي
لکه خاص چي هغه ورځ د حج موسم وي
فضیلت زما ثابت سو درګي درګي
ته باړخو زه په مثال یمه د سترګي
زیاتي څه زه معزز دتا به ذلت وي
ولي مشر له هر ځای فضیلت وي

د ګلاب جواب و نرګس ته :

دلته سور سو د ګلاب مخ له کاوره
سو ولاړ له خولې یې وایسته ناوره
ورته وې ول ای زیړ غاړې خوله درنسه
پورته مه ځه خپل مقام رتبه دي کسه
نه لري د چا د لاس دستخط ویزه
ورځې څنګه د لوی شا په دروازه
ای سپین سترګې سپین سترګي دي وکړه ډیره
ای پټ سترګي ستا خبر مي نه ده هیره
ته بدي کړې خو زه باک نه درکومه
لوټي ولې زه چورت نه ورکښي وهمه
که مي څه هم زور دلیل دربانديتېر دی
خو بیا زما نفرت له بدو څخه ډیر دی
فخر څنګه کړي سره له زیړه رنګه
سپین سترګي کوي کښېني زما له څنګه
زما له مخه سره ځان سموي څنګه
شرمنده به ځې له دې میدانه څنګه

کوم بارخو دي په جيرمو دا ستا د غولي
چي ته سترگي د ليلا په شاني بولي
چي بانو نه لري هغه شور باله سي
شور به چيري د ليلا په تول تاله سي
بې بانو دعوه دا ستا خوشي خطا ده
له معشوق سره تشبيه ستا ناروا ده
چي لري نه دتا سترگي بانو کسي
له ليلا سره دتا تشبيه په څه سي
پيغور ماته راکوي د رنځ بلاؤ
خبر نه يې د آدم له ابتلاؤ
له رسوله دئ بيان د علماؤ
ډېر نبيان دي په ليدو د ابتلاؤ
نو دا ستا به چيري دونه شرافت وي
چي ليدلي دي په سترگو مصيبت وي
ډېر ډېر واري په بلا کښي يم لوېدلی
صبر وکړم يم دې غم ته درېدلی
شرافت بولم زغمل ددې بلاوو
چي خبر يم له آدم له ابتلاوو
که څه اوښکي بې اختياره تويوم
څو ناري د بې صبرۍ بيا نه وهم
څو څو واره بندي سوی بې گناه يم
پر لاسو سر وهل سوی بې تعدا يم
ډېر کسان مي سره مروړي بې زړه سويه
عرق باسي زما له دې بلگه نريه
د انسان چي خوښ زما د صورت عرق وي
مداماً مي په وجود باندي تک تک وي
زما نازک صورت په دسته باندي تکيږي
اوښکي زما په پرهار خلي صورت توئيږي
چي خبر د زليخا په بهانه وي
نو به څه عيب د يوسف بندي خانه وي

او سره له دې یم داسې نازېدلی
تل مې وي د یار د شونډو خوند کتلی
خوښوي مې نر او ښځې کم لوی واړه
څوړند یم مدام د ښو پیغلو په غاړه
ښایسته ګان مې وړي مدام د سرو خوا
د معشوق په غېږ کښې تل وي زما
ومنه چې ښه ده زما اصل او فرعه
نه شین کیږم هلته زه چې نه وي فرعه
نو قسم خورم په خپرو بلګو د ځان
چې ستا ، نه دي رنګ زما غوندي تابان
نه يې زما غوندي سور سپین په خوش رويي کښې
ندي بلګ په پیچیده ګي او خوش بويي کښې
نو شک نسته زه سلطان ددې ډلې یم
خوښ تر هر ګل زه د پیغلي او زلمې یم
او زه فخر نه کوم په دې خبره
ته هم مه اوږدوه بحث زما نوکره
له دې وروسته وتړه ملا لوی همت ته
ونیسه لاس په نامه زما و خدمت ته
او که چیري بیا جګړه زما اوستا سي
نو به کوم فضیلت ستا د مشرتیا سي
مشرتیا ستا به وي څه فایده درکړي
کومه ماتي به وي ما لره راکړي
بولمه زه دا خبره ستا د هدر
ثابتیږي فضیلت د رنګ په قدر
وخوري سترګي که څه هم مشر موسی دی
قدر زیات د محمد رسول الله دی
که نه يې له اشارته پوهېدلی
نو به ما وي حال واضح درته لیکلی
فضیلت ثابت له پاره د آدم دی
که څه هم پیدا ابلیس ډېر مقدم دی

دی ډیر ستر فرق د سپین لمر او سپینو ستوریو
او داغسي د گلانو او د شوریو
خو په تا باندي له جهله فرق معدوم دی
گنه زما او ستا بنایست او ځای معلوم دی
نه یې ته مگر زما د لاس نوکر یې
ته په نورو گلو زما له خوا افسر یې
شین کیږې تر ما لومړی ددې له پاره
چي مخلوق زماپه راتگ کړې خبرداره
ولي کړي چي سلطان تگ یوې علاقي ته
نوکران یې ځي له مخه دې ولکي ته
نو شک نسته زه سلطان ته مي نوکر یې
په ځینو فوجو زما له خوا افسر یې
فضیلت زما ثابت کړی پاک الله دی
اخیرت بهتره تاته تر اولا دی

ولا اخرت خیرو من لک الا ولی

زه بهتر او ته کهتر وروره په دا سوې
زه پر ځای د آخرت او ته دنیا سوې
دلته تک وهل گلاب دواړه لاسونه
ورته وې ویل دا لاندي درې شعرونه
ای نرگسه ته یې خوشي ویهدونکی
څنگه نه یې په خپل عیب پوهیدونکی
که تقدیم تاته سوای قدر درکولای
نه تاخیر د نقصان ماته رسولای
زما او ستا په توپیر هرڅوک پوهیدونکی
زه یوسف ته یې زما زیری کونکی

د نرگس جواب و گلاب ته :

نرگیس وه په ډیر کاوړه ورته کتلي
سر یې وځړاوه بیا یې وه ویلي

چي راپورته نرگيس سر کئ له گرېوانه
وې ويل گلاب ته داسي رقم جانه
که ته فخر کړې په نخښو راکړې ځور
زه وام نه دئ ذات دا ستا په هغه طور
که ته لاندي تر غاښو کړې ماهرويانو
بيا وي ما لره کاته د معشوقانو
اوس ښکاره سو ستا له دې لاندي بيانه
نه يې ته مگر په نزد د دوی ارزانه
ژويي تا تر غاښو لاندي دوی په وېره
نو ښکاره يې کړه گناه دا ستا کثيره
که ته نه وای له باغيانو مردارانو
نه به ښو وای په دبلو کښي فساريانو
ستا د فخر مثال داسي دی نتلي
لکه پېش چي حکماوو ، دی ويلي
طفيلي د بل ډوډۍ ته ور روان يې
بيا له حرصه څخه داسي پهلوان يې
شرم نه لرې بيا داسي يې زوی مړی
له کاسې دريمي تا وي غاب کش کړی
نو قسم خورم په قد نري بالا خپل
او په رنگ تک زېړ دا سپين او خوشنما خپل
په دې سره مخ چي لرې ته ځای ويجاړه
په دې شنه زمردي زرغونه غاړه
که لاس وانه خلې زياتي له دغه جنگه
او گوښه نسې زما د کور له څنگه
خاماخا به پرې کړم ستا لاري روښانه
په ژوندون کښي به دې کړم زر پرېشانه
بند به تا کړم زه په دې خپلو ازغو کښي
پرې به نه ږدمه بيا تا په مجلسو کښي
آينده ژوند به دې ټول زه د ذلت کړم
په مجلس کښي به ښکاره دا ستا خفت کړم

تــه پــه دې ســپېره ســور مــخ داســي آفــت يــې
پــه مجلــس کښــي ځمــا د جنــد پــه عيبــو خفــت يــې
او لګيــا تــه ددې ســره مــخ پــه وصــفو يــې
او ســره لــه دې تــه ډک تــول پــه عيبــو يــې
او نــه وينــي غوټــۍ زمــا دي درګــي درګــي
تــول صــورت ځمــا پــه مثــال د يــار د ســترګي
زه اصــيل يــم طبيعــت مــي د وفــا دی
او دا ســتا خاصــيت د ظلــم او د جفــا دی
هغــه زه يــم چــي لمــړی وار پورتــه ســر کــړم
پــه زور ځيــري د ســپېرې مځکــي ځيګــر کــړم
چــابکي تلــوار لــه دې حيثــه کومــه
لومــړی ځــان مجلــس د يــار تــه رســومه
کــه څــه هــم د شــرافت دی ځمــا دا جــال
امــا نــه کــړم زه پــه دې خبــره خيــال
کــه زمــا ارزو د بحــث د تعطيــل وای
ســتا عيــوب بــه مــي ښــوولې پــه تفصيــل وای
خــو زه نــه دراوږدومــه د بحــث متــې
پــه مجلــس کښــي مــي مــدام وي ســترګي پټــې
وخــورې ســترګي زه بيخــي يــم باجمالــه
کــه تــه لمــر زه دي پــه ورکــه يــم خوشــاله
زه څښتــن يــم د ښــو خويــو ضــوابطو
کــه تــه يــې ســياره زه لــه ثوابتــو
او ډيــر فــرق دی د ختــونکي او لوېــدونکي
عــزت مــن وي تــل پخپــل ځــای کښېنســتونکي
زيــاتي مــه کــوه خبــري دلــې دوري
ګنبــه کــړم بــه دربنکــاره د آســمان ســتوري
وګــوره ځــان تــه دا ســتا تېــره ازغــي دي
زمــا ښاخونــه زرغونــه زمــردي دي
زمــا د تــول صــورت او د پــانو لــرو بــرو
ولاړيــږي خــوش بــويي د مشــک عنبــرو

او قسم زما په هغه خالق رحمان دی
چې بې ستني درولی شین آسمان دی
ښایسته کړي یې دی شین آسمان په ستورو
او سپېره مځکه په گلو او په ښورو
که په تا زه څه گیله یا ښکنځا پور کړم
خاماخا به بل دا ستا په ازغو اور کړم
سپېري خاوري به توی ستا په خوله کومي کړم
ټول مخلوق ته به ښکاره ستا شومي کړم
ولې نه گوري خپل عیب بیا یې په خواب کښې
ښه ویلي دي رومي دتا په باب کښې
د ابن رومي له ما و تا حکایت دی
ستا له جهلې کړی ستا دا شکایت دی

د ابن رومي اشعار:
تعجب کوم له حاله د گلابه
نه پوهیږي د خپل ځان په پیچ و تابه
نې سته پام خیال خپلو پیچلو سرو بلگو ته
نې د پای دونه د سر خپلو کتو ته
او د منځ زیړي دانې یې داسې ایسي
پر خرمن یې لکه ژیړ خوشایي ویشي
شرمنده گلاب ددې شاعر بیتو کښې
له شهیدي ورځې پټ مخ په بلگو کښې
لوړ یې سر کی پس له ځنډه څخه داسې
لکه بندي چې له خپل بنده څخه خلاص سي
په ازغو حمله کوي په نرگیس غلې
په نیزو باندې وي دا طور وهلې
ورته وي ویل ازلي یې ښوئېدلی
ځکه یې په هر مجلس کښې غوریدلی
پر مخ پروت یې ته هر ځای په مجلسو کښې
راشین کیږې ته د بولو په ځایو کښې

په مجلس کښې چې د خلګو په تا ګیر وي
نو دي مخ له شرمندګی په هر وخت زیر وي
دغه خوی خاصیت دا ستا د رذالت دی
له پاک ځایه پاکي مځکې دي نفرت دی
ستا راتګ وي داسې شان بې اعتباره
نه شین کیږي په پاک ځای بې له انباره
ستا چورتونه خوا د پروتې ته خپاره وي
ګڼه لوی فرق د پیاده او دسپاره وي
زه یم سپورته یې پیاده تلونکی په لار یې
زه یم ناست ته یې ولاړ ځما خدمت ګار یې
که نه وای ستا سپیني سترګي د ډېري
تا به نکړای بیا له ما سره خبري
د ګلاب چې په دلیل خوښ طبیعت سو
په شعرو لګیا ده خپل ځان ده صفت سو

د ګلاب د صفت اشعار:

سره کالي چې وي یو وار زما چا لیدلي
بیا یې زما مجلس لیدو ته زړه وسلي
د معشوق چې زما د سره رنګ کالي خوښ وي
ځکه هر وخت د عاشق راپسې کښ وي
او تېز بوی چې زما د ګل په تن کښې خپور دی
د عاشق معشوق زما په لوري زور دی
په رښتیا به تا تر حد کړی تیری وي
نسته څوک چې په حال و ستا خبر وي
که پیالي راسي مجلس ته د شرابو
زه کوم جلوه په خپل ډول د اصحابو
د شرابو هم په هغه وخت لذت وي
چې یې سور زما د رنګ په نان صورت وي
که زه ته یوه مجلس ته ورسو دواړه
زه یم ناست ته یې ولاړ په خمه غاړه

چـــي عاشـــق وي خپـــل معشـــوق تـــه ورغلـــي
زه بيـــدار يـــم تاتـــه خـــوب وي درغلـــي
او نـــه وينـــم هـــيڅ عاشـــق پـــه ملـــک کـــي داسـي
چـــي گـــلاب پـــه پتــکـــي نـــه ننباســـي
کـــه خيـــال وکـــړي پـــه زلمـــي او پېغلـــه دواړه
وي بـــې گـــل ځمـــا پـــه ســـر او يـــا تـــر غـــاړه

د نرگس جواب گلاب ته :

نـــرگيس وويـــل زه د شـــمع هـــم مجلـــس يـــم
ســـترگي ـ کســـي ـ د محفـــل او د اولـــس يـــم
زه هـــر وخـــت لـــه معشـــوقو ســـره نـــديم يـــم
پيـــدا کـــړي خـــداى تعـــالي پـــه ښـــه تقـــويم يـــم
خـــداى راکـــړى مـــا تـــه داســـي ښـــه صـــورت دى
يـــو مـــي اوږد قـــد بـــل مـــي ډيـــر زيـــاتِ لطافـــت دى
کلـــه ســـتا داســـي نرمـــي خوشـــنمايي وه
کلـــه ســـتا داســـي ســـم قـــد او رعنـــايي وه
چـــي زمـــا گـــل پـــه شـــان د ســـترگو د معشـــوق ســـو
نـــو زمـــا پـــه عاشـــقانو ډيـــر حقـــوق ســـو
نـــو گـــلاب تســـليم ونـــه کـــي پـــه دا کښـــي
ډيـــر لـــوى فـــرق دى پـــه مـــابين زمـــا او ســـتا کښـــي
او ســـتا رنـــگ خـــو تـــک ژړ وزي لـــه ترابـــو
نـــه لـــري مشـــابهت تـــه لـــه شـــرابو
شـــروع کـــړى عبـــث تـــا صـــفت د رنـــگ دى

....

ولـــي زه اولـــى راحـــت د اروحـــو يـــم
خـــوښ د دواړو د عاشـــق او معشـــوقو يـــم
خـــو لاس تـــه وينـــي د بـــل عيـــب درگـــي درگـــي
پټـــوي مـــدام د خپلـــه عيبـــه ســـترگي

نرگیس په ځواب کې وایي :

دلته وو نرگیس په ډیر لذت خندلي
د خپل خان اشعار یې وه ورته ویلي
قد زما دي خالق سم بالا جوړ کړي
د سلامي سر نورو ماته دي ځوړ کړي
صنوبر مې خجالت خوري له سم والي
د حسد کین یې پر زړه کوي تویوالی
چې عاشق مې وي لیدلي سترگي توري
نه یې وس وي چې به تم سي ورته چیري
په دي سستو باړوگانو مې دا کار وي
اشارت کښي د عاشق مې انتظار وي
تر بیداره هوسۍ ښکلي سترگي زما وي
چې تمیز ورته ورکړي لوی مولا وي
بې زما له سترگو خوند د مجلس نه وي
چې زما ځان وي ښکاره خوند یې هغه وي
زه چې کښېنم په مجلس کښي لوړه غاړه
لوړ و کښته ټیټوي راته سر واړه
خبردار! زه کړم قسم په واړو گلو
او په سترگو باڼوگان بیدو خپلو
او قسم پخپل لطیف صورت کومه
تر بیدې هوسۍ زه ښې سترگي لرمه
کسي تور مې د زمریانو ښکار کوینه
عقل فکر د عشاقو کشوینه
او قسم خورم په شوخۍ د سترگو خپلو
او په دې پستکۍ غاړه ښو ویلو
که نه سوې منع له دې جگړې گلابه
زه به کړم خونه د جند ستا ورخرابه
وبه کړم په تا د غم داسې کارونه
باڼو گان به مې په تا وکړي وارونه

صورت ازغن به ستا یو مخه درخراب کړم
دا سور مخ به دي در خړپړ په تراب کړم
زه تر تا لطیف نری او خوشنما یم
د عاشق او معشوقو زه مدعایم
فایدې ډیري دي ما دوی ته رسولي
په نرمي او بوی ته څه لري نتلي
چي ور اخلي مي تکلیف نه ورکومه
ستا په طور ګوتي نه ورخوږومه
له ښښتنه د عشق سترګي پټومه
چي یاران کړو سره یو ځای دا کومه
په دې عصر باندي بیا زه نګابان یم
د نوکر په شاني باندي پاسبان یم
خدمت کړم ددوی تر څو چي مي طاقت وي
په مجلس کي مي ویل په نزاکت وي !
نه وینم صورت د فخر زه په تا کښي
ولي زه ناست یم تر مخ او ته په شا کښي

د ګلاب ځواب نرګیس ته :

له دې ګایي ګلاب سور او په کاوړ سو
له خپل ځایه د میدان میان ته ورلوړ سو
وې ول ما قسم په هغه خدای دی کړی
چي انسان یې له نطفې دی پیدا کړی
چي دغه نطفه یې غوښه کړه څه کلکه
ښایسته مخ تې رنګ ورکی له شفقه
او د مخ رنګ یې پیدا کی سور خوشرنګه
ځای د مچي کی پیدا ګلابي رنګه
په څه ته کوې تېری له خپله ورخه !
او لرې نه په ښایست کي دونه برخه
غواړې دا چي ځان پاچا کې د ګلانو!
زه تا نه بولم نرګسه د سیالانو

فخر کړي په سم قامت او په جګوالي
او زه يم بارخو د يار په نازکوالي
د معشوق شونډې زما په پانو سرې وي
په خوږو نارو يې زما پاڼې لندې وي
په مجلس کښې چې شروع سي ربابونه
او راوړي ورته د ميو ډک جامونه
مستېدونکي شراب هغه ډير عالي وي
چې يې رنګ زما په طور ګلابي وي!
او دا ستا رنګ خو تک ژړ وي له ترابه!
نه لري مشابهت ته له شرابه
شروع کړي تا عبث صفت د رنګ دی!
او تر ځان د ښايسته سره دي جنګ دی
ولې زه او ته راحت د ارواحو يو!
خوښ موږ دواړه د عاشق او معشوقو يو
خوار سې ته د بل عيب وينې درګې
پټوي مدام له خپله عيبه سترګې!

د نرګس جواب ګلاب ته :

دلته وو نرګيس له قهره رېږدېدلی !
په لينګي د تن وو جګ دی درېدلی!
ويل قسم خورمه د پاک خدای په لويوالي
چې يې کړي ښايسته سترګي په توروالي
او په سترګو کي دغه طور پيدا کړه
ور يې سترګو ته لدې کسو رڼا کړه
نو د سترګو به دا طور فضيلت وي
دوی روڼ کړي په هر ځای کي حقيقت وي
سر دتا به له اوږو څخه جلا کړم
د غرور جام به دي پر مخ برملا کړم
که درېږې نه له دې جنګه خناسه
زه به توره کړم ضرور له ملا راخلاصه

دخپـل صـورت پـه وینـو بـه دي سـور کـړم
دا سـره خولـه بـه دي لـه خاوروځخـه پُـر کـړم
دا سـور مـخ نـه دئ دتـا مگـر تـه کـړې شَـیَن
دا ادب دی زمـا پـه تاسـي فـرض عـین
دتـا جـنگ زمـا سـره هسـي جهالـت دی !
ولـي زمـا سـترگي بـاغو لـره زینـت دی!
لـوی هیبـت دی زمـا د سـتو بـاڼو گـانو
وي ښـې سـترگي ښایسـته د ښایسـتگانو
عـاقلان واړه پـه دې گـای دي پـوه سـوي
عاشـق تـل پـه دام د سـترگو وي تـپ سـوی
پسـله دې نـرگیس پـه هـټ هـټ وه خنـدلي
دا دوه لانـدي بیـتې وه ورتـه ویلـي
ښایسـت زمـا دي پـه گلانـو کښـي وتلـی
زمـا ښایسـت دی د گلانـو صـورت نتلـی
ښایسـت خونـد کـوي ښایسـت دی تـل د سـترگو
تـه لـري یـو سـور مـخ بـل ازغـي د زرلگـو

د گلاب ځواب نرگس ته

دلتـه وځـي د گـلاب خبـر د واکـه
پـه لـوی ږغ کـوي خبـره هیبـت ناکـه
ول ذلـت دی تاتـه دغـه کـار درکـړی
مـداماً دي وي خپـل ځـان پـه بـل خـرڅ کـړی
مـاعزت دی لـدې کـاره ځـه مونـدلی
چـي خپـل ځـان مـي دی لـه بلـه پـاک سـاتلی
ای نرگسـه تـه یـې شـمار د ظالمـانو
ولـي یـې رقیـب غلـیم د عاشـقانو
ولـي وي چـي د خوښـی مجلـس جـوړ سـوی
او تـه یـې دغـه مجلـس تـه ورگـډ سـوی!
او عاشـق د معشـوقو تنـدي تـه گـوري
پـه گرېـوان بانـدې د مینـي اوښـي اوري!

ای جاهلــــه تـــــاوي غـــــاړه غزولـــــي
وي دا ســـــپيني ســـــترگي تـــــا وراړولـــــي
نــــو عاشــــق معشــــوق پــــه زړه کښــــي وهــــل کيــــږي
لــــه دې کلکــــو ســــترگو ســــتا څخــــه نوليــــږي
نــــو دتــــا د رقيبــــانو پــــه شــــان ځــــواک دی!
او زمــــا مــــخ د ځوارلســــم تــــر ســــپوږمۍ پــــاک دی
د عاشــــق معشــــوق زمــــا پــــه لــــوري کــــښ وي!
پســــته خولــــه او ســــور صــــورت زمــــا يــــې خــــوښ وي
مــــه باســــه پــــه ســــپين ســــترگي کښــــي ځــــان د لاري
ســــترگي ســــتا هــــم زمــــا ښايســــت تــــه وي بيــــداري
نــــه لــــرې تــــه عقــــل فکــــر پــــه خپــــل ځــــان کښــــي
زمــــا د ســــره بــــاړخو اولــــس تــــه پــــه ارمــــان کښــــي!
چــــي زه داســــي تــــر تــــازه يــــم پــــوړ لــــه پــــوړه
تــــه پــــه جــــنگ راځــــې وماتــــه څنگــــه شــــوړه؟
د جگــــړې پــــه ميــــدان کښــــي بــــه دي ښکيــــل کــــړم
پــــه نيــــزو د وجــــود خپــــل بــــه دي غلبيــــل کــــړم
تــــه لــــه لاســــه د ارذالــــو هــــر ځــــای گيــــر يــــې
لــــه مرضــــه د ذلتــــه پــــه مــــخ ژړ يــــې !
گــــلاب کښينســــتی نــــرگيس و لتيــــدلی
پــــه کــــاوړ کــــاوړ وو داســــي ږغيــــدلی
ورتــــه وې ول ای ســــورمخي بــــې وفــــا
ای څښتننــــه! د ډيــــر ظلــــم د جفــــا!
دا ژړگــــي زمــــا د مــــخ وروره لــــه دې ده
زمــــا پــــر تــــا دا علامــــه د غلبــــې ده
او کتــــاب د علمــــاوو پــــه گــــای پــــر دی
حکمــــا وای خــــوړجن د رنگــــو ســــور دی!
د نــــرگيس ښکــــاره پــــه دغــــه وخــــت کــــي ډس وو
بيــــا کښېنســــتی پخپــــل ځــــای بانــــدي نــــرگيس وو
لــــه دي گــــايي د نــــرگيس هغــــه بيتــــاب ســــو
ور ولاړ ميــــان د ميــــدان تــــه گــــل گــــلاب ســــو

وې ول داسي د خپل ښکلي رنګ په باب کښي
دادی هغه رنګ چي زه وم په غلاب کښي
په غلاف کښي وم یوه تږته زه ښکلي
پاک خدای دغه رنګ په ما وو لورولی
تر خدای څوک زیات دی د رنګ په ورکولو
زه ډیر فخر کړم په دې سره رنګ په ګلو

د نرګس جواب ګلاب ته :

نرګیس وویل فضیلت زما پر تا ده
زما ژړ رنګ د عاشق معشوق رضا ده
ګلاب وویل زیړسوی ته له خویه بده
زیړ دي مخ سو زما د سره مخ له حسده
ته خبر یي زما د ګل څونه فایدي دي
د انسان د صورت له ما څه نفقي دي
طبیبان وایي ګلاب ډیر د فایدې دئ
مقوي دئ د څګر او د معدې دئ
زړه کلمو رحم ته نفع ورکومه
د دقت د خفګان اور دفع کومه
چي زه یم حیا له ما سره وي سمه
څکه ده قوه د باده په ما کي کمه
بل زما د بنفشي ګل دی تاکلي
یم په وېش د مشتري کښي ورغلي
نو زما وچ او لوند ګل دواړه د ښې دي
د عاشق معشوق له ما څخه فایدي دي
نرګیس وویله ړوند بي بصیرته
خوشنما ښکاریږي ستړګي له صورته
زما له صورته د طبیب استفادې وي
د عاشق معشوق صورت ته مي فایدي وي
حرکت مي وي قواو ته ورکړي
درد د سر د بلغمي مي وي ورک کړي

زمـــا د گـــل د خـــوراک کـــار د حیرانـــی وي
پیـــــدا کـــړي مـــي قـــوت شـــهوانی وي
د عاشـــق معشـــوق بـــه دواړو خـــو ښـــه دا وي
چـــي پـــه ښـــور بانـــدي راغلـــي رگ د بـــاه وي
بـــل خاصـــیت زمـــا مـــدام داســـي کومـــه
لـــه نســـو او لاد د غـــلا زه غورځـــو مـــه
گـــرم مـــزاج تـــه کـــه طبیـــب یـــم بیـــا ور کـــړي
مـــا وي درد د ســـر فـــي الحالـــه ور زیـــات کـــړي
بـــدل نـــه لـــرم مصـــلح زمـــا بنفشـــه ده
منســـوب ســـتوري د مـــریخ تـــه زمـــا تنـــه ده
چـــي پـــه مـــا کښـــي خلـــگ ډیـــري نفعـــي گـــوري
زمـــا پـــه صـــورت پســـي عاشـــق او معشـــوق ښـــوري
ور کـــوي جـــواب بیـــا هـــم گـــلاب پـــوره
ورتـــه وایـــي ایٔ ژبـــړ مخـــي او شـــوره
درپکښـــي ډیـــر خاصـــیتونه شـــهواني دي
نـــو معلـــوم کارونـــه ســـتا تـــول شـــیطاني دي
ســـوه ښـــکاره زمـــوږ پـــر تاســـي بهتـــري وي
ســـتا مـــریخ زمـــا بـــه ســـتوري مشـــتري وي
مـــریخ نحـــث ا و مشـــتري پـــه ســـعادت وي
زه ســـوم ســـعد نصـــیبه ســـتا بـــه شـــقاوت وي
نـــرگیس ســـو ولاړ ور ووتـــي میـــدان تـــه
ورتـــه وي ویـــل دا ښـــکاره ده تـــول جهـــان تـــه
او ســـتا صـــورت تـــه جـــوړ لـــه دغـــه لـــوري غـــم دی
چـــي قـــوت شـــهواني در پکښـــي کـــم دی
ورتـــه وویـــل گـــلاب بیـــا پـــه تیـــزي
بـــدي نـــه ده بـــرا بـــره لـــه نیکـــي
نـــو نـــرگیس کـــړ پـــر گـــلاب بانـــدي خپـــړي
وي ویـــل هســـي دي زړه گـــي را کـــي دړي
اچـــولی دی آواز دی پـــه جهـــان کښـــي
ښـــه دي بنـــد ســـوي پـــه دلیـــل او پـــه برهـــان کښـــي

زمـا او سـتا خـو پـه ښایسـت وسـوه جگـړه
پـه نیکـي بـدي یـي نـه درلـوده اړه
پـه دلیـل کښـي چـي سـوي بنـد دا دی خفـت سـو
تـه سـوي کښـتـه زمـا پـه برخـه فضیلت سـو
زه ولاړ یـم پـه میـدان کښـي لکـه میـخ
وکـیښ تـا ولـي؟ لـه دي بحـث څخـه بیـخ
کـه انکـار کـوې لـه دي لویـه اثباتـه
درځـه ولاړ سـو تـر عـادل قاضـي ا لقضـاته
پـه دې گـای و د گـلاب ډیـر کـاوړ سـوی
لـه خپـل ځایـه و دسـتي ور ولاړ سـوی
ویـل راځـه قاضـي خـو ډیـر یـم زه لیـدلي
څـو څـو واري یـې پـه خپـل لاس اخیسـتلي
سـندونه د ښایسـت ښـیم یـو دبلـه
مقابـل کـه سـتا پـه مـخ بـه در کـړي کلـه
نـو وه دواړه دې قاضـي تـه ورغلـي
هـر یـوه خپـل دلیلونـه وه ویلـي
سـندونو تـې قاضـي و حیـرت وړی
پـو هیـده نـه، کوم گـرم وبـولي نومـوړی
ولـي هـر یـو لـه دوي دوو داسـي رقـم وو
چـي خاونـد د یـو دلیـل برهـان محکـم وو

پای

د طبیب او منجم مناظره

علامه محمد مؤمن یو لوی عالم وو
د خپل وخت عالمان ټول ورته تسلیم وو
دی وایي زه وم په علم پسي تللئ
په اوږده سیاحت باندي وم وتلئ
او هادي د شوق راکړئ داسي حال وو
چورت مي بند په معارفو د خپل خیال وو
تللې دلته سترګي ځما نکوم شین
وایم وم زه د وینتیا، خوب تر مابین
چي کومه زه اوس خیال هغه حالت ته
یا ګډ سوئ دلته وم فردوس جنت ته
چي کاته مي په دې باغ کښي ازدحام وو
جمع سوي په زرو خواص عوام وو
لوی او پراخ مجلس دې باغ کښي جوړ سوئ
په زرو اولس ؤ دلته جمع سوئ
د مجلس په منځ کښي ناست دي دوه سپین ږیري
جامې سپیني اما وې زړې او څیري
نه درلوده یوه هم زره له حلمه
کړې هر یو فخر له حیثه د خپل علمه
هغه یو وایي زما علم بالا دئ
هغه بل وایي ستا کوټ زما طلا دئ
یو له دوی نه منجم ایراني وو
او دا بل طبیب حاذق یوناني وو

منجم ته پروت تقویم او اسطرلاب وو
او طبیب ته خو بوتله یو کتاب وو
پیښ تر میان د دوی جنجال وو زما گله
هر یو ځان بولي افضله تر ها بله
سره وایي یو پر بل باندي عیبونه
پخپل میان کښي ورکوي دوي پېغورونه
گرداورد مخلوق د خدای پر ځرخېدلي
غوږ ئې وُ د دوی په بحث باندي نیولي
نو زه هم یم دې مجلس ته ورغلی
ورنژدې سوم چي مې رږغ وي اورېدلی
اورم یو صفت د ستورو د سما کړي
دغه بل بیان له درده له دوا کړي
یو بیان کوي له قطبه له افاقه
دا بل گډ وي بیا له زهرو له تریاقه
یو خبري له کرو څه د آسمان کړي
دغه بل بحث له رگو څه د انسان کړي
یو خبري د پیروني، ثریا کړي
هغه بل بحث د سودا او د صفرا کړي
دا یو وایي د جلابو ښې فایدې دي
دا بل وایي د زهرې داسي خاصې دي
دا یو وایي ژړې تبې له صفرا دي
دا بل وایي د مریخ علامې دا دي
دا یو وایي سر دردي پېښ له نزلې وي
دا بل وایي د زحل دا علامې وي
وروسته دا سره دعوه وه توده سوې
په لوی جنگ او په جگړه وه بدله سوې
دلته دی منجم دېر کاوږ اخیستی
ځما خیال سو اوس به زړه وي پکښي وستی
ورته وې ویل په لوړ رږغ اې جاهله!
دعوه کړې دلوی کمال یې ناقابله

د مـرض پېژنـد گلوي وي سـتا لـه کومـه
دوا تاتـه سـوه د څـه رويـه معلومـه
پـه کـوم علـم سـتا د رنـځ پېژنـد گلوي وي
پـه کـوم عقـل تـا ورکـړې دوايـي وي
زه دې پېـژنم پـه هـر مـرگ کښـې شـامل يـې
مريضـانو تـه پـه ځـای د عزرائيـل يـې
زړونـه تـا د رنځورانـو وي چـاودلي
لـه صـورتو دې اروحونـه وي ايسـتلي
سـتا پـه ټـول عمـر د ژونـد دغسـې حـال وي
شـپه او ورځ دې د مـريض پـه مـرگ کښـې خيـال وي
يـې لېـوه پوسـت دې د مـړي وي اغوسـتی
د مـريض دې وي لـه زهـره زړگـی وسـتی
تېـر دې عمـر کـړ پـه څنگـه عبثـاتو
خيـال و فکـر دې وي بنـد پـه قـاذوراتو
صـفت کـړی تـا د هغـې کړې زيـات وي
چـې شـل واره يـې پـه تـا کـړی قـاذورات وي
همېشـه دې خيـال د بولـو پـه ايسـتو وي
فکـر سـتا لگيـا د حـيض پـه راوسـتو وي
بـولې تـه دغـه د خپـل علـم لـوی فـيض
چـې کـړې بنـد او يـا جـاري د ښځـې حـيض
دلتـه نـه منـي څـوک سـتا خبـري وازي
پـه بوتـل کښـې پېـژنې څنگـه متيـازي
گـوتي ږدې پـه نـبض څرنگـه مکـاره
افلاطـون لـه نبضـه نـه ؤ خبـرداره
د ابـن سـينا پـه قـانون سـتا داغسـې خيـال دئ
بـا ايـات منـزل د ذوالجـلال دئ
د ذکريـا پـه زوی دې دارنگـه يقيـن دئ
لکـه زمـوږ چـې پـه سيدالمرسـلين دئ
خيـال او فکـر سـتا پـه دې خبـر خطـاء دی
چـې هـر څـه جـالينوس وايـي دا رښتيـا دی

دا حـدیث بـه زمـوږ د پـاک نبـی صـادق وي
طبیـب دي ضـامن اګـر کـه دی حـاذق وي
خطاایسـتي نوشـتې د سـفلینوس یـې
او تېـر ایستی قـول ګـای د جـالینوس یـې
نلـرې سـند دلیـل بېلـه سـقراطه
نـدي سـته بـل پېشـوا بـې بقراطـه
افسـوس کـړم سـتا د مـرض پـه پېژنـدلو
لعنـت سـه سـتا د دوا پـه ورکولـو
خـدای دي ژغـوري مسـلمان دا سـتا لـه حالـه
پـه تـول کـور کښـې نلـرې ګولـه حلالـه
زهـر کـړې د مسـلمان پـه خولـه کښـې کوتـه
ورک سـې تـه ورک دي سـه طـب ورکـه دي ګتـه

د طبیب جواب نجومګر ته :

زوړ طبیـب یـې سـو جـواب لـره بـې تابـه
ورتـه وایـي پـه قهـر اې خانـه خرابـه
زه دي پېـژنم چـې تـه دروغجـن خـاص یـې
چـې وسـواس پیـدا کـوي هغـه خنـاس یـې
خبـر نـه یـې لـه جوړښتـه د خپـل ځانـه
نـو ګـڼ یـې پـر څـه لـه ستورو لـه آسمانه
تـا ړومبـی بایـد خپـل ځـان واي پېژنـدلی
بیـا نـو وای پـه آسـمانو کښـې رغېـدلی
اوازه دي ده د ډول پـه طـور لـوړه
او خبـري او دلیـل دي دی نـاوړه
جـوړ دی دا نـاوړه صـورت سـتا لـه دروغـو
بـوی دي نـه ځـی د ربنتیـاؤ لـه دماغـه
یـې وعـده خطـا کـوونکی لـه عرقوبـه
دروغجـن یـې لـه اولاده د یعقوبـه
کـم بـه نـه یـې لـه مسـلمة الکذابـه
غلـط یـې د لګېـدو د خپـل حسـابه

خطا ډېره تر رښتيا وي ستا په لار کښي
ګناه ډېره تر ثواب وي ستا په کار کښي
ورته ګوره څومره لوی دی دا ستا عيب
چي همېش دي ژبه وي لګيا په غيب
خطا ايستي دي په دې رقم سلطان دئ
وايي دا خاصيت د ستورو د آسمان دئ
ملايانو ته دي دا دليل عالي دئ
ورته وايي نجوم علم سماوي دئ
وايي يو له علماؤ زورور ؤ
د شيطان سوی تعبير په نجومګر ؤ
دغه ګای د عالم لوی او معتبر دئ
چي شيطان ذکر سي مراد ترې نجومګر دئ
که په دې کښي شک شبهه دا ستا پيدا ده
تفسير سوې ددې قول د الله ده

(ولقد زين السماء الدنيا بمصابح و جعلنها رجوما للشياطين)

بيا که څوک له تا سره په دې قايل سي
چي رښتيا دا په ادريس باندي نازل سي
نو زه وايم اوس له خلګو څخه هېر وي
نه ميندېږي هغه علم چي دی ډېر وي
او رښتيا کومه تا ته دغه ګپه
په لږ علم نه ميندېږي د ده نفعه
دا چي سته پدغه نفع نه حاصلېږي
ډېر لري فايده هغه بيا نه ميندېږي
او ور پېښه به عامل ته مدام دا وي
په فتنو او په بلا به مبتلا وي
نجومګر وي همېشه ذليل بې قدره
ګوله نه سي دی ميندلای بېله غدره

اچولي په دروا غو کښي حساب يې
خطا ايستي جنتري او اسطرلاب يې
منکر زه ستا د حسبان او د حساب يم
مدعي د جنتري او اسطرلاب يم
باندي کړې چي طبيب وه دا وارونه
په مجلس کي ټکولي دوه لاسونه
منجم چي وې پدې نيزه وهلي
طبيب وې پدې ميدان کښي څرخېدلي

د منجم جواب طبيب ته :

سترګي سرې د منجم سوې له دليله
ورته وې ويل دا څه وايي اې رذيله
ذم دي و وايو د دې لوی عالم ولي؟
دا خو نه دی د مريض پلار چي يې سکولي
لږ بدي که يې وه هغه تا کړه غټه
و دي کړه له وصف و مدحي زياتي نټه
د دښمن دي ړندې تل سترګي د سر وي
بولي عيب چي په هغه کي خاص هنر وي
اې ناپوه طبيبه ولي ګډ يې پرته
لمر سپوږمۍ دي پيدا کړي خالق څه ته؟
پيدا کړي چي سپوږمۍ لمر ذوالجلال دي
دا ځلانـدي علامي زمو ږ د کال دي
ګرزولي ستوري نخښي دي تياري
سميږي په دوي د بر او بحر لاري
نجوم داسي دی بهتره په علومو
لکه بدر چي افضل دی د نجومو
او خاته لوېدل د ستورو کار روښان دی
سند لوی دا په وجود د پاک سبحان دی
چرت لره په حقايقو د اسرارو
پام کوه په دقايقو د اشارو

چي ښکاره تولو کښي غوره رياضي وي
له قدرت کامله د اللهي وي
څنګې کړه پيدا دا مځکې آسمانونه
څنګې تک وهل پر مځکه باندي غرونه
وکړه فکر په جوړښت د آسمانو کښي
د برجانو په ځايو ستورو روڼو کښي
او خيال کوه د ستورو په حالت کښي
په سستي او په تيزي د حرکت کښي
وخورې اې زوړه دا پلنه لنده غاړه
چرت کړه ته په دربدن او په ولاړه
خيال کوه چي ګرزې څنګه لوړ پلونه
مدعا له دې پلو څه دي آسمانونه
سم سربېره پدې ميندو کښته باندي
چي هغه دي دا اووه مځکې ځلاندي
او په تاثيراتو د اجرامو لوړو پاکو
چي هغه دي عبارت لدې افلاکو
چي تاثير کړي په اجرامو، کښتو ورکو
او هغه دی عبارت له اوو مځکو
روند خو نه يې دا کُرې دي ګرځېدونکي
آسمانونه په سرو دي څرخېدونکي
او نه ويني د آسمان ستوري پاشلي
او خيالي برجان يې دي ورته تاکلي
خيال کوه په سپېره مځکه شنه فلک کښي
د آسمان په بام د مځکي په فرش کلک کښي
دريابونه دي پر مځکه ګرځولي
لوی دښتونې دي پر مځکه غوړولي
غرونې دي پر سپېره مځکه لوړ وهلي
دريابونې دي په مځکي کښي کېندلي
دا عالم لري کامل صانع بې شانه
نې سوای بل څوک جوړولای بې يزدانه

د دې تولــو شــاهدي پــه دې بيــان ده
چــې څښتــن د آســمانو مځکــو رحمــان ده
او پــه دوي کښــي تصرف کــوي خــداى داســي
چــې د ده د حکمــت هــر راز تقاضــا ســي
نــو زه وايــم د هغــه خــالق حمدونــه
چــې بــل کــړي پــر آســمان دي څراغونــه
او تــه يــې طبيبــه داســې بــې اثــره
لــه دې ســتورو وې تــر اوســه نــاخبره

د طبيب جواب منجم ته :
طبيــب وويــل حــق دي وايســت لــه بغلــه
دونــده ډېــر زيــادت بــه نــه کــوې دغلــه
تــه خــو وايــې چــې افضــل علــم نجــوم دئ
زه وام دا کــار د موضــوع څخــه معلــوم دئ
شــرف فضــل خــو د هــر علــم وچــړه
پــه موضــوع د هغــه علــم لــري اړه
او هغــه چــې معلــق وي پــه ده بانــدي
لــه فــروع او لــه اصولو لانــدي بانــدي
نــو چــې ده موضــوع اشــرفه اي وچــړه
نــو لــري تفضــيل ښــه والــی پــده اړه
او موضــوع د علــم طــب خــو ده روښانــه
بحــث بيــان دی لــه صــورته د انســانه
ځــان کــړه پــوه دا هغــه نفــس انســاني دئ
معلــق وربــوري روح حيــواني دئ
او انســان خــو دئ اشــرف د مخلوقــاتو
دئ بهتــر تــر تولــو ســتورو ســماواتو
خبــر يــې تــول علمــا د نــړۍ غــولي
علــم اصــغر د انســان ښکلــی وجــود بــولي
دا چــې نخښــي دي ځلانــدي پــه بشــر کښــي
لکــه دي چــې پــه علــم اکبــر ياســتر کښــي

هـــر انســـان گويـــا يـــو علـــم تنهـــايي دئ
ځکـــه دی يـــاد پـــه عـــالم انفـــرادي دئ
لکـــه علـــم اکبـــر دال پـــه صـــنع د ســـبحان دئ
علـــم اصـــغر هـــم پداغـــه رقـــم روښـــان دئ
کـــه منـــي نـــه لـــه تســـليمه دي زړه مـــات وي
راســـه داســـي هـــم د پـــاک خـــالق آيـــات وي :

(قوله تعالى : سنريهم اياتينا في الافاق و في انفسكم)

شـــاهد دا قـــول د خـــدای پـــه دې رقـــم دئ
چـــې ووړ صـــورت د دې انســـان تنهـــا عـــالم دئ
پـــه دې بـــل قـــول کښـــي هـــم خيـــال وکـــه وروره
نـــو بـــه خـــلاص ســـو زه او تـــه لـــه شـــر و شـــوره :

(وفي الارض آيات للموقنين و في انفسكم افلا تبصرون)

گـــوا وجـــود د انســـان دارنگـــه روښـــان دئ
مقابـــل د ســـتري مځکـــي د آســـمان دئ
ا ودا قـــول د اســـدالله علـــی دئ
چـــې زوم يـــا راو هـــم وصـــي د پـــاک نبـــي دئ
دوا ســـتا لـــه تـــاده خـــو ورک درځخـــه کـــام دئ
درد دتـــا لـــه تـــادي هســـي دي خيـــال خـــام دئ
تـــه گومـــان کـــوې چـــې زمـــا صـــورت ووړ يـــا کـــم دئ
او پـــه تـــا کښـــي مثـــال ځـــای د ټـــول عـــالم دئ
او تفصـــيل د دې خبـــري زمـــا لالـــه !
وغـــواړه بيـــا لـــه کتـــاب طيـــف الخيالـــه
او تـــه نـــه پوهېـــږې دا څونـــده لـــوی شـــان دئ
چـــې انســـان ووړ خليفـــه د پـــاک ســـبحان دئ
ولـــي نـــه يـــې خبـــر تـــه لـــه دې حـــالاتو
دئ دا ووړ انســـان اشـــرف د مخلوقـــاتو

پیـدا کـړئ پـاک الله پـه ښـه تقـویم دئ
پـه ښایسـت د صـورت یـې ټـول مخلـوق تسلیم دئ
ورتـه گـوره ! تکلـم ئـې ځـه خاصـه ده
او ورکــړې عقــل و فکــر اندېښنــه ده
او د عقــل جــواهر غمــی روښانــه
لــري دی پــه خزانــه کــې زمــا جانــه
ځــه بــه ووایــي پــه دی کــي ای زوی مــړې
د جــواب لاره مــې ده درتــه تــړلې
خو دا سـتا چې جواب بنـد سي بیـا ښکنځـا کـړې
پـه ښکنځـا کښـي نـامعقول جـواب اداء کـړې

د منجم جواب طبیب ته :

نجــومگر وایــي زه نــه یــم بــې ځوابــه
نــه ؤ لیــري دا خبــر ســتا لــه ثوابــه
کاشـکي نـه وای گـډ دا سـتا پـه کـار کښـي غـدر
بیــا بــه وای پــه علمــاؤ کښـې ســتا صــدر
خــو دا ســتا داســي نــاوړه بــد کردار وي
د پیســو پــه لــوري بانــدي دي رفتــا روي
مــدعي او غلــیم ســتا هــر وخــت صــحت وي
او آرزو د رنــــځ کـــړوالی د صـــحت وي
د ځلمیــانو، پېغلــو غــاښي دي وي کښلــی
دا مــرض دي پــه غــاښو کښــي دی لیــدلی
پــه چمــو کــې د کمکــو ســترگي وریتــې
او لــري داغــه بــې شــانه فایــدې غتــې
نــری تبــه وي د غــاړي تــه وا دق دئ
او رنځــور د ســل تــه وایــي صــورت دي ټیـک دئ
همیشــه دي کــار د غــبن وي غابنــه
جــوړ نــاجوړ کــړې وا فاســده دي ده وینــه
او تــه غــواړې چــې وجــود د ســړي خــام کــړې
نــو وریــړې رگ وشــریان یــا هفــت انــدام کــړې

۸۸

په دې وينه دي وي صورت د ده نتلی
سيک يې وي د قوي صورت څخه وتلی
د دې ضعفه کړې وجود رنځور في الحاله
نو ضرور شروع کوي دوا في الحاله
د پاک خدای مخلوق ته تا کښلی نشتر وي
صورت د دوی دا ستا له لاسه کنډ کپر وي
دی ناپوه وي نه کوي وتاته قهر
ما دارو غوښته او ته راکوې زهر
ولې بې ويني بدن څو ژر فاني وي
له دې وينې باقي ذات انساني وي
نو دا کار ستا له مکرونو دښمني وي
او د دوی له عين جهل و نادانۍ وي
يا دی دا چل وي اولس لره جوړ کړئ
په سر ملاؤ دي سور اور وي ور بل کړئ
دا علاج نه دی څو تې کړې له فساده
څوک راندده کړې ځيني باسې له اولاده
چې ئې ستا له ټګۍ مکره څه سُراغ وي
په ويلو ستا بې تل خيال د درواغ وي
نه وي ستا خيال د مريض په جوړېدو کښې
ستا خيال بند وي د روپو په اخيستو کښې
تا ورکړی د پياز تخم ګندنه وي
او يو څه مرچ سخورې او هريړه وي
په عسلو کښې دي دغه وي لړلي
دا معجون فلاسفه وي تا بللي
او ورکړي دي هډوکي د پستې وي
ګاوزبان او شاهتره او هريړې وي
په عسلو کښې يې څو زمانه پرېږدې
بيا نو نوم د مفرح وربانـدي کښېږدې
په عوض د روپو سپينو کښې ستا دا و ي
يا نه ، لس کځورې ډکې د ثنا وي

یـــاري، کـــړې ضـــعیف ســـنا لـــه دې رقمـــه
بیـــا نلکـــه د ایمـــالې کـــړې ورتـــه ســـمه
چـې څـوک ګـوري کـار او فعـل دي بـې فایـدې وي
هـــم معجـــون فلاســـفه دي بـــې فایـــدې وي
نـــه وي دوی څـــاځکي د بولـــو درولـــی
نـــې بـــدوکي تـــه قـــوت وي رســـولی
مفـــرح دي نســـوای وینـــه صـــافولای
نـــې اعضـــاؤ تـــه قـــوت ســـوای ورکـــولای
نـــه وي ســـتا کپـــه مګـــر جـــوړه لـــه دې وي
رســـکفور او یـــا ســـنګیا ژونـــدی پکښـــي وي
نـــه وي ســـتا ګولـــی خبـــره کـــوم رډه
مګـــر وي جمـــال کوټـــه وربانـــدي ګـــډه
مړ دا ستا لـه زهـرو تـریخ حلق وي پـه ګـور کښـي
ژونـدي وي ورهـم اخیسـتي پخپـل کـور کښـي
نـو کـه سـې بقـراط هـم دي سـه مـخ پرتـه !
او کـه سـي فـارابی دربـه نسـم وره تـه !

نجومګر ته د طبیب ځواب :

ورتـــه وویـــل طبیـــب څـــه وایـــې کذابـــه
ولـــي ډار نکـــړې د لـــوی خـــدای لـــه عذابـــه
خپلـــي کـــوډي دي ســـوي هیـــري زه دي ســـرکړم
چـــي هـــر چاتـــه وایـــي دیـــن دنیـــا بـــه درکـــړم
هســـي کـــړي ســـتا وجـــود خوشـــي خـــولې دي
خبـــر نـــه یـــې ځمـــا د جنـــد څونـــده پلـــې دي
لـــرم څـــو رګـــه هـــډوکي لانـــدي بانـــدي
څـــو بیلـــي ځمـــا پـــه جنـــد کښـــي دي بهانـــدي
او پـــه ســـر مـــي ګرځیـــدلي څـــه قشـــله ده
او اغوســـتې ځمـــا دمـــاغ څنګـــه پـــرده ده
او نـــری ســـترګي ځمـــا څـــو طـــبقې دي
ورغلـــي د کـــوم ځایـــه د دې پلـــې دي

خبـــر نـــه يـــې د كـــوتې خپلـــه د گلـــه !
لـــه اوږدوالـــي لـــه گردوالـــي لـــه ســر خپلـــه !
فـــرق د گـــرد او د اوږده پـــر تـــا معـــدوم دئ
خوشـــي تـــا ايښـــي پـــه ځـــان د مـــنجم نـــوم دئ
كومـــه نښـــه ده چـــي تـــا وي څـــه چـــم كـــړئ
طـــول او عـــرض دي د بـــلاد وي پـــه ســـم كـــړئ
حلقـــه اعتـــدالي بـــه ستـــا د پـــلار چيـــري عـــالي وي
چـــي زده كـــړئ تـــا تحـــول اعتـــدالي وي
او لـــه كومـــه بـــه دا ســـتا ذات روا دار وي
چـــي دركـــړئ يـــې د دغـــي حلقـــې كـــار وي
تـــه د څـــه لـــه رويـــه گـــډ يـــې اې كذابـــه !
خبـــر نـــه يـــې د افـــراط د اســـطرلابه
لـــه كـــاوړه څخـــه جـــوش خـــوري لكـــه دېـــگ
كلـــه تـــا ليـــد زيـــچ كامـــل د الـــغ بېـــگ
كلـــه تـــا ليـــدلى زيـــچ د خـــوارزمي دئ
نـــه ليـــدلئ تـــا د معشـــر بلخـــي دئ
د ابوحنيفـــه زيـــچ درتـــه پـــه كـــوم ځـــاى دي وتلـــى
د نصـــرالدين كتـــاب دي چيـــري دئ ليـــدلئ
د محمدشـــا هنـــدي پـــه زيـــچ كلـــه خبـــر وې
د ابـــن حمـــاد لـــه حالـــه تـــه كلـــه اتـــر وې
چـــي بيـــان كـــوې لـــه حالـــه نامعلومـــه
مجموعـــه بهادرخـــاني دي وه لـــه كومـــه
چـــي يـــو نـــه دئ تـــا لـــه دې لا لـــوړ ويلـــى
نـــه دي تـــا د رســـد هـــيڅ كتـــاب ليـــدلى
نـــو پـــه پورتـــه كښتـــو ســـتورو څـــه خبـــر يـــې
پـــه روڼـــه او پـــه تيـــاره بـــه څـــه اتـــر يـــې
نزدېكـــت د يـــوه بـــل تـــه دي څـــه خيـــال دئ
پـــه حركـــت او ســـكونت دي څـــه شـــى دال دئ
فقـــط تـــا ليـــدلى وړانـــدي حـــال پـــه خـــواب دئ
چـــي ويـــل چـــا مشـــتري رب الاربـــاب دئ

رب الارباب د علم دوی ؤ دئ بللی
نو تا هم علم دی ده لره تاکلی
کلدانیانو ته زحل ستوری ښاغلی
رب النوعې زراعت ته ؤ تاکلی
دا ستا خیال هم په هغه رقم مطلق دی
وا د کښت کار په زحل پوري معلق دئ
او مصریانو بیا خوښ کړئ دا کار سیخ دئ
رب النوع د جنګو ستوری مریخ دئ
نو ستا هم خوښ د مصریانو دغه رنګ دئ
وایي دا مریخ پاچا د کار د جنګ دئ
اورانیانو به ویل د لمر عظمت دئ
رب النوع د حکمت او سلطنت دئ
د زهری ستوری د دوی د خوشالتیاؤ
عطارد یې د قلم او ادباء ؤ
او ستا هم په همدغو خیال د ربښتیا ده
او د دوی د خطا یې وجهه همدا ده
آنحضرت وایي په دې سه خبرداره
په غیب نه دی څوک عالم بې کردګاره
نو که ته سې بطلیموس یې بد کرداره
ابوریحان که سې لا ورکه ستا څه لا ره
ورته کړی چې طبیب دغه تقریر ؤ
منجم د ده جواب ته منتظر ؤ
ورته وویل منجم څنګه غداره
نه یې ته لا له آسمانه خبرداره
څنګه علم دی ستا، ما پوه کړه مردوده
چې پوه نه یې له کُرې د عطارده
اې طبیبه! ته ناپوه یې څما ندیمه
پېژنده د عطارد به وي لازمه
چې عطارد نه پېژنې دا دي خطا ده
د عطارد مزاج سوړ بل یې وچتیا ده

او عــدد د عطــارد بــه داســي شــان وي
ممتــزج د دې نــژدې ســتوري پــه شــان وي
چــي گــډ وي لــه بلــه ســتوري دئ راغلــي
د هغــه پــه طبيعــت وي گرځېــدلي
چــي تنهــا وي بيــا يــې دا رنگــه رواج وي
چــي پــه هــر بــرج کښــي وي هغــه يــې مــزاج وي
دليلــي لــه انــدامو کــه دي ســراغ وي
يــوه ژبــه ـ بــل تــالو ـ بــل دي دمــاغ وي
پــه وښــو کښــي يــې همغــه طــور واښکــي وي
چــي وي پــروت او مــات يــا گــوډ د ده لينگــي وي
لکــه مــاش يــا بــاقلا او نــور څېزونــه
چــي خپــاره وي او گــردي لــري صــورتونه
قطــر ډېــر کــم د دې ســتوري چــي يادېــږي
فقــط درې زره او څــو ويشــت ميلــه کيــږي
نــو پــه صــورت کښــي عطــارد داســي رقــم دئ
لــه دريمــي د دې مځکــي ســره ســم دئ
حکمــاؤ پــه دې گــای کــړي تســليم دئ
عطــارد بيــا پــر ســپوږمۍ بانــدي دوه نــيم دئ
او بيــا دا عطــارد لمــر تــه ډېــر نــژدې دي
ورنــژدې تــر ســپېرې مځکــي يــو پــه درې دي
او لــه مځکــي چــي لمــر لــوی ښکاريــږي وروره
لــه عطــارده ايســی، دئ يــو پــه څلــوره
روښانتيــا د لمــر د ده هســي عــالي دی
ځکــې غــولي لــه ســپوږمۍ څخــه خــالي دی
پــه رفتــار کښــي داســي طــور دی ښــاغلي
پــه ثانيــه کښــي پنځــه دېــرش ميلــه وي تللــي
پــه تيــزي د تــگ کښــي داســي کښېــوتلی
پــه درې مياشــتي وي پــه لمــر راځرخېــدلی
چــي د دې کُــرې تېــز تــگ کښــي داســي حــال دئ
نــو فقــط اتــه اتيــا ورځــي يــې کــال دئ

چې په مځکه یې پنځه کاله پوره وي
عطارد کښې یې بیا شل کاله موده وي
چې لري دی نزدېکت د لمر د غولي
شاعران یې دفتري د آسمان بولي
بت پرستو د یونان ته هم ښاغلی
پیغمبر د معبودانو یې بللی
نزدېکت چې یې نژدې لمر ته جلی دي
عطارد بللی ځینو اردلی دئ

طبیب منجم ته د تریخي په اړه جواب ورکوي :

طبیب وایي مه کوه خبر بې شُده
خوشي ګډ یې له کُرې له عطارده
څه خبر یې چې د لمر آسمان منشي دي
چا ویله چې د ژړ لمر اردلي دي
له تیزي لویي بې کومه نفعه یوسي
ښه به داوي چې په حال د تریخي پوه سي
تریخی لوښی یا کڅوړه کار یې دا دئ
اوبه تروې ترخې پکښې ستا د صفرا دي
د تمامو حکماؤ دغه ګای دئ
دغه تریخی د صفرا د اوبو ځای دئ
او د تریخي چې کوم ځای د بدنې دئ
په ژور والي د خوا لوړی د اینې دئ
او د دې تریخي دي دوې لاري همداسي
په ژوروالي د اینې یوه لار باسي
لار دوهمه ئې هم نه ده تللې پرته
نسې دا لار کُلمې لوړي معده کښته
دا کمکي تریخي دا شان خدمت کوینه
له اینې تروې اوبه راځکوینه
په ژوروالي د اینې کې کوي داسي
د صفرا تروې اوبه ځینې راباسي

نو چې رايي وړه د خپل صورت گوښوته
په دې بله لار يې اچوي کُلمو ته
په دې جذب کښي يوه لويه فايده دا که
له اوبو څه د صفرا اينه کړي پاکه
او کُلمو ته چې صفرا ورتويوينه
له فضله شيه کُلمې پر پاکوينه
او کُلمې محتاجه وي صفا کېدو ته
د فضله شيو و تنگ او پاکېدو ته
ولې پاته وي په دې کُلمه بهانده
له بقيه د دې غذا فضله ښوهانده
نو له دوی څخه ککړي تل کُلمې وي
پاکي کړي د صفرا په اوبو دې دي
دغه لار چې و معدې ته ځي گلرنگه
دغه لار ده پيدا کړې خالق تنگه
او فايدې يې دا تنگي داسي کوينه
د صفرا اوبه معدې ته ورولينه
او له خلط بلغمي يې کړي روښانه
په پرېولو د دې صفرا سره زما جانه
د بلغم په پيدا ايښت که څوک حالي وي
پيدا ايښت کوي هورې چې نس خالي وي
چې معده دي سوه خالي په دغه حال کښي
پيدا کيږي بلغمي خلط په دې گوال کښي
پيدا ايښت که د بلغمو وای په دې کښي
پر زمان او وخت ډکوالی د معدي کښي
نو به بيا د دې بلغمو فساد داوي
هميشه به يې گډوالی د غذا وي
او فايده د تريخي جذب د صفرا ده
زياتي څما بيان و توري ته سودا ده

عطـــارد تاتـــه پـــه ښـــه نـــه درځـــي وروره !
لـــه احوالـــه د خپـــل تريخـــي ځـــان مـــه ژغـــوره !

منجم طبيب ته د زهرې په اړه جواب وايي :

اې طبيبـــه ځـــان كـــړه پـــوه پـــه ســـياراتو
زيـــاتي پرېـــږده بحـــث د تريخـــي قـــاذوراتو
تـــه پخپـــل خيـــال د معـــدې او د ځګـــر يـــې
لـــه ښايســـته د زهـــرى بـــه څـــه خبـــر يـــې
ســـتا لـــه ډېـــري ناپوهـــى كـــار لـــر او بـــر دى
ســـيار ســـتورى د زهـــرى ســـعد اصـــغر دى
نـــو پـــه رنـــځ بـــه د مـــريض تـــه څـــه پوهېـــږې
چـــي پـــوه نـــه يـــې تـــور بلغـــم د زهـــرى زېـــږې
د اثـــره د زهـــرې پيـــدا بلغـــم وي
د مـــريض وجـــود تـــه جـــوړ لـــدوى څـــه غـــم وي
ښكـــاره كـــار د طـــب پـــه غـــدر جهالـــت كـــړي
چـــي پـــوه نـــه يـــې دا پـــه كـــوم رنـــځ دلالـــت كـــړي
د زهـــرى نســـبت هغـــه رنـــځ تـــه رښتيـــا ســـي
چـــي دار نـــځ لـــه بلغمـــي مـــادي پيـــدا ســـي
يـــا بـــه وي مونـــدلى رنـــځ لـــه دې علتـــه
لـــه ســـړنى دى ډېروالـــى د شـــهوته
د بـــډوكى معـــدې رنـــځ لـــه مثـــانې دى
ناجوړتيـــا د عشـــق مـــدام واى لـــه زهـــري دى
لـــه اخلاطـــو دال پـــه هغـــه خلـــط عـــالي وي
چـــي خاونـــد د رطوبـــت يـــې غريـــزي وي
لـــه انـــدامو د زهرهـــرې چتـــه او غـــوړه
پـــه رحـــم او پـــه ځـــايو د شـــهوت اړه
پـــه بـــډوكو، وريځـــو ســـترګو كـــه وېښتـــان ســـي
پـــه څنګلـــو، پـــه بغـــل، جنـــد كبنـــي چـــي ورېښتـــان ســـي
پـــه وښـــو كبنـــي د زهـــرى داســـي حالـــت دئ
پـــه خـــوږو خوشـــبويو، بانـــدي دلالـــت دئ

په دریـیم آسـمان کښـي دا سـتوری عـالي دئ
پـه مـزاج بانـدي سـوړ، لونـد، مؤنـث لیلـی دئ
پـه ښایسـت کښـي دا زهـره ده عالیشـانه
پـه رنـګ سـپینه بیخـي ډېـره ده روښانـه
صـورت د دې لـه سـپېرې مځکـي سـره سـم دي
فقـط درې سـوه دېـرش میلـه ځینـي کـم دي
پـه رفتـار کښـي داسـي شـاني ده هلکـه
تـر عطـارد سستـه تـر مځکـي ده چابکـه
پـه ثانیـه کښـي دوه ویشـت میلـه تـګ د دې ده
لـه دې تیـزه ده چـي لمـر تـه ورنـژدې ده
او لـه لمـره څونـده قـدر انـدازه ده
اتـه اتیـا لکـه او شـپږ کـروړې مسـافه ده
پـه کُـره کښـي د زهـری چـي شـپېته کلـن وي
زمـوږ دې مځکـي کښـي هغـه څلوېښـت کلـن وي
او ښایسـت د زهـری پـه دغـه شـان ده
شـاعران وایـي دا نـاوې د آسـمان ده

منجم ته د طبیب څواب د انسان د توري په اړه:

طبیـب وایـي تـه زهـری تـه خوشـي ګـورې
راسـه زه دي کـړم خبـر لـه خپلـه تـوري
پـه ښایسـت د زهـری ولـي یـې خوشـاله؟
څـان خبـر کـړه د خپـل تـوري لـه احوالـه
راسـه پـوه دي کـړم لـه تـوري اې ګلرنګـه !
تـوری سـتا بـه وي یـوه عضـوه تـور رنګـه
دئ جـوړ سـوئ لـه اشـیاؤ مشوشـه
لـه شـراینو او ورېـدونو او لـه غوښـو
نـه لـري حـس دی پخپلـه اې ښـاغلې
پـرده ده د حـس پـر ده، راګرځېـدلې
څـان خبـر کـړه څـای د تـوری داسـي شـان دئ
پـه کـیڼ لـوري څـای د ده د معـدې میـان دئ

لـه پوښتـی سـره پیوسـت یـې دي کـورږوالی
کښتـه ځـای یـې د معـدې دی ژوروالـی
او فایـده د دغـه تـوری واوره د اده :
د ایـنې څخـه ځې جـذب د سـودا ده
دوه کـارېزه لـه دې ځایـه لتېـدلي
داسـي شـان دي په دې لار کښـي سره تللـي
دا یـو ځـی سم ژوروالـی دا ینـي تـه
داغـه بـل ځـی برابـر خـولې د معـدې تـه
چـي ایـنې تـه ځـي د دې ښـاخ فایـده د اده :
د ایـنې څخـه یـې جـذب د سـودا ده
یـو سـودا لـه دې وینـي جذبوینـه
بـل پـاکی لـدې خلطـه ورکوینـه
چـي معـدې تـه ځـي د دې کـار څـه خـدمت دئ
او پـه کـوم کـار د معـدې پـاره خفـت دئ
ورکـوي تېنگښـت معـدې تـه لانـدي بانـدي
پـه شـهوت او پـه رضـا ده غـذا بانـدي
تعجـب دا دئ دغـه تـوری دئ کـه ریخـی
تـوری هـم داسـي خـدمت کـړي لکـه تریخـي
دواړه عضـوي د کـارو پـه کـړن کښـي خـم دي
او پـه گـای ـ مـزاج او کـار کښـي سره سـم دي
ولـي تریخـی دی پـه ښې لـوري صـنمه
تـوری دئ پـه کینـه خـوا کښـي د بدنـه
او د تریخـي کـارېز ځـي هغـه رودې تـه
لـوري لـوري ژوروالـی د ایـنې تـه
او د تـوري کـاریز ځـي هغـي بیـدیا تـه
د ژوروالـی د ایـنې خـو کښتـه خواتـه
او د دغـه ژوروالـي فایـده د اده :
وای سـودا ډېـره غلیظـه تـر صـفرا ده
نـو یـې ځکـه کښتـی خواتـه پیـل وکـړی
پـه خـدمت یـې د خپـل جـذب میـل وکـړی

او صـــفرا چـــي پـــه کُلمـــو بانـــدي توئيـــږي
ســـودا هـــم خـــولې د معـــدې تـــه ور توئيـــږي
کـــه صـــفرا ښـــويي کُلمـــې ورپاکوينـــه
ســـودا نـــس تـــه د غـــذا شـــوق ورکوينـــه
نـــو وگـــوره د خـــالق حکمـــت تـــه داســـي
پـــه دې شـــان صـــفرا ســـودا لـــه وينـــو باســـي
منجمـــه هســـي ســـتا ســـترگي ړنـــدې دي
وريکښـــې تـــر زهـــرى ســـتري علامـــې دي

د منجم جواب طبيب ته د لمر د ستوري په باب :-

ورتـــه وايـــي مـــنجم پرېـــږده دا ريخـــي
بحـــث دي پرېـــږده اوس د تـــوري او د تريخـــي
ورتـــه وې ويـــل اې طبيبـــه بـــې اثـــره !
زيـــاتي پرېـــږده بحـــث د دې تـــوري لـــه سره !
خبـــر نـــه يـــم چـــرت دا ســـتا تـــه جـوړ څـه غـم دئ
لا پـــوه نـــه يـــې چـــي ژيـــړ لمـــر نـــور اعظـم دئ
او ســـره لـــه دي چـــي کـــار دي داســـي شـــان دئ
همېشـــه دي د گرمـــۍ خشـــکۍ بيـــان دئ
او داغـــه خشـــکي گرمـــي دا ســـتا دلبـــره
دا خـــودي تـــول د اثـــر څخـــه د لمـــره
پـــه څلـــرم آســـمان پـــوره کيـــږي دا لمـــر نـــرم
مـــزاج دي د لمـــر يـــو خوشـــک او دوهـــم گـــرم
رنگينـــه، ســـپين يـــا پـــه طـــور نـــارنجي دئ
ا ودا لمـــر يـــو مـــذکر او بـــل ليلـــى دئ
لـــه اندامو ئـــې طـــرف ښـــى او زړه، ســـينه ده
خولـــه او ســـترگي ښـــې خـــوا بلـــه معـــده ده
ناجوړتيـــا او رنـــځ تـــې کـــار پـــه دغـــه وړه دی
يـــو د ســـترگو درد دوهـــم درد يـــې د زړه دئ
او هغـــه امـــراض بـــه هـــم اثـــر د دوی وي
چـــي پيـــښ ســـوی لـــه گرمـــۍ او لـــه خوشـــکۍ وي

له ادویو او اغذیو یې تول هغه وي
چې حرارت یې څلرمه درجه وي
له میوو یې یو گنی بل ترنجبین دئ
او انگور خرما ، عسل ـ انارشیرین دئ
له رنگو څخې یو ژړ او بل سپین شی دئ
له چارپایو یې یو آس او بل غویی دئ
له مرغانو یې باز ، چرگ ، دریم قمری دئ
له اقرباؤ دال په وروڼو پلار عالی دئ
او تکی د لمر گوا لوی دریاب د اور دئ
همېشه په دې تکی کښې شرو شور دئ
لری دا لمر لمبې ستري هولناکي
او پکښې دي شغلې زیاتي دحشتناکي
یو عجب حال وي په دې لمر کښې پېښ سوئ
یو یو داغ وي تر همدې مخکې لوی سوئ
تل وي پېښ لوی شوروشر په دې کُره کښې
هسې موږ یو ناخبره په دې وره کښې
وړاندي خلک که څه زیات وه په پوهی کښې
نې ؤ خیال د لمر په دونده لوړوالی کښې
که د دې لمر په لوړوالی وای پوه سوئ
په لروالی کښې بې نه وای خطا سوئ
له دوی ځینو ویل داسې په تعجیله
لمر زیات نه دئ له پنځه اویاؤ میله
او د ځینو خیال په دې کښې دا رقم دئ
د یونان مقدوني په کچه سم دئ
له لوړوالی چې ئې نه دئ خبر سوئ
ځکه دی دوی په تخمین کښې خطا سوئ
ښکاره سوې نن صحیح اندازه دا ده
نهه نیم کروړه میله زموږ تر سر بالا ده
ایسې کم ولې چې موږ یې گورو لور ته
نهه نیم کروړه له سرو زموږ دئ پورته

حساب سوې په ميلو باندي پوره ده
پنځه شپېته زره د دغه لمر قطره ده
که حساب يې څوک و دې قطر ته وکي
اووه لس لکه واره لمر لوی دی تر مځکي
نسبت مځکي ته لمر داسي سپک دئ واوره :
لکه تول چي د لرگي سپک دي تر خاوره
هو دروند سوئ لمر د حيثه د غټون دئ
تر درنده مځکه شل لکه واره درون دئ
که څوک سبع سيارې سره د مځکي
کښېږدي تول د ترازو په يو پله کي
او لمر کښېږدي په پله بله کښي ياره
باندي دروند به وي يو (خ) يو نيم سل واره
که وغواړي چي يو غونډ جوړ دا رقم وي
چي په صورت کښي د ژړي لمر سره سم وي
نو يو لک شل زره مځکي که پيدا وي
بيا دا تولي يو ځای کړي لوی پاچا وي
که پيدا کړي پاک رحمن له دې رقمه
نو به سي بيا د ژړي لمر سره سمه
مځکي ستوري سياره چي څه يادېږي
دغه تول د لمر په زور باند څرخېږي
او په تولو کښي له دې لمره روښا ده
شپه او ورځ هم لدغه څخه پيدا ده
نوهغه ستوري چي لمر لره نژدې دئ
د هغو ستورو کُری ډېري روښې دي
يو روښيُ دي بل چټک درومي په لار کښي
د بريښنا په شاني تيزي په رفتار کښي
او چي ليري دي له دې ژړه صنمه
د هغو روښا نسبت دوی ته ده کمه
له هيئته چي بيان کومه تاته
په رفتار کښي يې سستي ده ډېره زياته

نو هغو ته دي سپوږمۍ خالق ورکړي
کړې ليري يې په دوی دي رڼې کړې
نهه نيم کروړه يې ده مځکه ليري کړې
ځکه ده خالق يوه سپوږمۍ ورکړې
نوی کروړه نهه اويا لکه کيوان دئ
دا تاريکه رڼه کړې پاک يزدان دئ
د ژړې لمر رڼا کمه ور رسيږي
ځکه درې حلقې اولس سپوږمۍ څرخيږي
مثلاً د عطارد کره هلکه
نژدې ده لمر ته درې کروړه اويا لکه
دا په ميله انگريزي، دربنيم تاته
کم و زيات ئې دې د بيت له وجهې پاته
نزديکت يې لمر ته دا رنگه جلې دي
چامنشي او چا بللي اردلي دي
په ثانيه کښې پنځه دېرش ميله وي تللې
په اته اتيا ورځې په لمر وي څرخېدلې
چې تر ټولو کرو تېزه دا کُره ده
نو په ټولو کرو باندي دا رڼه ده
نوی کروړه نه اويا لکه دلبره
دونده ميله زحل ليری دئ له لمره
په سستي کښې به يې داسې طور کار وي
په ثانيه کښې بې پنځه ميله رفتا روي
تقريباً په يو دېرش کاله دا ښاغلی
ياري وي په ژړې لمر راگرځېدلی
که پيدا سي تياره دا رنگه کامله
چې وهې دا څلور سوه اتيا ميله
په ساعت کښې چې دغه قدر رفتا روي
له عطارده به ئې لمر ته داسې کار وي
بې سقوطه کې دغسې رفتار وسي
په اته کاله دوه سوه شپې به رسي

او کـــه بیـــا لـــه ژړي لمـــره ســـي روانـــه
پـــه څـــو شـــپو کښـــي ور رســـېږي ځمـــا جانـــه
بـــې ســـقوطه کـــه دغـــه طـــور تـــګ وســـي
شـــپاړس کالـــه یـــو شـــپږ دېرشـــو ورځـــو رســـي
او کـــه بیـــا دا طیـــاره لـــه مځکـــي ګلـــه !
طیـــاره بـــان لـــوري د لمـــر تـــه ووهلـــه
بـــې ســـقوطه کـــې دغـــه طـــور تـــګ وســـي
پـــه دوه ویشـــت کالـــه دوه نـــیم ســـوو ورځـــو رســـي
او کـــه بیـــا دا طیـــاره لـــه لمـــره جانـــه
طیـــاره بـــان خـــوا د مـــریخ تـــه کـــړه روانـــه
بـــې ســـقوطه کـــه دغســـي رفتـــا روســـي
پـــه څلـــوردېرش کالـــه یـــو ســـل ورځـــو بـــه رســـي
او کـــه بیـــا دا طیـــاره لـــه لمـــره ګلـــه !
طیـــاره بـــان د مشـــتري خواتـــه وهلـــه
بـــې ســـقوطه کـــې دغســـي رفتـــا روســـي
پـــه یـــو ســـل اووه لـــس کالـــه تـــه بـــه رســـي
او کـــه بیـــا دا طیـــاره لـــه لمـــره جانـــه
طیـــاره بـــان خـــوا د زحـــل تـــه کـــړه روانـــه
بـــې ســـقوطه کـــه دغســـي رفتـــا روســـي
پـــه درې ســـوه څـــوارلس کالـــه کښـــي بـــه رســـي
ســـل و شـــل کـــه وي لـــه مـــا زیـــات و کـــم ســـوي
هغـــه دي ســـجع د بیتـــه پاتـــه ســـوي
باســـي دغـــه کـــم بیـــان د طبیـــب وانـــې
مفصـــل بیـــان یـــې نـــوي کتـــاب غـــواړي
اې طبیبـــه ! کـــه مـــې پـــوه دریـــم تـــر میـــان واي
ځمـــا و ســـتا فـــرق بـــه د مځکـــي د آســـمان واي
زه بیـــان درتـــه کـــوم د ژړي لمـــره !
تـــه خبـــري کـــړي لـــه تـــوري یـــا ځګـــره

ځما بيان به له مريخ او له زهرې وي
ستا د تورې او د تريخې او اينې وي

د طبيب جواب منجم ته د دماغ په اړه :

ورته وايي طبيب نه يې، بې ووچاغه
زير لمر پرېږده ځان خبر کړه له دماغه
چې حالي پخپل دماغ نه يې له سره
د ژړې لمر بحث دي بولم بې اثره
که د چا د باطني عضوي سراغ وي
د باطن به لمړنى عضوه دماغ وي
دا دماغ دى يو جوهر سپين اوسط رنګه
صورت يې دئ د مخروطي شکل د څنګه
مخروطي شکل ښکارېږي په خپل غولي
د اعضاؤ رئيس دى حکماء بولي
له څلورو شيو څخه يې جوړتيا ده
شراين، وريد او ماغزه هم يې غشاء ده
حکماؤ چې ايستلى څه سراغ دئ
واى له دې څلورو لوړ جوړ دا دماغ دئ
غشا نرمه چې لرى دماغ پر غولي
کتابونه دغه ام الدماغ بولي
هر هغه چې له حکمت څخه حالي ده
واى دماغ چينه د روح نفساني ده
نفساني روح له همدې دماغ څه زيږي
لکه لښتى چې له ونې څه بېليږي
او بيا ورو ورو ځي په پلو کې ځما له خياله
چې څو ورسيږي تول بدن ته لاله
او جوهر د دماغ نرم داسې کار ؤ
له نرمى په بهېدن د دماغ ډار ؤ
چې خالق ؤ په دې شان نرى ليدلى
ځکې ؤ په پرده نرمه کښې ساتلى

بيا يې داسې شانې دا پرده عالي کړه
په قشله تېنګه د سرکښۍ يې خوندي کړه
تېنګې ولې کړه د سر قشله دلداره
خاص ساتلو ته د دې عضوي لپاره
او په صورت د دې دماغ ياري نظر کړه
باندې ډکې دغه لو کاسه د سر کړه
د دماغ او ککرۍ تر ميان ځما دله
له دننې خوا پرده وګرځوله
دغه تېنګه پرده داسې ده جليله
له هډوکو د ککرۍ ده متصله
دا پرده پر ګرځېدلې شاوخوا ده
په مثال د يو جامې د استر دا ده
او د دې پردې غليظې څه فايده ده
دا لپاره د دماغ يو وقايه ده
له اشياؤ غريبه ؤ يې ساتينه
خوا د دې له هيڅ شي نه وړپرېږدينه
او په دې طور حکمت سبحانی ده
دا پرده منبع د روح نفساني ده
چې جوهر ؤ د مغزو نرۍ بې پته
بهيده له هسې محضې حرکته
نو خدای ور دوی ته يوه نرۍ پرده کړه
بل يې ور د ککرۍ تېنګه کاسه کړه
پورتې جوړه کړه له دې دماغه ځکه
چې دا دفع د آفات ورڅخه وکه
دماغ نرم ؤ کې داسې پرده نه وای
له هډوکو بې ليدلې صدمه وای
د کوټې کلکو هډوکو دا کولای
همېشه بې صدمه ور رسولای
نو کړه دا پرده خالق د دوی تر ميانه
د هډوکو له ضرر ئې کړه امانه

بل جوړ کړی خالق یو رباط عالی دئ
او پیوسته د هډوکو له کوټی دئ
برابره ده د نس خواته راغلې
په نسو د دې دماغ ده ګرځېدلې
چې کړې پورته اشیا هغه نیوه کېږي
او نسو د دې دماغ ته ورتوئیږي
او بل دا رباط دی ډا ډول ښاغلې
د دماغ لنده بل ده وی ټینګ ساتلی
په دې ځای کښې فکر کړه تر خپله وسه
خدای دماغ لره ورکړېدی درې نسه
او هر نس یې په پسور د خپل کښې راسي
او خاوند د دوو جزو دی داسې راسي
تقاضا د حکمت کړې کارونه داسې
نس مقدم د دماغ ډېر مزي راباسي
ولې ؤ ظاهردی داسې له خواصو
د منشاء ؤ د شعبو او د حواسو
او د دغه نس نومورې داسې خال دئ
په باطن د ده کښې ځای دحس او خیال دئ
مناسب د دې شیانو ځای نری دئ
پیدا کړئ خالق ځکه نری دی دئ
نس مواخر د دماغ کلک دی زما یاره
تر مقدم د دماغ خاص د دې لپاره
ولې دا راز هر سړی ته برملا دئ
د منشاء شعبې یې ستري د نخا دئ
او باطن د ده د حفظ ځای مکان دئ
نو ورکړی دا ټینګ والی پاک سبحان دئ
نس مواخر د دماغ وروره دا رقم دئ
تر نس مقدم د دماغ لږ په کچه کم دئ
نس اوسط د دماغ واوره داسې شان دئ
یو دهلیز ګواکي د دوو نسو تر میان دئ

ډېر ښه ځای دئ نسته هیڅ په دې کښې مکر
دغه نس دئ ځای د فکر او د ذکر
که څوک فکر کړي د دغه نس په وړه کښې
مقدم مواخر روح یو ځای په ده کښې
یو ځای کېږي په دې نس کښې ځما دلبره
روح مقدم دالته له روح مواخره
اې جاهله ته بیان کوې له لمره
او خبر نه یې د حاله له خپل سره
یو وار ځان د خپل دماغ په حال خبر کړه
پس له هغه بیا بیان د ژړې لمر کړه
چې خبر نه ئې د خپل دماغ له حاله
پوهېدل به دي په لمر بولم محاله

د منجم جواب طبیب ته د مریخ په اړه :
اې طبیبه باید ستا فکر راسخ وای
په ضرر نفع پوه سوي د مریخ وای
پرېږده تریخی ـ توری راسه زه دي سیخ کړم
سم دي پوه په فوایدو د مریخ کړم
سیاره ستوري د مریخ دي داسې جانه
وهي ستر‌گي د پنځم فلک آسمانه
نجمگر وایې مریخ نحس اصغر دئ
په مزاج گرم او خوشک په شان د لمر دئ
کتاب وایي خوند یې تریخ اورنگ یې سور دئ
بوی ناخوښ یې په عالم کې مشهور دئ
د مریخ مزاج صغرا دال په لینگو دئ
او په تریخي او په غوښو او رگو دئ
په ناجوړیو کې یې داسې طور حال دئ
د منیو په لوېدو د حمل دال دئ

١٠٧

په پیدا د پرهارو کې دی ښاغلې
یا پیوست د اندامو وي درد مونډلی
هر علت چې د گرمۍ او د خشکۍ وي
او پیوسته تبه هم پیښه له دوی وي
او د وینو قی د سرو وینو دستونه
کوي دا ټول په مریخ دلالتونه
له حبوبو څخې داسي طور حال دی
په ترخو درختو ، بادامو ، ترخو دال دی
په سپلنو او په بانجانو او بل پیازدی
دملۍ ، هوږي او پیاز دغسي راز دی
له ادویه ؤ دده هغه خوښوونکی
چې وي هغه وابنه ، بوټی زهر لرونکی
او گرمي هم دومره قدر ور پکښې وي
چې تودې دڅلرمۍ درجې وي
له ځارو یو زمری ، پړانگ ، سپی او یا سپی ده
خوگ او مار ، افعی لړم او مچمچی ده
طبقاتو کښې پر هغو خلگو دال وي
چې دروغجن او چغلگر ، زاني ، قتال وی
یو نانیانو کښې مریخ یې خدای دجنگ ؤ
ددې ستوري سور دوینو غوندي رنگ ؤ
خوی خاصیت یې هم دجنگ په لوري سیخ ؤ
دوی بللی ځکه داستوری مریخ ؤ
رصد ځای څه چې مریخ لره کاته سي
دشکوکو دي پدې باندې خاته سی
د مریخ سمه هواره کښې فضا ده
د زهرې تر واله دا ډېره اولی ده
حرکت کښې کله مور ته نږدې کیږي
بیا په سپینه روڅ اکثره لیدل کیږي
او زهره چې په زمان دحرکت کښې
هر څه مور ته رانږدې په مسافت کښې

تاریک لوری یې زموږ په لوري کیږي
ځکه دا په هغه وخت نه لیده کیږي
د مریخ او مځکې ډېر موافقت دی
انسان هم ډېر په احوال مریخ خفت دی
په مریخ کښې دوې تپې واوری پیدا دي
شمالي او جنوبي قطب کښې دادي
د فصلونو په تغیر یې بدلېده وي
دیوې لویده دبلې ویلېده وي
د مریخ چې شمالي قطب سي لمر ته
دغه خوایې سي دلمر گرمې ته ورته
په هغه عصر یې دا واوره ویلیږي
اوبه رونې یې پر ځمکې معلومیږي
پدې وخت چې جنوبي لوري ته گوري
جنوبي قطب کښې سپیني واوري اوري
بیا چې سي جنوبي قطب خوا ولمر ته
او دا اړخ یې سي د لمر گرمی ته ورته
بیا داغ سپین د جنوبي لوري کمیږي
تپې ستري یې د واورو ویلې کیږي
په دې وخت چې دشمال په خوا کاته وي
واوري اوري او سپین ، سپین تاپي پراته وي
او عیناً دغسي حال دی که پام وکې
په شمال او جنوبي قطبو د مځکې
داسې نه ده چې مریخ لري دا واوره
باران هم لري که څوک سي خبرداره
لوی رودونه دریابونه هم پکښې دي
اهالیو دمریخ کښلې بیلې دي
له رودو یې دا بیلې دي خېژولې
او خطونه ، لاري سمې دي ایستلې
که چا فکر پراخ دراز کړی په دې وي
دا خطونه بې په اصل کې بیلې وي

او په هغه وخت چې دا بېلې سي وچې
بيا ښكارېږي نه ددغو بېلو خچې
او هلته ښې ليده سي دا نومورې
چې دقطب واوري لمر وي ويلې كړې
او لري دغه مريخ ښه وښووليه
په وښو كښې ويلې شي وي ځليدليه
كه د چاپوره له دغې كرې حال وي
اووه سوه ، ديارلس كم شپې به يې كال وي
كه پوره حساب څوك وكوي زما لاله
لوړه كم دغه دمځكې سي دوه كاله
په دغونده شپو كښې يو وار دا ښاغلى
په كره سره د لمر وى څرخېدلى
څوارلس كروړه ، اولس لكه څو اويا دى
دونده ميله پروت له لمره څه جلا دى
د مريخ قطر دميل له رويه دادى
څلور زره او يو سل او نه اتيا دى
گوا په كچه كښې نيم د مځكې دا دى
لوړه كم دوه سووه ميله پريالا دى
په تاله كښې بيا مريخ سپك دا رقم دى
دده من له درو چارياكو سره سم دى
پيش له دې وه علماء تېول ناخبره
خبر نه وه په مريخ كښې له قمره
د اتلس قرن په پاى كښې پېښه داده
دا خبره علماؤ ته پيدا ده
چې مريخ ددغه ژړ لمر مخ سپين كړى
دوې سپوږمى لري ، نور هغه روښى كړى
بت پرسته يونانى هيواد دغولي
دغه دوې سپوږمى ، هلكان دمريخ بولي
دا يوه يې په يو كم څلويښت ساعته
پر مريخ وي څرخېدلې له سرعته

او دا بله يې تر برق وي تېزه تللې
په اووه نيم ساعته وي پر څرخېدلې
نو ته روند سې اې ناپوه طبيبه ريخه
چې خبر نه يې تر اوسه له مريخه

د طبيب جواب منجم ته د سږي په اړه :

ورته وايي طبيب اې ناپوه تر پايه
عبث ګډ يې د مريخه ته بېځايه
ته د بام له دربيم ګله ناخبر يې
پر باغ واوره په مريخ به څه خبر يې
چې کړاى نسې ته له سږيه خبر سيخ
خبر څنګه سوې د واورو د مريخ
غوږ دې نيسه اى دعقل لخوا تږيه
چې خبر دى کړم له حاله دخپل سږيه
د نازکو غوښو جوړکى خالق سږى
په ذات خپل کې نه لري دحس هيڅ پړى
خو غشا قليل د حس ده پر راغلى
حکمت ده پر دغه سږي ګرځولې
پروت داسږى پخپل ځاى کښې پدى وړه دى
ځاى نيولى ده په ښى لوري دزړه دى
جلاسوى بيا په دوو قسمتو دادى
سره تللى بيا په کينه او ښى خوا دى
او ښى خوا دده بيا درې تقسيمه کيږي
کينه خوايې په دوه ښاخه جلا کيږي
دا پنځه سره ښاخونه په دې وړه دي
ګرځيدلي په ګردي صورت دزړه دي
او فايده ددې شريفي عضوي دا ده
په ترويح او پيک دده د زړه سړتيا ده
نوله سستي غوښي جوړکړ سږى ځکه
چې سستي ددوى کومک ورسره وکه

چې کومک یې سي په بنده او په خلاصه
نو به ښه راځي ترويح دده له لاسه
او فايده به د ترويح دغسې وينه
چې هوا صافه زړګي ته رسوينه
ګواکي داسې يو بوزي پدی وره دی
خاص دپاره دسږتيا دشريف زړه دی
او دوهم کوي خدمت د زړګي داسي
هوا ګرمه بخارات له زړه راباسي
له بخاره چې دقت زړګی کوينه
نو يې دا عضوه شريفه سړوينه
او پيدا يې کړه نلکه د سږي خلاصه
جوړه يې دا کړه له يوه غضروفه خاصه
نو به نه وي هيڅ حاجت يو آلت بل ته
چې دې جوړ کړي د دې غاړي خلاصول ته
جوړ يې کړه نلکه د سږي پراخه داسي
نو به سا ډېره يو بل ته ننباسي
په زمان لږ کي به داسي شان کوينه
هوا ډېره به زړګي ته رسوينه
او پيدا يې کړه دا سږي دې خوارۍ ته
محتاج يو واري خواري او بيا تنګۍ ته
په سبب داختلاف دوختو باندي
په زمان د رغېدو کښې لاندي باندي
چې سږی په ډېر کاوږ سره رغيږي
پدې حال کښې دغه سږی رالنډيږي
چې سوکه رغيږي بيا دغسې وينه
دغه سږی ښه پراخي سره کوينه
او جوړښت دسږي هم دتماشا ده
دا درې ربعې غضروفي نوره غشا ده
دغشا خوا کړه خدای لوري د سينې ته
خاص په حيث دنرموالي ورکړ دېته

دغضروف خوايې دباندې کړله ځکه
سبب دا ؤ دغه خوا وه يوځه کلکه
چې دا لوري يو څه تنګ په صورت زور واک ؤ
حملې کمې دخارج ته صبر ناک ؤ
او چې تېر تر غاړه دا نلکه يا نل سي
هوا صافه د سيني سره ورچل سي
بيانو کار ددې نلکې دلې او دورې
جلا کيږې دا په ښې او کيڼې لورې
وروسته هرقسم له دې اقسامو وراندې
تقسيمېږې په اقساموِ ، ګوښو باندې
په قرار باندې ددې اقسامو سپينو
په قسمو د وريدو او شرائينو
په سرو کښې د دغو قصباتو پرې
هوا يوسي شراينوته له سرې
نو پراخې دزړه پدغه هوا راسي
په بندښ کښې بخارات ورباندې باسي
او چې هرکله هغه هوا نومورې
چې دې سرې ده خپل ځانته جذب کړې
نې درلود صلاحيت کله دينداره
دسړتيا او خوشالتيا دزړه دپاره
مګر هلته چې هوا سي معتدله
اعتدال مونده کوي دا له تعطيله
معتدله چې هوا په دغه وره سي
موافقه بيا ورتګ له ره دزړه سي
نو پيدا کړه خداى قصبات پدغه غولې
دا قصبات دوى خزانه دهوا بولې
په قصباتو کښې هوا څه بندوينه
او جوهر دهوا دلته ځنډوينه
موافق په دى اعداد دزړه دپاره
صلاحيت دزړه له دې ځايه دى ياره

او مونـدیږي روح پـه دې ځـای مسـتانه کښـې
یـاجوهر چـې دکیلـوس وی پـه اینـه کښـې
وګـوره ددې کیلـوس دایـنې فـن تـه
صـلاحیت ورکـوي وینـي دبـدن تـه
دا هـوا چـې ورځـي زړه لـره بـاالفوره
تقسـمیږي پـه دی ځـای کښـي پـه دوه طـوره
یـو دښـئ لـوري دهلیـز لـره ورځینـه
هغـه بـل دهلیـز دکیـن لـوري وهینـه
کـه ورپـیښ دې یـوه لـوري تـه آفـت سـي
پـه دې بـل لـوري اداء دغـه خـدمت سـي
او خـدمت ددغـه سـږي پـه دې ور دی
تـرویح بـاد ورسـیدن حـد تـه دزړه دی
کـار قطـار ددې خـدمت یـې پـه دې وړه وي
چـې مضـر صـحت دنـور بـدن تـه نـه وي
زده لـه مـا کـړه دا د سـږي رګـئ سـیخه
لـه دې وروسـته بیـان مکـړه لـه مریخـه

طبیب ته د منجم د مشتري په اړه :
ای طبیبـه بایـد تـه حـق تـه تـن کښـېږدې
دا چتـې ویـل جنګونـه زیـاتي پریـږدې
عبـث چـورت کـړې پـه وښـو او ادویـاتو
نـه کـوې خیـال پـه تـاثیر دسـیاراتو
دغـه سـتا دبـې غـوري ثابـت اثـر دی
خبـر نـه یـې مشـتري سـعد اکبـر دی
سـیاره دمشـتري ده درګـې درګـې
لـه شـپږم آسـمانه مـوږ تـه وهـي سـترګي
مـذکر او نهـاري او شـمالي ده
ګرمتـر پـه درجـه اعتـدالي ده
او پـه ورځـو کښـې یـې ورځ د ۵ شـنبې ده
پـاچهي پـه دغـه ورځ ددې کـړې ده

رنـگ یـې سـپین خـو زرغونـوالی ورپکښـې دی
او ځـه کـم ژړوالــی هـم ښکـاره ددې دی
خبـر زه کـرم دثقـه کتـاب لـه رویـه
په خونـد خوږ او هـم پـه بـوی کښـې ده خـوش بویـه
اندامونـه یـې طبیعـي وینـه او نطفـه ده
حلـق ، ځګـر ،مـاغزه ، رحـم دایـې حصـه ده
پـه دانـو کـې یـې اوربشـی او غـنم دي
او کنځلـی ، وریجـی هـم دغـه رقـم دي
لـه اشـجارو ئـی انـار ، سـیب ، زردالـو دي
ځلـرم انځـر ، پـنځم یـی شـفتالو دي
ادویـه کښـې یـې پـر هغـو دلالـت وي
معتـدل چـي حـرارت او رطوبـت وي
لـه رنځـو ځخـه پـه هغـه دال یادیـږي
چـې نفـرت د طبعیـت نـه ځینـي کیـږي
دا پاړسـوب او یـا بـل رنـځ دده پـه طـور
چـې لـری نـه جنـد ؟ وجـود لـره ډیـر ځـور
او پـه مځکـه کښـې هـم ښـه ټـوټی روښـان دي
یـو یـی سـتر ملـک دبابـل ، بـل خراسـان دی
دوه کـم نـوی زره دهمـدی سـیارې قطـر
دوه کـم پنځوسـت کـروړه لـه ده ځـه لیـری لمـر
عبـارت لـه کـروړو زرو ځخـه میـل دی
پیـداکړی دومـره لـوی خـالق جلیـل دی
چـې هـر ځـو لیـری لـه مځکـي لمـر جلـي دی
پنځـه واره دغونـده لـه مشـتري دی
لکـه مځکـه چـې ښکـاره لمـر ځـه رقـم وي
مشـتري بـه پنځـه واري تـر دې کـم وي
پـه ورو سـتورو مـي لـوی صـورت بشـر دی
اتـه اتیـازره یـې پـه میـل بانـدی قطـر دی
لـوی دی دونـده نـه کـوم پـدي کـې غـوره
لـه دوولـس سـوو مزکـو سـي دا کـره جـوړه

که څه هم په وزن کم داسې رقم دی
په ثالثه کښې تر مادې د مځکې کم دی
خو له حیثه دلویوالی یې درندتیا ده
تر دروسوو مځکو دروند او ثقیل داده
پدې لوی صورت دا تیز او چټک ځغلي
په ثانیه کښې وي اته میله وهلي
که هر څو تېز او چټک وي زما لاله
وهي دی دوره دلمر په دوولس کاله
درې کلن دده زموږ شپږدیرش کلن سي
زموږ دشپږدیرشو دده بیا درې کلن سي
چې دلمره لیري دی له دی رقمه
نو رڼا دمشتري ده ډېره کمه
بیا پاک خدای دا په بل حیث ده روڼه کړې
دې کړې ته یې اووه سپوږمۍ ورکړې
او په دوی کښې سته داطور سپوږمۍ غوری
په صورت دعطارد دکړې ستری
دا سپوږمۍ څوک ورنژدې دی بادلیله
ځینې لیری دي یوولس لکه میله
ای طبیبه جاهل یې له لویه سره
چې ته یې له مشتري څه ناخبره
ای ناپوه طبیبه اي له عقل وړیه
خوشې بحث کوې له حاله دسره سړیه
چېرت داستا بند مداماً دصورت په حال وي
څه به سړی څه بې بحث څه به یې حال وي
ادویه ، اغذیه ، تولي دلې ، دوري
چې تعلق لري په دغه ستوري پوري
ناخبره چې یې ته له دې نوموړې
نو به ستا څخه مریض څه نفع وړې

منجم ته د طبیب جواب د زړه په اړه :

طبیب وایي ای ناپوه تن حق ته کښېږده
کار او بحث ددې مریخ ، مشتري پرېږده
ولې ته جاهل ، ناپوه پدغه وړه یې
ناخبر په شلم قرن له خپله زړه یې
فایده نه درته کوی داگای له سره
چې لري لوی مشتري اووه قمره
بحث یې مه کړه په تیزۍ او په سستۍ کښې
حال دزړه ته ، ته ټینگ اوسه په چستۍ کښې
که خبرسې څوک دپاک زړه له حالاتو
جوړ دی زړه له بیلو بیلو لیفاتو
دا اقسام دلیفاتو غوښې کلکې
او پکښې دي دغشا ټینگې څخکې
دغه زړه که هر څه ووړاوکه عالي وي
جوړ به دی په شکل صورت صنوبري وي
دې حالاتو ته دغور په صورت کسه
خدای ورکړي دي دې زړه له دوه نسه
هر چه نس د لوري ښی طرف ددې دی
برابر جوړ دی په حد کښې دسینې دی
دغه نس دده په وینو باندی خیږدی
په دې نس کښې وینه ډېره او روح لږ دی
یو وریبد له ایني زړه له ورځینه
پدغه کښې ځي دې زړه ته نری وینه
او تر ښی خوا پدی چپه خوا نس ستر دی
پیدا کړی داسې شان خالق اکبر دی
پیدا کړی خالق دی له دی رقمه
پدی نس کې روح ده ډېره وینه کمه
حکما چې له دغه ځایه رغیږي
دوه شریانه له همدې ځایه لتیږي

دغـــه يـــو شـــريان ، وريـــد او كـــار يـــې دادی
چـــی لـــه ســـرې ځنـــي جـذب ئـــې د هـــوا دی
او دابـــل شـــريان دی لـــوی او هـــم ډېـــر كښلـــی
شـــراينو ټولـــو اصـــل دی راغلـــی
ددی دوو نســـو دزړه دمـــنځ دغـــولي
دی يـــو غـــار خلـــگ يـــې لـــوښی دزړه بـــولي
او دلـــوښي هغـــه وينـــه نرموينـــه
چـــی دښـــئ خـــوا دزړه كـــيږ نـــس تـــه ورځينـــه
ځينـــي ځينـــي حكمـــا هـــوا دغـــولي
دغـــه غـــار دهليـــز دخـــوني دزړه بـــولي
د دوو خـــوا وُ د زړه دی ـ زړه د بيـــخ و خواتـــه
نـــژدې ځـــای د گډيـــدني د هـــوا تـــه
پـــدې ځـــای لـــرې زائيـــدي غـــوښي داســـي
چـــي زمـــان دبنديـــدو دزړگـــي راســـي
پـــه زمـــان كښـــې دبنـــدش بـــه ســـستيدن كـــړي
او پـــه وخـــت دغوړيـــدو كښـــې بـــه ځكيـــدن كـــړي
او دغـــه غـــوښي چـــي دي دده پـــر غـــولي
كتابونـــه يـــې غوړونـــه دزړه بـــولي
او چـــی زړه منبـــع دروح حيـــواني ده
خـــدای يـــې كـــړې داســـي شـــان نگهبـــاني ده
كښـــې يـــې ښود پـــه مـــنځ دصورت تابـــاني كښـــې
پـــه يـــوه خونـــه مضـــبوطه او خونـــدي كښـــې
چـــی يـــوې خـــواتې هـــډوكي تيـــنگ دمـــلا دي
پـــه اړخـــو يـــې د پښتـــی برخـــي جـــلا دي
دميـــان خـــواكي پيوســـته دســـينې دی
لاس ، حـــواس يـــې حفاظـــت تـــه درســـتې دی
او جـــوړ كـــړی چـــي دی دا ټټـــرنس داره
خـــاص ســـاتني تـــه ددي عضـــوي دپـــاره
او چـــی كـــار قطـــار دزړه پـــه دغـــه ووړه وُ
چـــی مهتاجـــه هـــر ســـاعت غـــذا تـــه زړه وُ

لکه نور صورت محتاج دی داسي ده ته
نو لازمه وه چي ورکړي غذا زړه ته
له ايني يې ورو سته لوی رګ نس يې ړد دی
نس دښی لوري ددې زړه ته ور ګډ دی
جام دزړه دغذا دی ورړ کوينه
نوره بيا په نور بدن کښې سره ځينه
شرائين رسوي وينه ټول صورت ته
تعجب دی د خالق دې لوی حکمت ته
دوهم داخبره سپينه ده له عاجه
د مضر شي حس ته ؤ زړګی محتاجه
نو پيدا کړئ ده ته خدای يو تار ښاغلی
په پرده دزړه دی دا راګرځيدلی
ددې تار دشنه کېدو که دی سراغ وي
شين به دغه تار له منځه ددماغ وي
دوو فايدو ته پيداکړی مدبر ده
ړمبنی فايده دده حس دمضر ده
نو چي څرنګه يې حس خبر له دې کړي
ورخبر زړه بيا قوه ددافعې کړي
يو دپورته کار په دغه تار کوينه
او دوهمه لو فايده بې دغه وينه
چي دا زړه قوت دروح نفساني دی
او ددې روح کار قطار د حيراني دی
د نفسي قوت کارونه دی پريشانه
ټول دباندي دي له صورته د انسانه
د غم کار او خوشالتيا او که هم ډار دی
او دغسی نور ټول شيان که داسی کار دی
د دغو لوړو افعالو سببونه
ټول له صورته دانسانه دي بيرونه
حواس کړي پيدا دباندي دا نومونړی
نويې وي فی الحاله نفس ته راوړی

نــــو وتلــــی نــــه وي زړه لــــه دې دووحالــــه
یــــا ســــي ډېــــر بانــــدی غمجــــن او یــــا خوشــــاله
یــــا خوشــــال او یــــا یــــواری پــــه کــــاوړ ســــي
رهــــې دی خــــوا دغلــــیم تــــه پــــه کــــوږ ســــی
نــــو لازم وُ دغــــه کــــار بــــې شــــي نشــــینه
ددمــــاغ او زړه یــــو تــــار وی تــــر مابینــــه
ځکــــه داتــــار لــــه دماغــــه زړه تــــه کــــش کــــي
بانــــدې ســــیخ یــــی دغــــه لــــوړ کــــار مشــــوش کــــي
چــــی فایــــده ددغــــه تــــار پدغــــه وړه ده
گرځــــولی یــــې پــــه تــــول صــــورت دزړه ده
نجــــومگره تــــه نــــاپوه پدغــــنــــه وړه یــــی
نــــاخبره لاتــــر اوســــه پــــه خپــــل زړه یــــې
خیــــال دي بنــــد دمشــــتري پــــه لویــــوالی
در ځــــه پاتــــه دخپــــل زړه احــــوال عــــالی
ســــعادت ، لــــویی یــــه ځــــه فایــــده کــــړي تاتــــه
خیــــال دي بنــــد کــــړه تــــه د خپــــل زړگــــي وخواتــــه

د منجم جواب طبیب ته د زحل یا کیوان په اړه :

ســــو بنکــــاره طبیبــــه ســــتا عقــــل قلیــــل دی
چــــی پــــوه نــــه یــــې بــــدبختیو ســــر زحــــل دی
کــــه پــــه لار د نیکبختــــانو ســــتا رفتــــار وي
بایــــد تــــا گوښــــه نیــــولی لــــه ده لار وي
نحــــس اکبــــر بــــه د زحــــل ســــتوري تــــر عــــاج وي
وچ پــــه حــــد کښــــې دافــــراط بــــه یــــې مــــزاج وي
طبیعــــت یــــې د آبــــي او دلیلــــي دی
د هفــــتې ورځ دزحــــل دبــــاچهي دی
ځینــــي وایــــي مــــذکر ځینــــی خنثــــی دی
خونــــد یــــې تریــــو او پــــه رنگ بانــــدي تــــک تــــور دادی
بلغــــم خــــام ســــودا لــــه ده ځــــه پیــــداکیږي
نــــور امــــراض بــــد بــــاطني ورځخــــه زیــــږي

ناجوړتیـــا ښخـــې راوړي کتـــاب داده
یـــو لـــه هغوښـــه نقـــرس بـــل استســـقا ده
بـــل سســـتي دانـــدامو پیـــدا کوینـــه
او بـــدن لـــره تـــور والـــی ورکوینـــه
لـــه ملکـــو ښخـــه یـــې هنـــد ، ســـیند ، زنګویـــار دی
بـــل عـــرب او دیمـــن ښکلـــی دیـــاردی
لـــه دانـــو یـــې مـــرچ ، بلـــوط ، او دریـــیم انـــار وي
قرنفـــل ، عـــدس ، کتـــان یـــی ددیـــار وي
او لـــه درختـــو یـــی بـــادام ، تـــریخ ، هریـــړه وي
مـــازو - جـــوز - او زیتـــون بـــه ورســـره وی
لـــه ادویـــه ؤ ، اغذیـــه ؤ یـــی هغـــه وی
چـــی خوشـــکی یـــی ښلرمـــه درجـــه وي
چـــی ورتیـــر دمشـــتری تـــر پـــراخ میـــدان ســـې
او پـــه لـــوری د اووم اســـمان روان ســـې
داووم اســـمان لـــه حـــد ښخـــه تیریـــږی
دغـــه ډاګ بیـــا دزحـــل پـــه نـــوم یادیـــږی
دزحـــل لـــه لمـــره ښـــومره انـــدازه ده
اتـــه اتیـــا کـــروړه او ښـــو میلـــی مســـافه ده
نـــه اویـــا زره ددی زحـــل قطـــر دی
نـــه نـــیم واره دســـپیرې مځکـــی پـــه قـــدر دی
نـــه نـــیم واره لـــو تـــر مځکـــی دا کـــره ده
پـــه دیـــرش کالـــه یـــی پـــر لمـــر بانـــدي دوره ده
د زحـــل دوه کلـــن زمـــوږ شـــپیته کلـــن دی
شـــپیته کلـــن بیـــا زمـــوږ هلتـــه دوه کلـــن دی
دکیـــوان یـــا زحـــل دغســـی ســـست کـــار دی
پـــه ثانیـــه کښـــی یـــی پنځـــه میلـــه رفتـــار دی
مســـافه چـــي لیـــري ده لـــه دې رقمـــه
نـــو روښـــا وه پـــه زحـــل کـــې ډېـــره کمـــه
تقاضـــا د حکمـــت دا چـــاري دي کـــړي
لـــس ســـپوږمۍ او درې حلقـــې یـــې دي ورکـــړي

نــو چــي دا يــې ده زحـــل لـــره ورکـــړي
کُـــره لـــو د ده يـــې ده پـــه رونـــه کـــړې
لمـــړۍ حلقـــه د دې کُـــرې چـــي ده شـــامله
رنـــګ يـــې تـــور ارغـــواني تـــه دی مايلـــه
د زحـــل تـــر کُـــره پورتـــه ده راغلـــې
ده نهـــه زره ميلـــه لـــوړه دا ښـــاغلې
حلقـــه دوهمـــه يـــې شـــفافه او رونـــه ده
اتـــه لـــنس زره ميلـــه دا لـــوړه پرتـــه ده
حلقـــه دريمـــه بـــولي و خـــاورو تـــه مايلـــه
مشـــابه د ځينـــو ښـــو لـــه زحلـــه
اووه زره ميلـــه ســـور د دې حلقـــې ده
د زحـــل کُـــرې تـــه دا ډېـــره نـــژدې ده
د لومـــړۍ څنـــډې ېـــې داســـي معاملـــه ده
پنځـــه ويشـــت ميلـــه د زحـــل صـــورت تـــه پرتـــه ده
اې طبيبـــه ! اې د جهـــل پـــه رنـــځ عليلـــه
تـــه خبـــر نـــه وې تـــر اوســـه لـــه زحلـــه
زيـــاتي واخلـــه لاس لـــه قلبـــه د انســـانه
بحـــث شـــروع کـــړه لـــه زحلـــه لـــه کيوانـــه
څـــه انســـان او څـــې مـــرض او څـــه يـــې زړه دی
د زحـــل کـــار خـــو دي وليـــد پـــدې وړه دی
پـــه ګـــردش کښـــې ســـتی داســـی ځينـــی کيـــږي
پـــه ديـــريش کالـــه پـــر لمـــر يـــواري څرخيـــږي

د طبيب جواب منجم ته د اينې په اړه :

ورتـــه وايـــي ای بدبختـــه نجـــومګره !
زحـــل پرېـــږده څـــان خبـــر کـــړه لـــه ځګـــره
د زحـــل کيـــوان لـــويي او ســـستي پرېـــږده !
اوس احـــوال تـــه د ځګـــر اينـــې غـــوږ کښېـــږده
څـــان خبـــر کـــړه داســـی شـــان دا ســـتا اينـــه ده
ده لـــه غوښـــو ، غـــوښې هـــم تـــر زړه لنـــده ده

پورتــــه کیــــږي روح طبعــــی د دې لـــــه غـــولی
لــــه اغضــــاؤ رئیســــه ؤ یــــی تــول بـــولی
جـــوړه ده لـــه غـــوښی سـری ضـد ده دســـپینو
دغــــه شــــان ده لـــه وریــــدو او شــــرائینو
او بــــی حســــه غوښــــه تولــــه دایــــنې ده
گرزولــــی بیــــا غشــــا دحــــس پــــدې ده
بــــی غشــــا یــــی صــورت لــه حــس څخـه خــالی دی
صــــورت ددی ایــــنې تــــه تــــور هلالــــی دی
پــــه تتــــر کښــــی پرتــــه دا پــــدي حــدودو ده
پــــه ښــــی لــــوری کښتــــه دا تــــر څــــو پوښتــــو ده
د پوښتــــو او د معــــدې تــــر مــــنځ پرتــــه ده
د پوښتــــو پــــه لــــوری لــــږ زره کــــږه ده
پــــه کــــوم لــــور یــــی ژور والــــی دایــــنې دی
ژوروالــــی یــــی پــــه لــــوری دمعــــدې دی
ژوروالــــی یــــی کــــاریز دی لتیــــدلی
بیــــا نــــو ، دی ، داطرافونــــو نــــس کښــــی تللــــی
ځنــــی ځنــــی لــــه دغــــو ښــــاخو ښــــاغلی
ژور ځــــای نــــه دمعــــدې کلمــــو تــــه تللــــی
او لــــدی کــــاریزه څــــه فایــــده ده دې تــــه
او هغــــه جــــذب د غــــذا کــــوی ایــــنې تــــه
درتــــه وبــــه کــــوم زه خبــــره ســــپینه
دا غــــذا بیــــا پــــه اینــــه کښــــی گــــرزی وینــــه
او پــــه اړخ ددی اینــــه کښــــی دی رگونــــه
او دوریــــد یــــی بانــــدی ایښــــی دی نومونــــه
دا رگونــــه داســــی شــــان خــــدمت کوینــــه
هــــر انــــدام تــــه گوښــــه وینــــه رســــوینه
د ایــــنې صــــورت یــــی کــــړ جــــوړ پــــه وینــــه څــــور
چــــې یــــې جــــوړ کــــړی د مســــتې وینــــی پــــه طــــور
حکمــــت دا پیــــدا پدغــــه صــــورت کــــړ ځکــــه
نــــو بــــه ښــــه حلــــول پــــدی کښــــی کیلــــوس وکــــه

که بیان کړم د اینی کمی او لواړی
دا به پاته وی بل نوی کتاب غواړی

123

د منجم جواب طبیب ته :

ورته وایی نجم گر ای بی خبره
مه رغیږه له اینی او له تېره
ولی هر رنځ چی اینی ته وي پیښ سوی
وی له دې ستورو آفت ورته جوړ سوی
نو چی ته سی ناخبر په حال دستوریو
څه فایده به یوسی ستاله دوا شوریو
طب بی زده کړی دنجمو بی فایدی دی
پدی کار خبر هر یو دعلاقی دی
نو طبیب به هم پدی خبر قایل وی
عطارد رنگ به شینوالی ته مایل وی
ولی ؟ ستا دجهالت په لوری گیړ دی
زهره ډیره ښایسته او رنگ ئی ژیړ دی
له مریخه چی ده جنگ او کړی زنگ دی
د دغه مریخ د وینو په شان رنگ دی
افلاک کتلی ندی ، که څوک هیئت کسی
له اجزاؤ سره څوارلس ته رسی
ښکاری دا د رصد خانی له کنج او لوریو
فلک اطلس بولی اکثر خلگ یی ستوریو
ثوابت دی په مثال لکه لوی غرونه
دوی به بولی گوښی گوښی اسمانونه
او ښکاره دی له هیئته دا جزونه
دغه هر اسمان لری دوولس برجونه

د طبیب جواب منجم ته :

طبیب وایی ودې وزه د زړگی روډی
ای غادره ستا خولوی صفت دی کوډی

دا دخـــدای اقـــوال چـــې تـــا دی بیـــا ن کـــړی
دا دی دی خپـــل غـــداری تـــه ســـند کـــړی
ســـتاله مینـــی دی ســـاړه زړونـــه دواوری
اچـــوی دخپـــل پـــردی ســـترگو تـــه خـــاوری
لـــه درواغـــو ځخـــه ډک تـــل دا ســـتا جیـــب وی
اینبـــی تـــا هـــر چاتـــه گـــوبنی گـــوبنی فریـــب وی
زیـــاتی پریـــږده تـــه خبـــری لـــه دې بابـــه
مـــه رغیـــږه لـــه تقـــویم او اســـطرلابه
ځـــوانی تـــا کـــړه پـــه عبثـــو کـــارو تېـــره
پـــه زړوالـــي کـــی دی وکـــړه تگـــی ډیـــره
صـــورت دی خونـــه ده تـــه داســـی یـــي بـــي حالـــه
تـــه خبـــر نـــه یـــي دبامـــه لـــه دیوالـــه
در ایســـتلي دي خپـــل جهـــل داســـي کســـي
پـــه اوږده پـــوره غـــټ تســـی دي حـــال نســـي
نـــه لـــری خیـــال پـــه خپـــل ځـــان بانـــدی لـــه ســـره
لـــه طبقـــاتو یـــې دســـترگو نـــاخبره
بیخبـــره دغـــوږو لـــه صـــفتو یـــې
او جاهـــل دخپلـــی ژبـــي پـــه پلـــو یـــی
ســـتاله دی ســـترگو لـــه وازگـــو جوړیـــدن دی
او لـــه دې حیثـــه د دې وازگـــو لیـــدن دی
د غـــوږو دی د هـــډوکو جوړیـــدن دی
ستا پـــه دې حیث لـــه هډو پلـــو څـــه اوریـــدن دی
ژبـــه ده ســـتا لـــه ســـرې غـــوبنی داســـی کـــار دی
لـــه دی غـــوبنی ســـتا خبـــری او گفتـــار دی
کـــه تـــا کـــړی فکـــر خیـــال پـــه خپـــل صـــورت وای
لـــه هـــر عضـــو بـــه دا ســـتا گـــوبنی عبـــرت وای
د انســـان نـــوع یـــو دغـــه گـــای صـــاف دی
پـــه صـــورتو او پـــه شـــکلو کـــی اخـــتلاف دی
او لـــری لـــوی فـــرق پـــه رغ ژونـــد اوپـــه رنـــگ کبنـــي
پـــه لـــوی والـــی پـــه کمـــوالی او پـــه تـــگ کبنـــي

یــاېي ړونــد او نــاخبر یــنې لــه حــالاتو
چــې انســان دی بهتــرین دمخلوقــاتو
پــه مخلــوق بانــدې رتبــه دانســان لــوده
علــت دی د پیــدایښت د آســمانو ده
اســمانونه مځکــه واړه داســې شــان دی
پیــدا ســوی ټــول لپــاره د انســان دی
واقــف دی دئ د اســرارو د لاهــو ت
خبــردار دی د رازو لــه ملکــوت
خلیفــه د ذوالجــلال دی ددې مځکــې
هــیڅ ســړی یــې طاقــت نــه لــري دورکــې
او طــب داســې مبــارک علــم ذی الشــان دئ
او صــحت ســبب لپــاره دانســان دئ
قــوت هغــه چــې خــدای صورت تــه وی ورکــړی
دغــه طــب دی هغــه ده لــره تــم کــړئ
او هغــه قــوت چــې غړنــدی ســی ویاســته
پــه عــلاج دطــب دی بیرتــه ورځــی لاس تــه
تاســې وکــوئ خیــال اې عــاقلانو!
او د دې مجلــس ســپین ږیــرو او ځوانــانو
زمــا زړه پــه دغــه لــوری بانــدې مــات دئ
بــې دینــې علــم پرنــورو علمــو زیــات دی
داســې ځنکــه بــولی راکــې رایــه کلکــه
لــه مــوږ کــوم یــوه نیــولی ده لار حقــه
بایــد تاســې دحــق خواتــه وکــړی هڅــه
دگــرم پــزه کــې ورپــرې پــه چــاره پخــه
کــه زه گــرم یــم خــاوری زمــا پــر لــوری پــوکئ
کــه دی گــرم وی نــو پــر مــخ بانــدې ورتــوکئ
نــو چــې وو دوی تــر دی ځایــه رســیدلی
اوس ســپن ږیــری او ځوانــان ټــول پوهیــدلي
خیــال ئــې واووښت لــه مــنجم څخــه طبیــب تــه
داســې و ویــل داغــه زاړه طبیــب تــه

مجلس ناری کړه مور پوه سوه زما دلبره
علم طب دی پر نجوم باندی بهتره
په دې گای د منجم مخ تور یا خړ سو
د بري بیرغ پرسر د طبیب لوړ سو
منجم چي وو په خپل بخت پوهیدلی
غلي ؤ له دې میدانه تښتیدلی
د طبیب بیدی په دغه وخت کی شکه
مجلس کړه ددوی په باب یوه چکچکه
پدې وخت کښي ما وکي پرس له حبیبه
له نامه او د هیواده د طبیبه
دوست مي وویل محمده داسي حال دی
مؤلف ددې کتاب لطیف الخیال دی
داسي شان به وکړي دغه قادر خدای
چي دوی دوه په یوه وخت کښي کړي یو ځای

پای

ويي بنود

شمیره	ويي	مانا
۱.	گای	ژمنه، وعده
۲.	بېدی	: پجَلْ
۳.	شَیَنْ	: بدي
۴.	کوټ	: اووه ځله جوش سوی فلز
۵.	پېرونه	: د څـو روښانـه سـتورو ټولـۍ چـي (۶) يې څرگندېږي.
۶.	وسستی	: چاودلی
۷.	حسبان	: شمېرنه
۸.	سکولی	: د وړيو او وېښتانو غچي کول.
۹.	نټه	: انکار
۱۰.	دغل	: ټگ
۱۱.	وچړه	: بلد، آشنا
۱۲.	ټیک	: جوړ، روغ، بشپړ
۱۳.	نشتر	: د وينو کښنو آله
۱۴.	کنډکپر	: ويران، ويجاړ
۱۵.	سخورې	: طبي بوټی
۱۶.	ټگي	: مکاري، چلبازي، دغلي
۱۷.	بډوکی	: پښتورگی
۱۸.	سنگيا	: موږک وژونکي زهر
۱۹.	جمال کوټه	: زهري توکي
۲۰.	جند	: اصل، اساس

۲۱.	اتر	: ښه ترا خبر
۲۲.	اردلی	: هغـه څـوک چـي د کـوم معتبـر سړي پـه چوپړ کـي د هغـه د تـگ پـر مهـال پـه مـخ یـا څـنگ کښـي ځي.
۲۳.	وځ	: ختهی (پلنډه)
۲۴.	تسی	: د ویـونکي د گـړدود لـه مخـي د تشي پر ځای کارول سوی دی.
۲۵.	پای دری	: چارچوب
۲۶.	انگبین	: شات، عسل
۲۷.	ژوی	: ساکښ
۲۸.	کندو	: د اوړو لپاره د خټو ځای
۲۹.	توتی	: کوچنی ټوکر
۳۰.	ډلی	: کوچنۍ ډله
۳۱.	درگي درگي	: د زړه درزی، د زړه تکان
۳۲.	زومنه	: ښوروا
۳۳.	هټ هټ	: غټه خندا
۳۴.	گنی	: شکرنی
۳۵.	غولی	: انگړ
۳۶.	سیخ	: نېغ، سیده
۳۷.	لېنگی	: د ځنگانـه او خپـړي تـر مـنځ د پښې برخه
۳۸.	خچي	: کرښه یا لیکه
۳۹.	پړی	: صورت
۴۰.	کسه	: گوره (د کتلو امر)

۴۱. کاوړ : خروښ
۴۲. کوَړ : لېوالتیا
۴۳. ګیړ : هڅه
۴۴. روږه : لو کولمه
۴۵. لوَړ : پنډ لرګی
۴۶. لځنه : خوشي او بېکاره
۴۷. داب : د ځرخ مابیني لرګی
۴۸. ګرد : دوړه
۴۹. هدر : کرکه، نفرت
۵۰. نتلی : خوار و زار، بېوزله
۵۱. وسلی : چولی
۵۲. زرلګي : ازغن بوټی
۵۳. خوړجن : خیرن
۵۴. لواړ : توله، ګرده
۵۵. کره : یوم، بېل
۵۶. برمنډ : لوڅ
۵۷. کوِ : د اوښ د ملا راوتلې برخه.
۵۸. ملَوْ : د پـروړو د بارېـدو لـويي کڅـوړي چي پر اوښانو بارېږي.
۵۹. بودلیان : لېونیان
۶۰. ځربې : چاغي
۶۱. مټه : هڅه، کوښښ، هاند
۶۲. ښکومی : خیر غوښتونکی
۶۳. تاړي : چکچکي
۶۴. پړک : لوړ

۶۵.	کړم	: پرې
۶۶.	روستاړ	: وروسته، آخرنی
۶۷.	پاستی	: ښپتهی
۶۸.	ویړ	: خپور
۶۹.	ستغ	: زمخت
۷۰.	رپاړي	: پینې یا ښیري جامې
۷۱.	گدلي	: پینه سوي جامې
۷۲.	کوړم	: د ولاړو اوبو ډنډ
۷۳.	واښي	: سپیني
۷۴.	ویاسته	: واښکی
۷۵.	کریچ	: یو ډول توره
۷۶.	گِچ	: بېهوښه

د محمدعیسی صاحبزاده څرګندوني

زما محمدعیسی صاحبزاده د مرحوم میر حیدر صاحبزاده د زوی عزم او تصمیم د هغې روځې څخه چې پلار مي له دې دنیا څخه دارالبقاء ته کوچ کړی دی دا و چې په جدیت سره د ده نوم د ده د آثارو په چاپېدو او خپرېدو سره ژوندی کړم. په دې لاره کي مي ډېره سعی وکړه او همېشه مي دا هیله وه چې هغه د چاپ په ګېڼه ښکلی کړم. خو بې غوریو او د اقتصاد کمزورتیا مي دا ارمان نه تر سره کاوه.

که څه هم په تیرو کلونو کښي زما د تلاښونو تر څنګ پوهاند علامه عبدالشکور رشاد هم په دې لاره کښي ډېر کوښښ وکړ او ډېرو مسئولینو ته یې سپارښتني وکړې خو د بده مرغه د میرحیدر صاحبزاده لیکني د چاپېدو څخه برخمني ونګرځېدې.

تر هغه وروسته زما هم صبر سو. څه وخت مي په دې ډول شپې او ورځې سبا کړې، د نن څخه تقریباً څه کم درې کاله دمخه مي واورېده چې په کندهار کي د اطلاعاتو او کلتور ریاست کارونه د کندهار د یوې ښې، لویې او درنې کورنۍ یوه ځوان دانشمند محترم عبدالمجید خان بابي ته ور دغاړي سوي دي.

نو مي تصمیم ونیوی چې د هغوی سره په دې اړه وګورم. یوه ورځ د همدې کار د سرته رسېدو لپاره د ارغنداو د جوی لاهور څخه د ښار پر لور ور رهي سوم هلته مي د اطلاعاتو او کلتور د

PROPERTY OF ACKU 12883

رياست پوښتنه وکړه او ورغلم. په يوه کوټه کښي د نورو مامورينو سره ناست وم، چي يو ګړی وروسته يو خوش اخلاقه او دروند شخص کوټې ته راننووت او د مامورينو د ولاړېدو سره يې د هغو هر يوه ته اظهار کاوه چي مهرباني وکړی مه ولاړېږئ، زما سره يې هم دا ډول روغبړ وکړ چي تا به ويل د عمرو تعلق يې راسره ؤ، د مهربانۍ ډک وضعيت يې راسره وکړ او په خبرو اترو او صحبت کښي يې په ډېر ادب د مطلب پوښتنه راڅخه وکړه چي حال مي ورته ووايه نو محترم بابي دا ډول ډاډ راکړ چي دا کار داسي وګڼه لکه سوی چي وي.

دوی د خپلو خوږو خبرو په ترڅ کښي راته وويل چي زموږ د مشرانو او ستاسو د والد صاحب تر منځ هم ډېر ګرم تعلقات وو هغه ته به بيا ژوند ورکوو، ما يې هم د مشرانو د ښه نوم او ښنان او لوړ حيثيت توصيف وکړ، او ژمنه مي ورکړه چي که تيرو شرايطو سره ليري کړي و، اوس به بيا يو د بل په حال ځانونه ښه خبروو، د ښه ګړي خبرو او چايو څښلو وروسته هغه مشوره راکړه چي لومړی به يې د مناظرو او لنډيو څخه راپيل کړو او د چاپ د کارونو د سرته رسېدو تر مخه که ستاسو خوښه وي دا کار به د ورځپاڼي څخه راپيل کړو هم به يې د صحيح او پر هغو د ليکني کار وسي هم به د خلکو نظرونه پر وليکل سي او هم به په آرامه حوصله سمدلاسه د هغو هر اړخيزه سمېده کامله سي.

ما ورسره ومنل او څو روځي بعد مي د دغي برخي ليکل سوي پاڼي ور وړې، او ښاغلي عبدالمجيد بابي لکه چي ژمنه يې کړې وه، هغه ته يې په مړانه ملا وتړل د سمېدو او

تصحیح د کارونو یې ډېرې ستړیاوي تحمل کړې، ډېر ژر یې په ورځپانه کښې زما د مرحوم پلار د لندیو او مناظرو سلسله په دوامداره توګه پیل کړه، او د دغه چاپ وروسته هغوی او زه په ګډه د دغو لیکنو دوهم وار کتني ته ډېر کښېناستو، ځو ټوله لیکنې مو د اصلي نسخو سره په کتنه د نظر ځخه تیرې کړې او وروسته مو دا دی په کتابي ډول د همدغه جناب رئیس صاحب اطلاعات و کلتور په مرسته سره راغونډې کړې.

تر دې وروسته چې د لیکنې صحیح شکل یې په لاس راغلی نو یې په ډېر شهامت د کتاب د چاپ لپاره ملا وتړل ډېر زحمتونه او ستړیاوي یې متحمل کړې ځو په دې لاره کښې یې هم مختلفې مراجع ولیدلې او خبره یې ورسره شریکه کړه.

ځو د چاپ لپاره یې هم امکانات راته مهیا کړه او دا دی د دوی د زحمت او مخلصانه تلاښ په نتیجه کښې دا کتاب د چاپ تر سرحده ورسېده، زه یې کور ودانی وایم. او ورته د لویه خدایه د اوږده ژوند او موفقیت غوښتنه کوم.

او د ده سره یو ځای له دې امله چې د ښاغلي عبدالمجید بابي تر لارښوونې لاندې ښاغلي مطیع الله روهیال هم د دې کتاب د کمپیوټر په کارونو کښې خپل تعاون نه دی سپمولی مننه ځینې کوم. لوی خدای ﷻ دې ورته اجرونه وکړي.

په احترام.



د پښتون فردوسي زوی محمد عیسی صاحبزاده